

Ketabton.com

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کتاب پېژندنه

||||||||||||||||||||||||||||||||||||||||||

د کتاب نوم ::: د سپوږمۍ سترګه

لیکوال ::: اکبر بری

خپرندوی ::: په خپله لیکوال

چاپچاري ::: بېنوا فرهنګي ټولنه

چاپکال ::: 1383ل/ 2004م کال

چاپشمېر ::: (1000) ټوکه

چاپځی ::: یونایټېډ پرېس- کوټه

د پښتۍ انځور ::: لېمه ښاروان

کمپیوټر چاري ::: د هوسۍ مجلې اداره

کمپوز/ ډیزاین :: صالح محمد صالح

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سګرټ پلورونکی

د فلم پیل ته لا ښه وخت پاتې و، چې سګرټ پلورونکی سینما ته راورسېد. د سینما مخ زیچ له خلکو ډك و. زښته ډېر خلك: نر، ښځې، زاړه، ځوانان، لکه ټول ښار چې د فلم لیدو ته راغلي وي. ان د سینما له مخې پر لړ رادېخوا میدان لا ډلې ډلې خلك ولاړ وو .

سګرټ پلورونکي خبرو چې فلم نوی لګول شوی، ده ته دا هم ورمالومه وه، چې پر هر نوي فلم د خلکو ډېره ګڼه ګوڼه وي او د دې فلم خوږې سندرې خو ده خپله هم له څو میاشتو راهیسې د ښار له نژدې هر رستورانه اورېدلې وې. خو د دومره ډېرو خلکو د ورته راتلو ګومان یې بیا هم نه شو کولای. ناباوره یې له ځان سره وویل: ".. دومره ډېر خلك؟ په دې ساړه ژمي کې؟..." او خوږې هیلې یې په زړه کې راوټوکېدې. ده فکر وکړ چې په دومره ډېرو خلکو کې به ضرور ښه ډېر سګرټ وپلورلای شي. له خپل فکره یې خوند واخیست. خوشاله یې د سینما دواړو غاړو ته د ټکټ پلورلو غرفو ته وروکتل. دلته خو بیا بېخي بد حال جوړ و، خلك د مچیو د ځالې غونډې یو د بل پر اوږو ورختل او په نه درېدونکي شورماشور او ټېل ماټېل کې یې همدا هڅه کوله، چې کوم ټکټ ترلاسه کړي. د سینما مخې ته پر لړ رادېخوا میدان هم ټکټونه خرڅېدل. خو هغه د تور بازار په بیه وو، چې د اصلي بیې څلور پنځه چنده پیسې پرې اخیستل کېدې او دا بیه پرې کول د هر چا د وسې کار نه و. سره له دې د ټکټونو تور بازار هم خدای شته ښه تود و .

سګرټ پلورونکی دغسې پر خپل ځای ولاړ و، څو شېبې یې په تعجب او خوشاله زړه د سینما مخې ته ګڼه ګوڼه وڅارله. بیا یې خپل واړه خیرن لاسونه خولې ته ونیول، څو ځله یې ساه پرې وروکښه، چې نرۍ ګوتې یې لږ سره تودې غوندې شوې، د زړې کورتۍ جېب ته یې لاس ننویست. یو د سګرټو تیار خلاص کړی ډبلی یې ترې راوایست. د ډبلي خوله یې پرانیستله، یو دوه سګرټه یې نیمايي په ډبلي کې نیمايي دباندې ترې راوایستل او بیا نو مخامخ د خلکو په ګڼه ګوڼه ورګډ شو.

هرځای چې د خلکو ډله په مخه ورتله، ورته وبه درېد، سګرټ به یې مخې ته ورته ونیول، په نري ماشومانه ږغ به یې وویل:

ــسګرټ، سګرټ... دغه دی تازه سګرټ، پیلتر (فلتر) داره سګرټ، مزه دار سګرټ.

که به یې کومه دانه سګرټ وپلورل، خوشاله به یې پیسې له سګرټ پېرونکي څخه واخیستې، د کورتۍ په بغل جېب کې به یې واچولې، بېرته به وخوځېد، د خلکو بلې ډلې ته به ترې ورغی، بیا به یې نارې کړې:

ــسګرېټ، سګرېټ... دغه دي تازه سګرېټ... پیلترداره سګرېټ، مزه داره سګرېټ... واخلئ سګرېټ...

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



سگرټ پلورونکی همداسې د ولاړو خلکو له یوې ډلې څه بلې ته ورته، هرځای یې د سګرټو د خرڅلاو هڅه کوله او چې فلم پیلېده، نو اټکل یې رښتیا هم سم ختلی و. ښایسته ډېر سگرټ یې پلورلي وو. هاغه لومړی خلاص ډبلی ټول خرڅ شوی و. د دویم ډبلي سگرټ یې هم تر نیمایي زیات پلورلي وو. سگرټ پلورونکي له دې امله خوشاله و، خو یوڅه سترړی شوی هم و او لنډه نرۍ پزه یې سړو تکه سره وراړولې وه. چې خلك سینما ته ننوتل، دی هم د سینما دالان ته ورغی. زړه یې و چې هلته لومړی ځان یوڅه تود کړي. بیا به د ورپاتې سګرټو د پلورلو فکر هم وکړي. د سینما دالان ښه تود و. اوس دومره خلك نه وو پکې. فلم څو شېبې مخکې پیل شوی و. ړغ یې دلته هم ښه هوسا اورېدل کېده .

سگرټ پلورونکی د دالان په یوه گوښه گوټ کې ودرېد. دواړه لاسونه یې په تخرگونو کې ونیول، چې له سړو کرختې گوتې یې تودې شي. د دالان تودوخې یې نور بدن هم ورو ورو غوړاوه. اوس یې ژامه دومره نه رېږدېدله. ده له دې تودوخې خوند اخیست. خوشاله یې لړ بړوتې راوتلې سترگې د سینما په دالان کې وغړولې. دالان ټول د پخوانیو او نویو راتلونکو فلمونو له پوسترونو ډك و. راز راز لوی اواړه پوسترونه. په هر یوه کې د یوه بېل فلم کیسه. په هر یوه کې د یوې بېلې صحنې انځور .

دلته چا یوه ښایسته نجلۍ په غېږ کې نیولې وه، په مینه وړو سترگو یې یو بل ته سره کتل. هلته د چا غښتلي ځوان ماشینگڼ په لاس کې مخامخ یې پر ورته ولاړو کسانو برید وروور او تر دغو ورهوري بیا د فلم یو "هلك" په زنځیرونو ترلی څو نیزه لرونکو کسانو خدازده کومې خوا ته کشاوه. سگرټ پلورونکی همداسې له یوه پوستره بل ته ورکتل. هر یوه ته به لنډه شېبه ځیر شو، بیا به یې آبل پوستر ته سترگې ترې واړولې. خو په یوه پوستر کې یې سترگې ښخې پاتې شوې، په دې پوستر کې هم ژمی و. مځکه تکو سپینو واورو پوښلې وه. ان د ونو پر څانگو لا دومره واوره پنډ وه، چې ځینې یې لاندې راکږې کړې وې او د پوستر په منځ کې د فلم "هلك" او "نجلۍ" یو بل د واورو په غونډارو سره ویشتل. دواړه خوشاله وو. د دواړو خولې په خندا خلاصې وې او دواړو ښه تاوده کالي اغوستي وو. هم د فلم هلك، هم د فلم نجلۍ ښه پنډ بالاپوښونه په ځان او نوي نزي موزې یې په پښو وې. د فلم نجلۍ خو آن یو ښکلی مفلر لا له غاړې راتاو کړی و، د هغوی دې تودو جامو ته د سگرټ پلورونکي زړه هوس وکړ. ځان ته یې وویل چې کاشکې ده هم داسې پنډ بالاپوښ او تودې موزې درلودای. بیا خو به یې نه سړو داسې هډونه ورکرختول او نه د ژمي ختې چیکړې، د زړو بوټونو له سوریو پښو ته ورتلې، بیا خو به یې ضرور ښه ډېر سگرټ پلورلای شوای او ښې ډېرې پیسې به یې گټلې. دومره ډېرې چې ان خپلې مور او کشر ورور ته به یې لا بالاپوښونه او موزې پرې اخیستي وای .

له دې سره یې خپله کورنۍ سترگو ته ودرېده. څه باندې یو کال مخکې یې پلار مړ شوی و. له هغې ورځې راهیسې د کور ټول بار د ده د مور او ده پر اوږو لوېدلی و. خو دوی همت نه و بایللی، چې د پلار له ښخولو او ماتمه راخلاص شول، لستوڼي یې رابډوهل، په کلکه یې د ژوند بار ته اوږه ورکړه. مور یې د خلکو کالي مینځل پیل کړل او ده څو

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



اونۍ وروسته همدا سگرټ پلورل، دی هره ورځ ښار ته راته. هلته یې پر دوی له یوه مهربان دوکانداره د سگرټو څو ډبلیه اخیستل، هغه یې په دانه یي ډول پر خلکو پلورل. په دانه یي ډول د سگرټو د خرڅلاو او پر یوه ځای د بشپړ ډبلي د خرڅولو د بیې ترمنځ یو څه توپیر و او همدا د بیو د توپیر چې څه پیسې کېدې هغه د سگرټ پلورونکي گټه خته .

سگرټ پلورونکی به له همدې امله هره ورځ تر مازدیگره د ښار گوټ- گوټ د سگگرټ پلورلو په هیله تر پښو لاندې کړ. مازدیگر چې به کور ته د تلو وخت شو، سگرټ پلورونکی به لومړی دوکاندار ته ورغی. هغه ته به یې ورپاتې سگرټ او د پلورل شویو سگرټو پیسې ورکړې او چې کومې پیسې به ده ته پاتې شوې، هغه به یې مخامخ کور ته ورسره یووړې. په دا بله ورځ به همدا وضعیت بېرته له سره پیل شو .

دا، د کور په خرڅ کې د ده ونډه وه. که څه هم اکثره وخت دومره لویه ونډه نه وه، په تېره بیا په هغو ورځو کې چې مور یې هم کار کاوه. خو اوس چې یې مور له یوې اونۍ راهیسې په کور کې ناروغه ورته پرته وه، د ټول کور خرڅ باید له همدې پیسو پوره شوي وای. اوس یې هم د مور، هم د کشر ورور سترگې یوازې ده ته وراوښتې او دې کار د ده پر اوږو بار لاوردرناوه. همدغه نن سهار وریاد شو. مور یې سخته ټوخېده، ورور یې ښار ته له تلو مخکې ورته ویلي وو:

ــچې بازال ته لالې، لږ خو زی هم دل سله لاوله. (چې بازار ته لاړې، لږ خوږې هم درسره راوړه).

پر ده د هغه دا خبره دومره ښه نه وه لگېدلې. مور یې خدازده ولې ورور داسې په خوږو ورته اموخته کړی و، چې اوس یې له ده څخه هم خوږې غوښتې. سره له دې یې منت نه و ورباندې کړی. مازې یې ورته "ښه" کړې وه. بې له دې چې خپله یې هم د خپلې ژمنې پوره کېدل زړه ته لوېدلي وي. خو اوس چې یې د خپلې نن ورځې سودا ته کتل. دا هیله ورکې راولټېده چې ښایي نن د خپل ورور غوښتنه هم ترسره کړای شي. نن یې کار و بار ښه و، تر اوسه لا مازدیگر ته ښایسته وخت پاتې و او ده، دا و ښه ډېر سگرټ پلورلي وو، دې فکر د رضایت او غرور خوندور احساس ورکې وځغلاوه. سگرټ پلورونکی په همدې چورتونو کې ډوب و، چې یوه برزن بږغ یې د فکرونو لړۍ وشلوله:

ــدلته چې شی (څه شی) کیې (کوې)؟

سگرټ پلورونکي وارخطا د سینما کارکوونکي ته وکتل، چې نابېره یې مخې ته شین شوی و. تلولی یې ورغبرگه کړه:

ــهېڅ.

او چې د هغه سترگې یې بیا هم دغسې نېغې ورکتونکې ولیدې، پرې ورزیاته یې کړه:

ــمازې لږ ځان تودوم، بېرته ځم... دباندې ډېر ساده دي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د سینما کارکوونکي په ملنډو وویل:

ـځان تودوې؟... دا څه حمام دی، چې ځان پکې تودوې؟ څه ووزه!... لنډه غره.

سګرټ پلورونکي ته د کارکوونکي وروستی لوز خوند ورنه کړ. خو څه یې ونه ویل، د سر په خوځولو یې ورته "ښه" کړه. دغسې غلی د سینما له دالانه ووت .

دباندې هوا هماغسې سړه وه. خو سګرټ پلورونکی اوس ښایسته ډېر تود شوی و. له ځان سره یې فکر وکړ، چې د فلم د تفریح تر وخته په ښار کې څه سګرټ وپلوري. بیا چې د فلم د تفریح وخت شي، بېرته سینما ته راشي. په همدې نیت مخامخ د سینما اړخ ته پر دوکانونو وررهي شو. هلته یې هم هرځای چې پر خلکو ورپېښېده، د سګرټو ډبلی مخې ته ورته نیوه، هماغه هر وختنۍ خبر یې ورته تکراروله:

ـسګرېټ، سګرېټ... دغه دي تازه سګرېټ... پیلترداره سګرېټ... مزه داره سګرېټ... واخلئ تازه سګرېټ....

سګرټ پلورونکی ښایسته ډېر په ښکار کې وګرځېده، چې د فلم د تفریح وخت یې رارسېدونکی وګاڼه، راتاو شو، بېرته یې د سینما لار په مخ کې واچوله، هغه اوس لا خوشاله و. بخت یې رښتیا هم نن یاري ورسره وکړې وه. د سګرټو دویم ډبلی یې غونډ پلورلی و. له درېیم ډبلي څخه یې لا څو دانې پلورلي وو، د دې ډبلي ټولې پیسې د ده برخه کېدې. دې فکر یې نرۍ موسکا پر شونډو وغوړوله. ځان ته یې وویل د فلم د تفریح پر وخت به دغه پاتې سګرټ هم په منډه وپلوري، بیا به نو کاله ته له خیره ځي. یو ځل خو یې خدازده ولې زړه ته دا هم ورتېره شوه، چې کاشکې یې نن لږ څه ډېر سګرټ ورسره رااخیستي وای. په داسې ښه ورځ یې ښایي هغه هم پلورلي وای. خو بېرته یې ځان په دې قانع کړ، چې همدا پیسې یې هم تر تېرو ورځو ښې دي. دی اوس ډاډه و چې ښایي نن ورور ته څه خوږې وپېرلای شي. ګامونه یې لا پسې چابك کړل. په لار کې یې په احتیاط ګامونه اخیستل. هرځای چې څه ختې چیکړې په مخه ورتلې لار یې ترې چپوله. سره له دې یې پښې بیا هم لندې شوې وې، خو ده اوس دومره ری نه په کې واهه .

دغسې د سګرټو ډبلی په لاس کې ګړندی او راضي وړاندې ته. چې د سینما مخې ته تېرېدونکي سړك ته ورتاو شو، غاړه یې لږ اوږده کړه، په ځیر یې مخامخ وکتل. هلته لیرې یې سینما تر سترګو شوه. تر اوسه لا د خلکو ګڼه ګوڼه نه پرې مالومېده. خوشاله یې ځان ته وویل: "څه شکر، لکه چې ښه وخت ورته راورسېدم" او پرې وررهي شو. په همدې وخت کې یې له څنګ ته خامه سړکه یوه موټر ته پام شو چې د ده پر لوري پاخه سړك ته رادرومي. موټر نور هم وړاندې راغی. سګرټ پلورونکی د سړك څنډې ته پر خپل ځای ودرېد. فکر یې وکړ هسې نه چې موټر یې څنګ ته د تېرېدو پر وخت د سړك اوبلنې چیکړې جامو ته وروشیندې ځکه یې ښه وګڼله چې لومړی موټر پاخه سړك ته ورننوتو ته پرېږدي، بیا به د سړك ابلې غاړې ته ورواوړي. خو موټر لا پاخه سړك ته نه و رارسېدلی، چې هلته پنځه شپږ ګامه وړاندې پر هماغه خامه سړك ورته ودرېد. سګرټ پلورونکی لږ حیران غوندې شو. ګونځې ټنډه یې په ځیر

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



موټر ته وروکتل. ښایستوکی تك سور موټر و. د مخ په سیټ کې دوه همدا شل پنځه ویشت کلن ځوانان ناست وو. د شا سیټ یې هم ډك مالومېده. سګرټ پلورونکي همداسې دوی ته ورکتل، چې موټرچلوونکي د لاس په اشاره ځان ته وروغوښت. سګرټ پلورونکي شا و خوا وکتل، هسې نه چې بل چا ته یې اشاره کړې وي. خو چې موټرچلوونکي بیا لاس ورته وښوراوه، دی هم نور ماتل نه شو. په بیړه د موټر خوا ته ورغی، د موټرچلوونکي کړکۍ ته ودرېد. موټر چلوونکي کړکۍ خلاصه کړه. ده دننه موټر ته وروکتل. د شا په سیټ کې هم درې تنه ناست وو. ټول همدا د موټرچلوونکي په منګ. ټولو سرې ځلنده سترګې دغسې جینګه خوله ده ته ورکتل .

موټر چلوونکي وپوښتل:

ــنوم دې چګې شی دی؟

ده وویل:

ــسیپودین (سیف الدین).

موټر چلوونکي تکرار کړه:

ــسیپودین؟

او له دې سره ټولو په کړس وخندل. سګرټ پلورونکی د دوی د خندا په مطلب پوه نه شو. په تعجب یې زړه ته ورتېره شوه چې په دې کې نو د خندا څه خبره ده، خو څه یې ګونه ویل. دغسې پر خپل ځای ولاړ یې دوی ته ورکتل. موټرچلوونکي بیا ده ته مخ ورواړاوه. سر تر پایه یې له نظره تېر کړ، پسې وې پوښتل:

ــڅو کلن یې؟

ــلس کلن.

موټرچلوونکي بیا تکرار کړه:

ــلس کلن؟

او بې له دې چې د ده ځواب ته ماتل شي، پرې ورزیاته یې کړه:

ــبیا خو نو غټ سړی یې... واده دې کړی؟

دا وخت بیا د ټولو خندا کړس وهل. داسې په تاو یې ورباندې وخندل چې له زوره یې د یو دوو تنو په سترګو کې اوښکې راټولې شوې. سګرټ پلورونکی پوه شو چې دا خلك خوشې ملنډې ورباندې وهي. نور یې دلته خپل پاتې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



کېدل بې ګټې وګڼل. د بېرته ترې تلو تابیا یې وکړه. خو دی لا نه و ترې خوځېدلی، چې موټرچلوونکي یې د سګرټو ډبلي ته وکتل:

_په دې سګریټو څه کیې؟

_خرخوم یې.

د موټر د شا له سیټه یوه ټنډمخي ځوان په مانادراه لهجه ورغبرګه کړه:

_ښه؟... ماسکه ویلي خپله یې څکوې.

او له ورسره ناست ځوان سره یې په کټکي وربانديې وخندل. سګرټ پلورونکی تریو هغوی ته ورو‌کتل. د هغوی دا هر واري خندلو خلق ورتنګ کړی و. له ځان سره یې بې اختیاره وویل چې په دې خلکو خدازده څه شوي، چې هسې په خوښي او بېځایه خبرو خاندي. په همدې وخت کې یې موټرچلوونکي د فکرونو لړۍ پرې کړه:

_نو بیا ولې داسې نېغ راته ولاړ یې. راکه یو کوتی (قوطي) سګرټ چې ورځ مو همدلته تېره شوه .

سګرټ پلورونکي هغه ته مخ ورواړاوه، حیران یې وویل:

_یو کوتی؟

چې هغه وویل :

_هو کنه.

سرګردانه یې پرې ورزیاته کړه:

_یو پوره کوتی خو نه لرم .

دې ځواب موټر چلوونکي ته خوند ورنه کړ. بې حوصلې یې وویل:

_نو څومره سګرېټ لرې؟

ده د سګرټو خلاص ډبلی ورته ونیو:

_مازې دغه.

موټر چلوونکي ناراضه سترګې سره تاو راتاو کړې. بیا یې قارجن غوندې ده ته وروکتل، ویې ویل:

_راکه همدغه.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



سگرټ پلورونکی وروړاندې شو. د سگرټو ډبلی یې لومړی د موټر چلوونکي بیا د آنورو مخې ته ونیو. له دې سره یې د هغوی له خولو څخه د سرکې غوندې یو تېز بوی هم تر سوږمو شو. پر سگرټ پلورونکي دا بوی ښه ونه لګېد، چې هغوی هر یوه یو یو دانه سگرټ ترې واخیست، ده هم تریو تندی ځان ژر بېرته د دوی له خولو څخه رالیرې کړ. ټولو سگرټونه ولګول. موټرچلوونکي ښه غټ کش له سگرټو وکړ، په څنګ یې ده ته وروکتل. په داسې حال کې چې د دود لوخړه یې پرمخ ورپو کوله، وې ویل:

څه داسې رډ رډ راګورې؟

سگرټ پلورونکي وویل:

ــپیسې!

او چې موټرچلوونکي وپوښتل:

ــد څه شي پیسې؟

د سگرټ پلورونکي زړه "شړق" ورته ولوېد. حیران یې له ځان سره یې وویل څنګه د څه شي پیسې، وارخطا یې لاړې تېرې کړې ورغبرګه یې کړه:

ــد سگرېټو پیسې.

موټرچلوونکي په کش داره لهجه تکرار کړه:

ــد سیګ... ری... ټو.. پیسې؟!

او مانادار یې خپلو انډیوالانو ته وکتل. هغوی هم مانادار موسکا په شونډو یو بل ته سره وکتل. څنګ ته ناست ځوان یې وویل:

ــرښتیا وایې کنه.. ورکه پیسې.

ده په نرمه هغه ته "ښه" کړه، ده ته یې وویل:

ــراشه!

سگرټ پلورونکي د پیسو په تمه وروړاندې شو. خو موټرچلوونکي نابېره له جاغور راونیو، په زوره یې ځان ته راکش کړ. بیا یې په داسې حال کې چې تېرې سترګې د هغه ډارېدلو سترګو ته نیولې وې، وویل:

ــواخله!

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



او په تاو يې ببرته له ځانه پورې واهه. سګرټ پلورونکى شا په تخته د سړك په ختېو كې ولوېد. يوه سوي درد يې په ملا كې څړيكه كړه. په ختېو لوند خيشت پړنګ په ژړا شو. د هغه د ژړا سوى ږغ د دوى د خندا له كړس سره په سړه هوا كې خپور شو. خو په شدت د موټر د خوځېدلو غرهار دا دواړه ږغونه په ځان كې ومروړل.

28/2/1358هـ ل كال

كابل- افغانستان

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## نه راستنېدونکی مدن لال

د ډاکټر مدن لال ټوکې په ټول روغتون کې مشهورې وې. د داخله ناروغيو په برخه کې خو بيا داسې څوك نه و، چې د ډاکټر مدن لال نوم ورواخلې او د ده خوله ځای په ځای پرې ويره نه شي. چې هر چا ته به دې يې نوم ورواخيست، موسکی شونډې به يې سر درته وڅانېده، له لنډې خندا سره به يې وويل:

ــخوشې ريشخند د خدای دی .

او دا خبره بېخي پرځای وه. بس سهار چې به په روغتون راننووت، بيا به نو تر مازديگره پورې دی و، ټوکې ټکالې به وې او په هر چا او هر شي پورې ملنډې او "ريشخند بازۍ" به وې. عجيبه يې لا دا چې هغه ته خدای څېره هم دغسې ريشخند غونډې يو شی ورکړې وه: بې ډوله غټ پړسېدلی مخ، چې له لنډو وروځو پرته به يې ټول پاك خريلی و او مدام به د کوم مستري يا قصاب د مخ غونډې تور غړيچن برېښېده. په دې مخ کې يې بيا د کونگري غونډې توري گردۍ سترگې، لنډه، خو پراخه پزه، نری سنت او اوږده لړ سره ليري غاښونه، چې د پاسنۍ شونډې د لنډوالي له امله به تل د باندې راوتلې وو، داسې ښکارېدل چې تا به ويلي خوشې پېښې درته کوي. سر يې تر څگټه پورې پاك سخر و، چې د لنډې غاړې له امله يې امانت په اوږو سپور مالومېده او ان له ليرې به د يوې غټې تناکې په شان روڼ ځلېده. ونه يې ټيټه وه، پښې يې هم نرۍ او لنډې وې. خو په همدې پښو يې بيا داسې يوه غټه خېټه وربار وه چې سړی به حيران ورته پاتې شو چې څنگه يې لا وړای شي. ښايي له همدې امله داسې واز واز پر لارې ته، لکه غولنگونه چې يې شوړېدلي وي او د هر گام په اخيستو يې زخمونه ورته سوځي.

په دې قد او قواره که ډاکټر مدن لال په ښار کې په مخه درغلی وای، د بل هر چا گومان به دې پرې کړی و، نه د کوم ډاکټر. خو دلته په روغتون کې يې، نه يوازې دا چې په ډاکټرتوب کې چا شك نه شو کولای، بلکې ټول په دې قانع هم وو، چې هغه په خپل کار پوه او تکړه ډاکټر دی. له همدې امله هم ناروغانو او هم همکارانو د يو ډول احترام په سترگه ورته کتل. ده هم نور، تر خپلې وسې پورې د هر چا خيال ساته. خو يوازې د ټوکې په وخت به خبره نوره شوه. په دې برخه کې يې په هېچا او هېڅ شي کې ری نه واهه. سره له دې چې ځينې وخت به يې ټوکې لړ "بې سُره" غونډې شوې، خو بيا به يې هم چې پر هرچا ټوکه وربرابره شوه، بې پروا او نېغ په نېغه به يې پرې وکړه .

يوه ورځ د داخله ناروغيو ډاکټران، ټول د سر طبيب په کوټه کې مجلس ته راټول وو، مجلس، د هر وخت په شان د روغتون د کار په بهير پيل شو او په دې برخه کې د ستونزو او د هغوی د ليرې کولو په وړانديزونو وړاندې لاړ. او په پای کې يې هم سرطبيب په هره برخه کې خپلې لازمې لارښوونې او مشورې ورکړې. چې مجلس خلاص شو، سرطبيب په خپل لگښت راغوښتی کوکاکولا پر ټولو ووېشله او په دې ډول يې خبر له "رسمياتو" څخه "شخصياتو" ته کړه، داکټران هم خوشاله پر ځای ناست پاتې شول او د کولا بوتلونه په لاس يې ورو ورو له يو بل سره خپلې مرکې پيل کړې. خدازده څومره وخت تېر و، چې سرطبيب موسکی شونډې مدن لال ته وروکتل، وې ويل:

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـډاکټر صېب؟

ـصیب.

چې ټول چپ شول، سرطبیب غلی دوی ته سترګه ووهله، وړاندې لاړ:

ـپه دې یوه شي هېڅکله پوه نه شوم .

مدن لال، په داسې حال کې چې سترګې يې هماغسې د کولا بوتل ته نیولې وې، وپوښتل:

ـپه څه شي صېب؟

او سرطبیب ویره خوله پسې زیاته کړه:

ـویم ته ګوره... دا زه چې هرڅومره وریجې غوښې خورم. هرڅومره غوړې ښورواوې ورته وهم، بیا مې هم نس وچ کلك راپورې نښتی دی.. او ته له دال او چپاتۍ پرته بل شی خورې هم نه. خو چې خېټې ته دې ګورم... د میندوارې ښځې غوندې، نام خدا ورځ په ورځ بړو ته پسې راوزي... چې په دې کې يې لا څه حکمت دی؟

ډاکټر مدن لال مضر غوندې وموسل، وې ویل:

ـحکمت خو يې ډېر ساده دی صېب.

او چې سرطبیب وویل:

ـوایه کنه، چې موږ هم پوه شو .

ده هم ځای په ځای ورغبرګه کړه:

ـکه تاسې هم ډېر بادونه خوشې نه کړئ صېب، خېټه به مو همدغسې بړوته راووزي.

دا وخت چې ډاکټرانو هرڅه وکړل، د خپلې خندا مخه يې ونه نیولای شوه. لومړی يې ورو او بیا يې په ټولو په کړس وخندل. سرطبیب هم پیکه خوله او ژېړې سترګې وويل:

ـیره، خو ډېر بې حیا سړی يې.

او ناچاره له دوی سره په خندا ورګډ شو.

یوه بله ورځ هم د روغتون تحویلدار عین الدین خان ته، چې ډېر لمونځ ګذاره سړی و او مدام به يې تسپې په لاس شونډې په ذکر رپېدې، خدازده څه چورت ورغلی و چې په دالېز کې ډاکټر مدن لال ته ورتاو شو، ورته وې ویل:

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـډاکټر صېب؟

ـ ها؟

ـیوه خبره درته وکم، خپه کېږې خو به نه؟

مدن لال حيران ورسره ولاړ و، همکارانو ته وکتل وې ويل:

ـ نه، تاویلدار صېب، وایه څه خبر؟

عين الدين خان پر ږيره لاس راوکيښ، وې ويل:

ـویم کشکې مو سولمان وشي .

او چې ده هماغسې حيران وپوښتل:

ـولې؟

تحویلدار هم په هماغه مهربانه لهجه، پسې زياته کړه:

ـ ته گوره ډاکټر صېب، داسې ښه سړی يې... هرڅه دې شکور ښه دي.. دا دونيا خو دې شکور ښخي ښه ده. کشکې ایمان راوړې، چې اخیرت دې هم سم شي. جنت ته به لاړ شې، که خدای کول... که مې رينښتيا پوښتې، د دوزخ اور مې ولاکه دربانديې لورېږي.

له دې سره د مدن لال سترگو خپله خاصه ځلا وکړه. همکاران يې پوه شول چې بيا ټوکه ورغله، وې خندل، وې ويل:

ـ هی، هی، تاویلدار صېب... چې هېڅکله په خبر پوه نه شوې.

تحويلدار په تعجب وروکتل، خو مخکې له دې چې څه وويلای شي، ډاکټر مدن لال هماغسې ورزیاته کړه:

ـدوزخ ته به نه نوزه ولې ځم زوروره؟.. دوزخ ته خو به ته خوارکی روان يې چې دلته دې هم له لمانځه او اوداسه پرته نور څه ونه کړل. څه پکر که يې چې جنت يې تا غوندې ناشوقو ته جوړ کړی دی، ها؟.. ته سکه وايې هلته به هم دغسې تسپې په لاس او جای نماز پر اوږه ورته گرځې، ها؟...

او خپله يې په خپل ځواب کې وويل:

ـولاکه يې مخ لا ووينې!.. تې (ته يې) خپله پکر وکه.. ستا دا شين کټی سر او ببره ږيره که د جنت حورې ووينې نو څه شی به وکې، ها؟.. ويم په خدای چې په چغو چغو خو هرې خوا ته درنه وتښتي!.. ته سکه وايې دا دومره ښايسته حورې خدای دې ته پيدا کړي چې بيا يې ستا په سر او ږيره وډاروې، ها؟...

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا وخت يې د همکارانو خندا خبر ورغوځه کړه. د تحويلدار خوله هم پرې جينګه شوه. او مدن لال د دوی په خندا کې بېرته وړاندې لاړ:

ــويم که زما منې، نو راځه سړيه ته هم له خيره راهندو شه... هم به په دې دونيا موږ غوندې خپلې سندرې ورته وايې، اتېونه به ورته کوې، هم دې هغه دونيا د مرچو له قراره بوله... که څنګه؟

او د همکارانو خندا يې بيا په کې ورکړس وهل. د ډاکټر نصيري خو بېخي اوښکې په غومبورې راوبهېدې. په داسې حال کې چې لمدې سترګې يې په ورغوي پاکولې، ويره خوله يې عين الدين خان ته وروکتل، وې ويل:

څنګه شوې، تاويلدار صېب؟.... ښه يې کړې، که نورڅه هم غواړې.

او تحويلدار ته چې پوره خړ شوی و. بله هېڅ چاره ورپاتې نه شوه، بې له دې چې سر وځنډې وواېي:

ــدا کاپر ولاکه د خدای لارې ته راولې .

او دغسې د ټولو په خندا کې ترې رهي شي.

خو له دې ټولو بې سُره غوندې ټوکو سره- سره، ډاکټر مدن لال بيا هم پر ټولو ګران و. هېچا څه خاصه مدعا يا خدای مه که دښمني نه ورسره درلوده. ټول پوهېدل چې هغه که له خولې يوڅه خوشې دی، نو هغومره يې بيا زړه پاك او بې غرضه دی. هغومره يې ښه هر چا ته رسي او په دې خبره، ان د لابراتوار تکنېشن سليم جان لا قانع و، چې ډاکټر مدن لال تر بل هرچا ډېرې ټوکې ورباندې کولې. هغه ليدل چې ډاکټر مدن لال که له يوې خوا ټوکې ورباندې کوې، نو له بلې خوا يې هغومره نازوي هم، هغومره ځان د ځينو نورو غوندې وربانديې ډاکټر ډاکټر کوي هم نه. پر دې سربېره، داسې نه وه چې ډاکټر مدن لال نو ګنې يوازې په ده باندې خپلې ټوکې کولې. نه، هغه د ده هره ټوکه هم په ورين تندي زغملې وه او مدام يې د يوه انډيوال غوندې چلند ورسره کړی و. او دا هغه څه وو چې سليم جان تر اوسه په وار وار ترې ليدلي وو او هر وخت يې له دې امله ښه ترې راغلي و.

په دې ډول، د دوی ژوند دغسې راضي او خوشاله په وړاندې روان و، چې يوه ورځ يوناڅاپه خلقيانو کودتا وکړه او ټول شيان بل ډول شول. بس چې د "انقلاب" د هغو لومړيو ورځو ولولې کښېناستې، نو هر لور "انقلابي بدلونونه" هم پيل شول. ښکاره خبره ده چې د دوی روغتون هم له دې پېښو خوندي پاتې نه شو. دلته هم د "ثور انقلاب" خپل "انقلابي چلند" راواخيست. تر ټولو دمخه عين الدين خان تحويلدار د اخواني په نامه ونيول شو، چې بيا يې نه د مړي پته ولګېده، نه د ژوندي. بيا دروغتون سرطبيب "له ښه مرغه" مازې له کاره پسې واخيستل شو او پرځای يې "انقلابي سرطبيب" له "خلقي روحيې" او "انقلابي ولولو" سره راغی. په دې پسې څو نور ډاکټران او د روغتون کارکوونکي هم، څوك په دغه څوك په هغه نامه، ترې تم شول او پاتې کسان د "ګوندي ملګرو" له خوا تر "انقلابي څارنې" لاندې ونيول شول. بس په څو ورځو کې ډار او وارخطايي هر لور خوره شوه. هر چا ته چې دې کتل، له خپل

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



سیوري په تېښه کې وه. ټول پر ټولو شکمن وو او هر چا له هرچا ځان ساته. په تېره بیا دی نوی راغلی د اداري مامور، سمیع الله خان همدرد، خو د ټولو په هېڅو ساړه ورننویستل. دا د خدای بنده، سره له دې چې مازې د مامور په حیث روغتون ته راغلی و، بیا هم داسې په هر چا ورخلقي خلقي کېده، لکه دا ټول روغتون چې یې د پلار په قواله وي. په هرچا چې به یې خوله ورخلاصه شوه، ځای پر ځای به یې هم د "ارتجاع ګوډاګی" ترې جوړ کړ، هم "د امپریالیزم". اوس نو کوم و هغه د نر زوی، چې ترې خلاص یې کړي .

له همدې امله ټولو په دې امین کړه چې دا سړی "بې څه" نه دی. په دې وړه څوکۍ داسې په هر چا ورتېره تېره کېدل، خوشې او وړیا نه شي کېدای. ضرور کومه "غټه پایه" لري. ځکه خو ټول لیرې ترې ګرځېدل. د ده هم خدای شته له هېچا سره چندان جوړه نه وه. یوازې له تکنېشن سلیم جان سره یې وضعیت یو څه سم و، هغه هم په لومړي سر کې نه، هسې یې وروسته وروسته لکه چې طبع ورسره ولګېده .

طبیعي ده چې دا ټولې خبرې د دې سبب شوې، چې هرڅوك ځان له نويو انقلابي شرایطو سره "عیار" کړي او په خپلو خبرو او کړو وړو کې بدلون راولي. خو ډاکټر مدن لال بیا هم تر ډېره حده هماغه سړی پاتې و. نه یې له خپلو ټوکو چندان لاس اخیستی و، نه یې هم نور کړه وړه له نويو شرایطو سره په لازمه اندازه عیار کړي وو او دا کار یې د نژدې انډیوالانو د اندېښنې سبب و. ځینې ځینې خو یې له دې امله ورته په قار لا وو، سره له دې یې په خوله لاس اینبی و، که ګوندې خپله واوړي. خو چې دی بیا هم سم نه شو، نو اخر د دوی حوصله هم ورته تمامه شوه. هماغه و، چې ډاکټر افضلي یوه ورځ له ځان سره ګوښه کړ او وار د واره یې ورته وویل:

ـمدن لاله! دې خولې ته دې لږ پام کوه .

او چې ده حیران وروکتل، نو هماغسې په کلکه وراندې پسې لاړ .

ـګوره سړیه!.. دا هغه وختونه نه دي، چې هرڅه دې زړه غواړي، ویې ویلای شې، دا د خلقیانو حکومت دی، د سرو خلقیانو!.. پوه شوې؟

خو ډاکټر مدن لال بیا هم خبر په ټوکه واړوله:

ـپوېږم چې د خلقیانو حکومت دی،. مګر دا په ما پورې څه اړه لري؟

ـڅنګه په تا پورې اړه لري؟

ـرښتیا وایم.. د خلقیانو یې له ما سره څه؟

او مخکې له دې چې ډاکټر افضلي څه وویلای شي، هماغسې په ټوکه وراندې لاړ:

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ــزه خو شکر هندو یم کنه.. تاسې غونډې مسلمان خو نه یم چې خپل دین راته جنجال شي.. زما یې ستاسې په کمونیستۍ او اخواني توب څه، ها؟...

ډاکټر افضلي چې ښکاره بې حوصلې شوی و، په قار ورغوڅه کړه:

ــدا خوشې چټیات مه وایه سړیه... دا خلقیان دي، خلقیان!.. په دې خبرو دې نه دي ویشتلي، چې هر چا ته یې زړه تنګ شي چاره یې ورکوي .

او ډاکټر مدن لال، چې خدازده ولې د ډاکټر افضلي بې حوصلې توب خوند ورکاوه، بیا هم هماغسې موسکی شونډې وویل:

ــویم که خلقیان هم دي، د هندو او مسلمان تمیز خو به کوي کنه.. دومره خو به دوی هم پوېږي چې یو هندو اخواني کېدای نه شي. که څنګه؟

ډاکټر افضلي ته لا قار ورغی، په ملنډو یې تکرار کړه:

" ــد هندو او مسلمان تمیز خو به کوي!" هه... دا دومره خلك یې ټول په مسلمانۍ ونیول، ها؟.. دا ټول اخوانیان وه؟

او په داسې حال کې چې تریو تندی یې نېغ د ډاکټر مدن لال سترګو ته کتل، پسې زیاته یې کړه:

ــهسې خدای کوه چې ګوتو ته ورنه شي.. که یې یو وار شکنجو ته ورکړې، بیا به دغه ته هندو په جار جار چغې وهي، چې تر تا بل غټ اخوانی نه شته!... پوه شوې، که دې اوس هم سر نه دی خلاص؟

دا ځل مدن لال هم ټوکې پرېښودې، مهربانه یې ډاکټر افضلي ته وکتل، وې ویل:

ــپوه شوم انډیواله، ښخي پوه شوم... دوخته لا پوهېدم.

او له لنډې چوپتیا وروسته په اندېښمنه لهجه وړاندې لاړ:

ــګوره ډاکټره! ما ته دا ټولې خبرې رامالومې دي، خو بیا هم... ته ښه خبر یې چې زه د دې ګوند او ګوندبازیو سړی نه یم... نه مې د چا له دولت سره غرض شته، نه له سیاست سره... ډاکټر سړی یم خپله ډاکټري ورته کوم، په دې کې به لا څوك څه راسره لري؟.

له دې سره ډاکټر افضلي هم نرم شو، وې ویل:

ــموږ هم نه دي ویلي چې سیاسي سړی یې... ما ته ګوره، په هېڅ ګوند کې نه یم. بیا مې هم له ډاره میرګی نیسي... پوېږې؟، دا بل ډول خلك دي.. خدای دې په ګیر مه ورکوه. که یې یو وار ګیر کړې، بیا دې څو ګوندي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



توب او نه ګوندي توب مالومېږي. د وخته به یې لا څرمن درنه کښلی وي... دا خلك سړی اول له تېغه تېروي، بیا یې پوښتنه کوي چې ملامت و که نه.

ډاکټر مدن لال خدازده ولې بې حوصلې شو چې په لړ لوړ ږغ یې ورغبرګه کړه:

ـښه، نو څه شی وکم، ها؟

ـهېڅ، خپلې خولې ته دې پام کوه، چې یوه بېځایه خبر ونه کې.

ـنه مې ده کړې، سړیه.. یوه بېځایه خبره مې هم نه ده کړې، که مې کړې وي هم، مازې ټوکه به مې کړې وي. هغه هم ونه کم؟

ـهوکنه... اصلي خبره همدا ده چې ټوکو ته دې پام کوه. هسې نه چې په کومه بده بلا ترې واوړې.

مدن لال چې نور هم بې حوصلې شوی و، لالهانده وچونګېده:

ـتر دې خو نو سم راته ووایه چې مړ شه.

او دې ځواب یې د ډاکټر افضلي حوصله هم ختمه کړه. تېره یې وروکتل په ګواښ یې وویل:

ـډېر بحث ته حاجت نه شه. ته پوه شته او کار دې... چې زړه دې غواړي هغسې وکه، خو دومره درته وایم چې ما، دا دی د ټولو په نمایندګي غاړې دربانديې خلاصې کړې، بیا ونه وایې چې چا نه وو راته ویلي.

او چټك له کوټې څخه د وتو په نیت وخوځېد، خو وره ته یې لا نه و رسېدلی، چې مدن لال پسې ږغ کړه:

ډاکټره!

او چې ډاکټر افضلي ودرېد، ورغی، ټینګ یې په غېږ کې ونیو، وې ویل:

ـخیر یوسئ، چې دومره غم مې درسره دی .

ډاکټر افضلي په خواخوږۍ ورته وموسل. بیا یې د ډاکټر مدن لال سترګو ته وکتل چې اوښکې په کې راټولې وې، نرم یې په اوږه کښېکښېود او دغسې چوپه خوله ترې ووت.

له ډاکټر افضلي سره ږغېدو د ډاکټر مدن لال په وضع کې یو څه نور بدلون هم راوست، هسې خو یې پخوا هم د خلقیانو له راتلو سره ټوکې لږې کړې وې، خو اوس یې هغه د چا خبره هر کار په اوداسه کاوه. سره له دې چې سړی له ورایه پرې پوهېده چې څومره له دې کبله ځورېږي، بیا یې هم انډیوالانو په خوښۍ سره لیدل، چې ډاکټر مدن لال اوس په لا ډېر زیار خپلې خولې ته پام ساتي. مازې وخت ناوخته به بیا هم کومه بې سوره غونډې ټوکه ترې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



وشوه. خو دا کار به يې يوازې هغه وخت وکړ، چې لومړی به يې هېڅ طاقت ونه شو او دويم به ښه ډاډه و، چې په نژدې شا و خوا کې له "خلقي ملګرو" څخه څوک نه شته. او ډېرو ډېرو ته ېې ووت. ځيني ... 

په دې ډول کارونه ورو ورو مخ په سمه روانېدونکي وو، چې اخر هغه سهار وختي هم راورسېد. ډاکټر مدن لال د هر وخت په شان د ناروغانو د ناروغيو رپوټونه په لاس، کوټه په کوټه ګرځېده. دومره ناروغان يې لا نه وو ليدلي، چې د اداري سرکاتب عبدالصبور خان مخې ته ورغی. تريو تندی او نيولې څېره يې ګېډه ټينګه په منګولو کې نيولې وه. د خوږو له زوره يو مخ ستمېده، چې ده ته راورسېد، دستي يې ترې وپوښتل:

ـــڅه پېښه ده صبور خانه!... څنګه داسې تاو وپېچ کېږې؟

عبدالصبور خان منګولې لا په ګېډه ټينګې کړې، زهير وچونګېده:

ـــپوپښتنه يې مه کوه ډاکټر صېب... له پښو ولوېدم .

ـــولې؟ ... خير خو دی؟

ـــنس مې ډېر راته خوږېږي.. درسته شپه په عذاب وم، له نيمې شپې راهيسې مې سترګې نه دي ورغلي.

ډاکټر مدن لال په خواخوږۍ سر ورته وخوځاوه، د سرکاتب ګېګډې ته يې وکتل، وې ويل:

ـــحتماً به څه شی بد دربانديې لګېدلی وي.. ېېګا دې څه شی وخوړل؟

ـــنه پوهېږم صېب... چېرته مېلمه وم، خدازده څه زهر او زقوم مې وخوړل چې داسې مې په خېټه کې کانې شول، هېڅ نه هضمېږي.

او بيا له درده وستمېده، خو ډاکټر مدن لال په کټکي پرې وخندل:

ـــزوروره! ډوډۍ که د بل وه نس خو دې خپل و کنه... چې ډوډۍ وړيا شي، سرې به ځان پې وژني؟

بيا يې د عبدالصبور خان ګېډه څو ځايه کښيکښوده، وې ويل:

ـــراځه!

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



او مخکې شو، سرکاتب هم دغسې ناارمه ورپسې وخوځېد، چې لا براتوار ته ورسېدل. مدن لال په کیڼ ګوټ کې ولاړې الماری ته ورغی. دوه د تابلیتو پاکټونه یې ترې راوویستل، بېرته ده ته راغی، وې ویل:

ــواخله!... دغه د هضمیت ګولۍ دي، دا نورې هم د خوړو لپاره دي... یوه یوه دانه یې همدا اوس دستي وخوره، که یې فایده ونه کړه، یو سات پس ته یوه بله د هضمیت ګولۍ هم وخوره... او ګوره.. بادیګر د بل په ډوډۍ ځان مه وژنه. پوه شوې؟... څه زیاتې.

عبدالصبور خان زهیر ورته وموسل، دوه تابلیته یې په هماغه لابراتوار کې له ستوني تېر کړل. وروسته له هغه یې له ډاکټر مدن لال څخه مننه وکړه. بېرته ترې رهي شو. شېبه پس دی هم دالېز ته پسې راووت، چې له لیرې یې سرکاتب بیا هم دغسې په عذاب روان ولید، په زوره یې وررږغ کړه:

ــګوره صبور خانه! تا ته وایم!

او چې هغه تر شا وروکتل، هماغسې په لوړ اواز یې پسې زیاته کړه:

ــچې دباندې ووتې، یو څو نه راستنېدونکي تېزونه هم واچوه... روغ رمټ به شې.!

له دې سره په دالېز او نژدې شا و خوا کوټو کې خلکو وخندل. سرکاتب هم په زحمت خوله جینګه کړه، له څو واره سر ښندلو وروسته بېرته رهي شو.

ورځ د معمول په شان تېره شوه. خو په دا بله ورځ ډاکټر مدن لال بې له کومې مخکېنۍ خبرتیا کار ته رانه غی. نه یې د ناروغۍ پاڼه راولېږله، نه یې د عادت پرخلاف د خپل نه راتګ چا ته څه ویلي وو. همکاران یې لږ حیران شول خو دومره ری یې په کې نه واهه، ځانونه یې په دې قانع کړل چې ښایي کوم ناځاپي کار ورپېښ شوی وي او دی یې د احوال ورکولو ته نه وي پرې ایښی. خو چې په دا بله ورځ یې بیا هم درك نه شو مالوم، نو ورو ورو دوی ته هم اندېښنې ورپیدا شوې. په اوسنیو شرایطو کې داسې ترې تم کېدل؟... څه داسې خبر نه وه چې سړی په کراره پرېږدي. هماغه وو چې د دوی زړونو هم بې اختیاره بدې ګواهۍ پیل کړې، چا و چا خو لا خدازده څه څه خوبونه ورته ولیدل. غرمه مهال اخر د ډاکټر افضلي طاقت ونه شو، دې نورو ته یې وویل چې که ډاکټر مدن لال نن هم روغتون ته رانه غی، ضرور به یې مازدیګر کاله ته ورځي او درك به یې مالوموي. خو دوی لا په همدې چورتونو کې وو، چې مدن لال یو ناځاپه راپیدا شو، هغه هم روغ رمټ. تر ټولو مخکې ډاکټر نصیري ولید. وارخطا وروړاندې شو چې پوښتنه ترې وکړي، خو ډاکټر مدن لال مازې ترخه ورته وموسل. دغسې چوپه خوله د سرطبیب کوټې ته ترې ننووت. چې بېرته راووت، هم ورته نه ودرېد. بس دومره یې ورته وویل چې:

ــاوس نه.. بیا پس ته.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



او هك حيران ډاكټر نصيري يې پر خپل ځای ولاړ پرېښود. پاتې ورځ يې هم په كار مشغوله تېره كړه. رخصتي ته ايله نيم ساعت پاتې و، چې د ډاكټر نصرت په كوټه كې سره يوازې شول، دوی هم سمدستي ترې وپوښتل.

ــخير خو و ډاكټره... څنګه داسې يو دم ورك شوی؟

مدن لال پيكه خوله ټولو ته وكتل، وې ويل:

ــږغ مه لره چې بلا وه بركت يې نه و... هسې خدای بچ كړه.

او په لنډ ډول يې ټوله كيسه ورته وكړه، چې څنګه ورمه شپه د اګسا خلكو (د انقلاب د ګټو ساتندويه اداره، يا د نور محمد تره كي استخبارات) له كاله ويستلی او له ځان سره بېولی و او بيا يې هلته څنګه او څومره په ټولو ډبولی و. له دې سره يې لمن پورته كړه، ملا او ډډې يې دو ته وروښودې چې يومخ تغمې تغمې وې، پسې وې ويل:

ــكوناټي او لينګي مې تر دې لا بتره دي.

ډاكټر نصيري بې اختياره وپوښتل:

ــنو وې نه ويل چې ولې؟

ډاكټر مدن لال ترخه ورته وخندل:

ــويلي يې د ثور پرتمين انقلاب ته مې سپكاوی كړی.

او چې دوی حيران وويل:

ــهن؟!

د خپلې خبرې په روښانتيا كې يې پسې زياته كړه:

ــابله ورځ سركاتب صبور خان راغی ډېر په عذاب و نس يې خوږېده. ګولۍ مې وركړې، ورته ومې ويل چې يو څو نه راستنېدونكي تيزونه هم واچوي. بس همدا خبره يې راته بانه كړه .

دې خبرې ټول بې اختياره وموسول. خو ډاكټر افضلي بېرته تندی تريو كړ، په منت ناكه لهجه يې وويل:

رښتيا وايې كنه... نه راستنېدونكی خو دوی د ثور انقلاب ته وايي. تا بيا په تيز باندې څنګه دا نوم ايښوده؟

ډاكټر مدن لال، لكه ملامت ماشوم، ځوړند سر ورغبرګه كړه:

ــخوشې مې خولې ته راغله.. زه څه خبر وم چې ټوكه به راته متاكه شي؟

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډاکټر نصرت وپوښتل:

ـچې څنګه یې بېرته راخوشې کړی؟

مدن لال وویل:

ـهسې خدای فضل راباندې وکه... ویلې یې، موږ خبر یو چې له انقلاب ضد بانډونو سره تړاو نه لرې، ځکه مو دا ځل مازې غوږونه درتاو کړل، چې بادیګر داسې رذالتونه ونه کې، خو که درپوه شوو چې نور پسات هم درکې شته، بیا به دې نو موږ هم ښه سم خوش شو!

او د دې نورو غوندې په چورتونو کې ډوب شو. اخر ډاکټر افضلي چوپتیا ماته کړه. هماغسې قارجن یې مدن لال ته بیا منت پیل کړ:

ـپه خوله مې درته وویل چې دې خولې سره دې پام کوه، پام کوه... خو نه، هېڅ اثر یې درباندې ونه که. لکه دېوال ته چې مې ویلي وي.. اوس دې ولیدل چې څه یې دروکړه؟

بیا چوپ شو، چې قار یې سره کښېناست، نرم او د نصحیت په دود وړاندې لاړ:

ـخیر.. دا ځل خو بچ شوې، په اینده کې پام کوه.

بیا یې دې نورو ته مخ ور واړاوه پسې زیاته یې کړه:

ـباید ټول له احتیاط کار واخلو. دا وخت د بېځایه خبرو نه دی، خدای مه که په داسې بلا به اوښتي یو، چې بیا به خپله هم ورته حیران یو.

ډاکټر نصیري سر وګراوه، سرګردانه یې لکه له ځان سره چې بړغېږي، وویل:

ـچې دا به د چا پسات وي؟

ډاکټر افضلي ورغبرګه کړه:

ـنو بل به یې لا څوك وي سړیه... زه خو یې د همدې سمیع الله خان کار بولم .

چې ټولو ورسره ومنله، ډاکټر نصرت بیا قارجن پرې ورزیاته کړه:

ـاها... اوس رامالومه شوه چې دا د خنزیر بچی ولې داسې په هر چا وربرګ برګ کېږي.

ده ته هم ټولو سر وخوځاوه، هماغه وو چې په یوه سلا یې پرېکړه وکړه، چې سبا به کار ته له راتلو سره سم، خپل ټول باوري انډیوالان د سمیع الله همدرد د اګسا له غړیتوبه خبروي او ترې غواړي به چې لیرې دې ترې ګرځي. یو بل

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



کار هم وشو. هغه دا چې، ډاکټر مدن لال هم له دغې ورځې وروسته په نژدې انډیوالانو کې په "نه راستنېدونکي مدن لال" مشهور شو .

په دا بله ورځ چې روغتون ته راغلل، نو رښتیا یې هم سملاسي د خپلې پرونۍ پرېکړې په عملي کولو لاس پورې کړل، هر چا ته چې یې هر باوري انډوال یوازې په ګیر ورغی، د سمیع الله همدرد په باب یې خبرداری ورکړ او ترې وې غوښتل چې پام دې ورسره کوي. ډاکټر مدن لال خپله لابراتوار ته ورغی. چې له تکنېشن سلیم جان سره یوازې شو، لومړی یې د هغه د پوښتنې په ځواب کې خپله تېوله کیسه ورته وکړه، بیا یې ترې وغوښتل چې د اداري څانګې له سمیع الله خان همدرد څخه دې ځان ژغوري ځکه چې د اګسا غړی دی او د تېولو په باور دی هم، هغه په ګیر ورکړي. سلیم جان لکه هېڅ چې یې زړه ته نه وي لوېدلي، حیران وویل:

ـڅه و..ا..یې!.. سمیع الله خان؟!

او چې ده ورته "هو" کړه، نو ډېره مننه یې ترې وکړه، چې دی یې هم پرې خبر کړ. بیا یې ټینګه وعده ورکړه چې ضرور به ځان ترې ساتي. خو چې مدن لال ترې ووت، په ارامه یې اوږده ساه وکښله او راضي یې له ځان سره وموسل، چې راز یې تر اوسه لا چا ته نه و رسوا شوی .

لفبرا، انګلستان

1999/3/17م کال

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د لاس بیه

نه پوهېږم ولي ځینې خلك داسې دي چې په هغه اول نظر دې لا بد ترې راځي. برناحقه، بې موجبه بې له دې چې خپله يې هم په علت پوه شې. او ځینې نور يې بيا همداسې بې له کوم خاص دليله ښه دربانديې لګي .

غني، له ښه مرغه په دې دويمه ډله کې راته. سره له دې چې نه يې خوی خاصيت رامالوم و، نه يې نور کړه وړه او څېره د څه خاصې پاملرنې وړ وه، بيا مې هم خدای شته په هغه لومړي ځل ليدو ښه ترې راغلل؛ او دا، اوړی يو ښايستوکی سهار و. زه د هر وخت په شان دفتر ته روان وم. له ښايسته ډېرو اشنا کورونو او واټونو دغسې بې خياله تېر شوم. اخر هغې نوې جوړېدونکې ودانۍ ته وروړسېدم چې له پسرلي راهيسې بيا کار پرې کېده. د ودانۍ کار ښه پرمخ تللی و. استاکاران يې اوس د چت په پوښلو لګيا وو. له عادت سره سم مې نن هم دغسې په تلو تلو کې وروکتل. لا سم نه وم ترې تېر، چې غني مې وليد وچ کلك د منځوی ونې خاوند ځوانکی و، له اوږدې نرۍ غاړې او تېره لمر وهلي مخ سره د ختېو ډکه کاسه پر سر له اوګيرې څخه د ودانۍ خوا ته رهي و چې ما ته راورسېد، خدازده څنګه مې وروکتل چې لنډ ودرېد، راته وې موسل. ما هم نرم ورته وموسل، ترې تېر شوم. مازديګر چې بېرته تلم، هم تقديری بيا په مخه راغی او يو بل ته له بيا موسلو وروسته هريو په خپله لاره لاړو.

دوه ورځې همداسې تېرې شوې. په دې دوو ورځو کې مې هغه څو ځله نور هم وليد. هرځل هماغسې په مازې موسلو له يو بل څخه تېر شوو، بې له دې چې څوك خوله په خبر خلاصه کړو، خو د درېيمې ورځې په مازديګر غني بيا وار راڅخه دمخه کړ او د لومړي ځل لپاره يې سلام راواچاوه. خوشاله مې د سلام ځواب ورکړ. لنډ ورتم شوم او د کار سترې مشې مې ورته وويله. په دغه ورځ مې يې د نامه پوښتنه هم وکړه. ښکاره ده چې زموږ خبر وروسته له دې په همدې ځای ختمه نه شوه. ورو ورو له يو بل سره وږغېدو او د ورځو په تېرېدو مو تر يوه حده سره وپېژندل. زه اوس خبر وم چې غني د مور و پلار مشر اولاد دی، تر اتم ټولګي پورې ښوونځي ته تللی، دوه وروڼه او يوه خور لري، چې اوس هم ښوونځي ته ځي. مور يې ژوندۍ ده او په کاله کې د خلکو جامې په مزدورۍ مينځي. پلار يې درې نيم کاله مخکې په حق رسېدلی او تر مړينې پورې يې ښايسته ډېر کلونه د ښار په ښوونځي کې چپړاسي توب کړی و. سره له دې چې ليك لوست يې نه وو زده، د روښانه فکر خاوند و او د ژوند تر ټولو لويه هيله يې دا وه چې ماشومان يې د ده غوندې نازده کړې پاتې نه شي. غوښتل يې ټول ښوونځی ووايي، د پوهې او کمال او ښو څوکيو او معاشونو خاوندان شي. خو دپلار له مړينې وروسته يې د غني په هکله ارمان نيمګړی پاتې شوی و. دوی ډېر ژر ليدلي وو چې يوازې د مور په مزدورۍ يې ګوزاره نه کېږي او د پلار د تقاعدۍ لپاره چې دولت څه روپۍ ورکړي، هغه يې ايله د پلار د ګور کفن او خير و خيرات او نورو وربانديې پورونو د خلاصولو شوی. بس لنډو ګنډ د چا خبره سپېره کندو ته کنبېناستلي وو. هماغه وو چې غني ښوونځی پرې ايښی و، خوارۍ او مزدورۍ يې پيل کړې وې او دا و تر دا اوسه يې شپه ورځ همدا هڅه کوله چې لږ تر لږه يې د ورپاتې يتيمانو په برخه کې د پلار ارمان پوره کړي .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې ډول زما او غني ترمنځ یوه ګلالۍ انډیوالي پیل شوه. سره له دې چې دا یو عجیب شانته انډیوالي وه، ځکه موږ مازې د غني د کار په ځای کې سره لیدل، بیا هم د وخت په تېرېدو خدای شته ډېر سره ګران شوو او د یو بل د لیدو شوق له یوې ورځې بلې ته راکې زیاتېده. زه اوس هر سهار لږ وختي کار ته تلم، چې له غني سره لږ ډېره شېبه ودرېدای شم. او مازدیګر به مې هم په لوی لاس لږ راباندې ناوخته کړه، ترڅو سم د غني د رخصتۍ په وخت ودانۍ ته وروسېږم او بیا نو هلته لږ په ارامه د زړه خواله ورسره وکړای شم. د غني له ما سره خبرې خوښېدې. تر اوسه یې څو ځله دا خبره راته کړې وه او زما یې تر دې لا هم غیرت، همت او مدام داسې په زیار او اخلاص کار کول خوښېدل. ډېر زیارکښه ځوان و. هر وخت به یې داسې تکړه کار کاوه، چې تا به وې د رستم زور یې په متو کې دی. لکه هېڅ ستړیا چې نه پېژني. ښه مې په یاد دي، یوه ورځ مې په خبرو خبرو کې په ستاینه ورته وویل:

_یره غني جانه! دې یوه شي ته هر وخت حیران یم.

_څه شي ته صېب؟

_ویم ته ګوره... داسې په ځان خوار یې. خو چې کار ته دې ګورم، حیران پاتې شم چې دې سړي په دې متو کې دومره زور له کومه کړ؟

غني په یوه عجیب خواشیني نظر راوکتل، وې ویل:

_څه وکم مامور صېب. چاره څه ده؟... یوه لپه یتیمان راله غاړې دي... که زه دې سختیو ته ځان ورنه کم، د هغو به څه حال وي؟

او له یوه ساړه اسوېلي سره یې پسې زیاته کړه:

_نه دې دي اورېدلي چې وایي "مجبور ته مه وایه زوروره"؟

دې ځواب یې داسې سخت تاثیر راباندې وکړ، چې نور مې هېڅ وته نه ویلای شول. په داسې حال کې چې زړه مې له درده څړیکې کولې، دغسې خواشینی ترې لاړم او خدای شته ساعتونه ساعتونه یې په کاله کې هم په کراره پرې نه شودم. په دا بله ورځ چې ورسره مخامخ شوم، نو یو څه د ډاډګیرنې هڅه مې یې وکړه او کوښښ مې وکړ چې د راتلونکي لپاره یې هیله من کړم، خو ده، لکه هېڅ چې یې زما خبرو ته پام نه وي، نرم وموسل وې ویل:

_پرون مې لکه چې ډېر خپه کړې.

ما هېڅ ځواب ورنه کړ او دې هماغسې موسکی شونډې وړاندې لاړ.

_ښښنه غواړم... بیا به هېڅکله داسې خواشینې کوونکې خبره راڅه وانه ورې.

ما، مازې وویلای شوه:

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـنه،نه...

او غوښتل مې نورڅه هم ووايم، چې دی په خبر کې راولوېد او په هسې خوښۍ ټوکو کولو يې زما د خندولو هڅې پيل کړې او چې ترې تلم، نو رښتيا مې هم ښايسته ډېر خندلي وو .

شپې ورځې پر له پسې تېرېدې، زموږ ليده کاته د پخوا په شان روان وو. او موږ دواړه له دې امله راضي او خوشاله له ژوند سره په وړاندې تلو، چې يو مازديگر مې غني نابېره په خپل کارځای کې ونه ليد. عجيبه وه دغه نن سهار مې لا ورسره ليدلي وو او اوس يې هېڅ پته نه لگېده. دې کار يو څه حيران کړم، مگر بيا مې هم دومره انديښنه ورته ونه کړه. ځان مې په دې قانع کړ چې ښايي کوم ضروري کار ورپېښ شوی وي او دی يې لږ وختي د کار پرېښودلو ته اړ ايستلی وي، خو چې په دويمه او درېيمه ورځ يې بيا هم درك نه شو مالوم، نو زما په زړه هم ناارامتيا منگولې ښخې کړې. په څلورمه ورځ خو مې زياتي طاقت تمام و. هماغه و چې مازديگر له کاره د راتلو په وخت، ودانۍ ته له وررسېدو سره مخامخ بام ته وروختم او په کار لگيا استاکار، گل استاد، مې له سترې مشې وروسته وپوښته:

ـاستازه، دا څو ورځې وشوې چې ستاسو يو کارکوونکی، غني خان په خپل کار نه مالومېږي... چې دا ولې؟

گل استاد خواشيني پاس راوکتل، وې ويل:

ـهو مامور صېب!... غني جان زياتي کار ته نه راځي.

ـولې، خير خو دی؟.. خپله يې کار پرېښود، که تاسې له کاره پسې واخيست؟

ـنه صېب، نه يې خپله کار پرېښود، نه بل چا له کاره پسې واخيست.. هغه غريب زياتي د کار کولو له ښې ووت.

دې ځواب يې يو دم ټکان راکړ، وارخطا مې وويل:

ـچگي شی (څه شی)؟~

گل استاد په تعجب وويل:

ـنه يې خبر؟!

او چې ما ورته "نه" کړه، ده هم په لنډ ډول کيسه راته وکړه، چې څنگه تېره يکشنبه ودانۍ ته د راختو په وخت، د غني سر ځرخېدلی او له بامه لاندې رالوېدلی و.

او پسې وې ويل:

ـدستي مو شپاخانې (روغتون) ته يووړ. هلته مالومه شوه چې درې پوښتۍ او ښي لاس يې مات دی. دا وخت حاجي صگيب (د ودانۍ څښتن) هم راورسېد. خير دې يوسي، مخامخ ډاکټرانو ته ورغی، ورته وې ويل چې په روپيو

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې چورت مه وهئ، هرڅومره روپۍ چې پرې لګېږي زه ورته ولاړ یم. تاسې د سږې چاره وکئ... خو ډاکټرانو ورته وویل چې د پوښتیو ایلاج (علاج) به یې لا وشي. منګر (مګر) د لاس چاره یې نه کېږي.. هډوکي یې جزغې جزغې دي... هماغه وو چې په بند کې یې غوټې ورپرې کړ.

دې خبرو داسې وبوږنولم، لکه پر سر او مخ چې مې د غومبسو ځاله رالوېدلې وي. هېښ پېښ پر خپل ځای ولاړ وم. دغسې لالهاده مې استاکار ته ورکتل، چې د ودانۍ د څښتن په ستایلو سر شو:

ــله حاجي صېب سره دې خدای ښه وکي، ډېر نېك سړی دی... د غني جان د ایلاج ټول لګښت یې په غاړه اخیستی... هر وخت پوښتنې ته ورځي، هر ځل څه مېوه، څه خواړه ورسره وړي.

او په یوه له ویاړ او احسانه ډکه لهجه یې پسې زیاته کړه:

ــپنځه زره روپۍ یې نورې هم، دغسې ورکړې!

په ما باندې خدازده ولې، د قار څپې راودانګل. بې اختیار وغُرېدم:

ــپنځه زره روپۍ، پنځه زره!.. هه... چې دا روپۍ خلاصې شي، نو بیا؟... د هغه لاس بیه، چې د چا په کار کې غوڅ شي، بس همدومره ده؟ !

ګل استاد څو شېبې دغسې هك حیران راوکتل، خو هېڅ یې ونه ویل. او زه، هماغسې قارجن د روغتون په لور ترې وخوځېدم.

8/3/1357ل کال

کابل

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## بدکاره

کريم جان د غلام سخي د دوکان مخې ته پر وړه څوکۍ ناست و. د چايو ډکه پياله په لاس نرم نرم ورسره ږغېده، چې مخامخ ښځې يې پام ځان ته ورواړاوه. ښځه له کيڼ لاس ته پرتې کوڅې راوتلې وه. پيکه شنه بوغره (چادري) پر سر، نرۍ جگه ښځه وه. هماغلته وړاندې پاخه سړك ته پر وروتلې لار ودرېده. تلولی غونډې يې شا و خوا وکتل چې پر ده يې سترگې ولگېدې، خدازده ولې لږ پرې راتاو شانتې شوه، څو شېبې يې نېغ نېغ وروکتل. دې کار د کريم جان پر تندي د حيرانتيا گونځې جوړې کړې، څو گډوډ فکرونه سر ته ورغلل. لا سر ته د ورغليو فکرونو په سره سمولو لگيا و چې ښځې بېرته مخ ترې واړاوه، وړاندې د بازار په منځ کې د تېر شوي پاخه سړك پر لوري وخوځېده. خو څو گامه پس بېرته ودرېده، بيا يې ده ته تر شا وروکتل. بيا بېرته يو څو گامه وړاندې لاړه، بيا بېرته ودرېده، ده ته يې تر شا وروکتل او چې کريم جان يې بيا هم هماغسې خوا ته ورکتونکی وموند، دا هم راتاو شوه، دغسې ورو ورو او زړه نازړه پرې رارهي شوه. د کريم جان زړه دربا پيل کړه، وارخطا يې يو دوه گړندي غوړپه له چايو وکړل، يو گونگ شانته گومان ورپيدا شوه. ښځې هماغسې ده ته کتل، وار په وار دوکان ته رانيږدې کېده. چې ور ورسېده، پرې ورتاوه شوه، د ده مخې ته غلام سخي ته مخامخ ودرېده. کريم جان، وچ حلق، ښځه له نيږدې، له نظره تېره کړه. دلته له نژدې دومره جگه ورته ونه اېسېده، خو نرۍ او ډنگره اوس هم وه. بوغره يې ښايسته ډېره زړه وه، څو ځايه يې شلېدلې وو، چې په بېلابېلو تارونو بدرنگه گنډل شوي وو. نورې جامې يې هم خواري، خو پاکې وې. ښځې داسې وښوده لکه له دوکانه چې يې کوم شی په کار وي. د بېلابېلو شيانو پوښتنې يې له غلام سخي څخه وکړې او چې هر وار به د هغه پام د شيانو په پلټلو پسې پر بله شو، دی به بيا کريم جان ته په څنگ وروکتل. کريم جان هم شرمندوکې موسکا پر شونډو څو ځله سترگې ورسره وجنگولې او هر وار يې خواږه خوندور شوقونه ورکې حس کړل .

ښځې اخر هېڅ شی هم ونه پېرل. بېرته رهي شوه. او چې له لږ وړاندې ځايه يې بيا هم ده ته تر شا وروکتل، نو د کريم جان گومان هم په يقين بدل شو. زياتي نو دلته کښېناستو ارام نه ورکاوه، ژر يې تشه پياله پر خپل ځای کښېښوده، غلام سخي ته يې وويل:

ــزه دستي بېرته راځم.

او پاڅېد. ښځه د پاخه سړك پر خوا روانه وه. دی هم پسې رهي شو. ښځه د سړك پر غاړه ښي لاس ته تاو شوه. دی هم بازار ته له وررسېدو سره ښي لاس ته پسې تا شو. خو د خلکو په گڼه گوڼه کې يې ښځه ونه ليدلای شوه. وارخطا د گوتو پر سر ودرېد، غاړه يې د هغې د موندلو په تمه اوږده کړه، چې بيا يې هم ونه ليده، لا يې گام پسې چابك کړ، تلولی رهي شو. له ښه مرغه يې څو گامه پس بېرته سترگې پرې ولگېدې. د يوه پلورنځي مخې ته ولاړه وه. ځان يې د هغې د لويو ښيښه يي کړکيو شا ته د اينبو توکو په ننداره اخته کړی و. کريم جان خوشاله وموسل، په زړه کې يې وويل: "شاباس د نور لورې. ماسکه ويل رانه ورکه شوې، خو ته دلته راته ماتل وې...او پرې وررهي شو، چې شېبه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



پس هغې هم ولید، ننداره یې پرېښوده، بېرته رهي شوه. کریم جان ځان وروړساوه، څو گامه دغسې چوپه خوله څنگ په څنگ ورسره لاړ، چې لږ سره یوازې غوندې شول، هماغسې په تلو تلو کې یې ورته وویل:

_سلام، چېرته داسې له خیره روانه یې؟

ښځې بې له دې چې وروگوري، وویل:

_هېچېرته نه، کورته ځم.

پسې وې پوښتل:

_او ته؟

کریم جان لږ وخندل:

_زه؟... نه پوهېږم، هرځای چې ته وایې.

دی غلی په څنگ وروکتل، څه یې ونه ویل. خو کریم جان وړاندې لاړ:

_څنگه؟ ما هم درسره بیایې؟

ښځې ځان ناگومانه واچاوه:

_چېرته؟

_ستا کور ته کنه.

ښځې بیا په څنگ وروکتل، ماناداره یې وویل:

_هلته به نو څه وکو؟

او چې کریم جان په خندا وویل:

_هېڅ، یو سات به سره کېنو.

دې هم لږ وخندل، وې پوښتل:

_پیسې لرې؟

_هو کنه.

_څومره؟

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



کریم جان ویاړلي وویل:

ـدغومره خو شته چې ستا چاره پې وشي.

او مخکې له دې چې ښځه څه ووايي، ترې وې پوښتل:

ـوایه، څو روپۍ غواړې؟

ښځې ورغبرګه کړه:

ـیو نیم سل.

کریم جان بې اختیاره تکرار کړه:

ـیونیم سل اوغانۍ؟

ښځې وویل:

ـهو. یونیم سل اوغانۍ، لرې یې که نه؟

کریم جان ناارامه څټ وګراوه، وچونګېد:

ـخود یې لرم... خو دا پیسې لږ ډېرې نه دي؟

ـنه. پې ارزم.

کریم جان څه ونه ویل، دغسې چورتي څو ګامه ورسره لاړ، ښځې وپوښتل:

ـڅنګه، خوښه دې ده که نه؟

کریم جان ناراضه څه وګونېد، خبر یې واړوله:

ـنوم دې چګي شی دی؟

ـڅې کیې؟

ـهېڅ دغسې،

ښځې وویل:

ـمهمه نه ده.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



پسې وې پوښتل:

_څنګه. یونیم سل اوغانۍ. سمه ده؟

_کریم جان بیا خبر واړوله، په اعتراض یې وویل:

_نو لږ تر لږه دې دا عمر خو راته ووایه کنه چې درګرده همدا یونیم سل، یو نیم سل اوغانۍ کیږي... ځوانه یې؟

_هو.

_څوکلنه؟

شپږویشت.

_ښایسته یې؟

_هو!

کریم جان په خندا وویل:

_ته کوم چې مخ دې وګورم؟

ښځې ته قار ورغی، وغورېده:

_دلته نه، په کور کې.

او چې کریم جان بیا هم سرګردانه تکرار کړه:

_یونیم سل اوغانۍ.

د ښځې خلق هم ورته تنګ شو. بې حوصلې یې ورغبرګه کړه:

_ډېرو خبرو ته حاجت نه شته. یو نیم سل اوغانۍ، ځې که نه؟

کریم جان پوه شو، چې ښځه له خپلې خبرې نه اوړي. که خبر ډېره ورسره وشني، دغسې به یې پر خپل ځای پرېږدي. ځکه یې ویره خوله په خوشامند ورته وویل:

_دا دومره بې حوصله کېږې ولې؟ ... خود به درسره لاړ شم خو په یوه شرط، که مې خوښه نه شوې، بېرته درنه ځم. سمه ده؟

ښځې وویل:

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـــسمه ده.

پسې زياته يې کړه:

ـــزه اوس درنه مخکې کېږم. ته تر شا راپسې راځې... چې ورك نه شې. ښه؟

کريم جان د سر په خوځولو ورته "ښه" کړه. خو ښځه لا نه وه ترې رهې شوې، چې وې پوښتل:

ـــګوره، څوك مېږه، مېږه خو به نه لرې، چې بتره به په جنجال ورسره ککړ يو .

ښځې وويل:

ـــچې مېړه مې ژوندی وای، اوس به تا سره تلم؟

او ګامونه يې پسې چټك کړل. کريم جان هم يو مناسب واټن ترمنځ تر شا ورپسې رهې شو. ښځه ښايسته ډېره لار دغسې مخامخ وړاندې لاړه، چې دوکانونه لږ سره رنګړي شول، ښې لاس ته يوه تنګ سړك ته ورتاو شوه. هلته لا ډېره لاره نه وه تللې، چې بيا ښې لاس ته يوې نرۍ کوڅې ته وروګرځېده. ښځې د کوڅې په خوله کې پښه ونيوله. په ده پسې يې وکتل او چې دی يې له ليرې د دې خوا ته راروان وليد، سر يې کښته واچاوه، سيخه په کوڅه ننوته. کريم جان هم ګام ورچټك کړ. وچ حلق او دربېدونکي زړه يې کوڅې ته ځان ورورساوه، نېغ ورننوت. څو ګامه وړاندې يې ښځه وليده چې دغسې ځوړند سر ورو ورو په تنګه باريکه کوڅه کې وړاندې ځي. کوڅه تشه وه. مازې خال خال به څوك په کې راڅرګند شو، چې خدازده په کومو چورتونو کې ورك يې خپله لار وهله. کريم جان همداسې په تلو تلو کې د کوڅې دواړو غاړو ته ولاړ کورونه له نظره تېر کړل، ټول بې ډوله په يو بل پورې نښتي، کاږه واږه او خواره بشکې وو. بيا يې د هغې په منځ کې نرۍ بهېدونکې بيالې ته وروکتل، چې د شا و خوا کورونو خاورو خځلو په کې لامبل. ترې راپاڅېدونکې خوسا بوی يې زړه وروهسکاوه. بېرته يې ښځې ته سترګې ترې واړولې، هماغسې ځوړند سر وړاندې تله. ښځه له څو نورو کورونو هم تېره شوه. اخر کيڼ لاس ته د يوه واړه کور په خړ وره ورننوته. کريم جان هم په بيړه ځان ورورساوه، چې وره ته وررسېد، ژر يې شا و خوا وکتل، سيخ پرې ورننوت. د وره شا ته يې په يوه نسبتاً تياره دالان کې ځان وموند چې ابل سره يې سرای ته ورووت. دی لا دغسې پکر پر خپل ځای ولاړ و او له تيارې سره يې د خپلو سترګو د اشنا کولو هڅه کوله چې څنګ ته لږ وړاندې يې د ښځې غلی بږغ واورېد:

ـــراځه کنه.

ده ژر د بږغ لور ته وروکتل. هلته يې ښځه وليده چې کيڼ لاس ته د يوې کوټې وره ته ولاړه وه. ښځې ور پرانيست پسې زياته يې کړه:

ـــراځه دلته، دې کوټې ته.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی وړاندې ورغی، کوټې ته ورننوت. وړه کوټه وه یوه زړه توشکه یې په یوه ګوټ کې اواره وه یو وړوکې بالښت هم ورباندې ایښی و. نور ډېر څه نه وو په کې. خو په ښه سلیقه جوړه او پاکه ستره مالومېده. د دالان غوندې تیاره هم نه وه، سرای ته ورخلاصې یوې وړې کړکۍ د تېر مازدیګر پسته رڼا په کې خوروله، ده لا دغسې په کې کتل، چې ښځې وویل:

_هلته په توشکه کېنه.!

کریم جان بې له دې چې څه ووایي، بوټونه وویستل، پر توشکه کښېناست. او چې له هغه ځایه یې بېرته دې ته وروکتل نو د لومړي ځل لپاره یې سترګې د ښځې پر لوڅ مخ ولګېدې. د کریم جان سترګې دغسې وچې کلکې پکې پاتې شوې، ښځه رښتیا هم ځوانه وه، د همدې پنځه ویشت شپږ ویشت کالو. په څېره هم بده نه وه. غټې تورې سترګې، ښایستوکې نرۍ پزه او راکښونکې خوله او شونډې. مازې ډنګر مخ او غومبورو یې لږ ژېړه لمبه کوله. خو نور یې هرڅه ښه وو، کریم جان خپله پرېکړه کړې وه، خوشاله یې سترګې وځلېدې، نرۍ موسکا یې پر شونډو وغوړېده. او چې ښځې وپوښتل:

_څنګه، ځې که پاتې کېږې؟

هماغسې موسکی شونډې یې وویل:

_پاتې کېږم.

دا ځواب یې پر ښځې هم ښه ولګېد. ویره خوله پرې راوړاندې شوه وې ویل:

_سمه ده. نو راکه، اول پیسې راکه.

کریم جان لاس کړ، یو سلګون او یو پنځوس ګون یې ښځې ته ورکړ. بیا یې څنګ ته د هغې کښېناستو ته ځای خوشې کړ. خو ښځې هماغسې پر خپل ځای ولاړ وویل:

_دستي. زه اوس مازې ابلې کوټې ته ځم، دستي بېرته راځم. ښه؟

او څو کریم جان څه ویلو ته خوله راسموله، ښځه بیا له کوټې وتلې وه. ښځه په بیړه د سرای په ابل سر کې پرتې کوټې ته ورغله، چې یوه وړه نجلۍ په کې ویده وه. یو زوړ بوډا یې څنګ ته ناست و. بوډا خواشینی او ناارامه مالومېده. د دې په ورننوتو یې اندېښمن پاس وروکتل، ښځې په ځای کې د پرتې نجلۍ پر تندي لاس کښېښود، وې ویل:

_څنګه ده نجلۍ؟ تبه یې لا نه ده شلېدلې؟

بوډا سر وڅانډه:

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـــنه لورې، هماغسې سره تبې ده.

ښځې د نجلۍ پر خولې جن سر لاس راوکيښ، غلی يې پر تاوده غومبوري مچ کړه. بيا يې بوډا ته کړه:

ـــهه، دا پيسې واخله، دستي بازار ته لاړ شه... څه دوا موا ورته واخله.. كه پيسې پاتې شوې، لږ خواږه هم درسره راوړه، ښه؟

بوډا د سر په ورته خوځولو پيسې ترې واخيستې. بيا يې زړه كلوشه په پښه کړه، لرګينه خيرنه لکړه يې تخرګ ته واچوله، په احتياط له كوټې ووت. ښځې څو ځلې نور هم د نجلۍ پر مخ او سر لاس راوكيښ، پر مخ او تندي يې مچ کړه. وروسته له هغه پاڅېده، لمدې سترګې يې په ورغويو پاکې کړې، آبلې كوټې ته ورغله.

17/7/1356ل کال

كابل

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د سپوږمۍ سترګه

زما د نیا راتلو ته به ټول کور خوشاله و. زما خوښي خو بیا تر ټولو ډېره وه. علت یې هم ښکاره و. زه پوهېدم چې د هغې له راتلو سره زما د ژوند تر ټولو خوږې شپې ورځې پیلېږي. د نازونو او نازولو شپې ورځې، د مور و پلار له منته بېغمه د شوخیو او سات تېریو شپې ورځې، او دا وږې په تودو شپو کې پر بام د ویدېدلو، د نیا پر ورانه باندې سر ایښی له ستورو ډک اسمان ته د ورکتلو او د شپې تر ناوخته د هغې د خوږو کیسو د اورېدو شپې ورځې.

هسې خو مې نیا په نور کال کې هم وخت ناوخته راپېښېده، خو دا راتګ به یې مازې د دوو، درو شپو و، چې هغه به یې هم اکثره زما له مور سره په خپلو ضروري خبرو تېر کړ. خو د توتو ټولولو پر وخت به دوه درې شپې نه، بلکې بشپړې پنځه- شپږ اونۍ راکره راغله. دا وخت به زموږ په باغ کې کار ډېر و. دومره ډېر چې ان مور به مې لا له ابا سره باغ ته تله، چې تر تیاره ماښامه توت ورسره ټول کړي. ښکاره ده چې زه او زما وړوکی ورور یې په کور کې یوازې نه شوو پرېښودلای. باغ ته یې هم نه ورسره بېولو، چې بیا مو د دوی خبره له کاره ایستل. هماغه وو چې نیا به یې زموږ پالنې ته راوغوښته، هغې هم له خدایه همدا غوښتل، ځکه په دې ډول به هغې ته هم له موږ سره د ځو اونیو تېرولو موکه برابره شوه.

دغه کال هم همداسې وشول. چې د تولو ټولولو وخت راورسېد، نیا ته مې یې احوال ورکړ. دوې ورځې پس هغه هم مازدیګر قضا مهال راورسېده. تر هرچا دمخه یې ما ږغ واورېد. له هماغه دباندې ځایه یې رانارې کړې:

ـــلال بسی، وه لال بسی...!!

له دې سره ما هم بې اختیاره چغې کړې:

ـــانۍ!، انۍ!... انۍ مې راغله.!

او خوشاله مې له سرایه وروځغستل. چې وروړسېدم، ټینګ مې یې ډنګر لینګې په غېږ کې ونیول، دومره مې دېخوا اېخوا وځنګوله، چې نژدې مې "درب!" پر مځکه راغورځولې وه. انۍ مې وارخطا لاس دېوال ته تکیه کړ. په خندا یې وویل:

ـــمه کوه زویه چې غوځاره دې کړم .

او ویره خوله راټېټه شوه "چړپ!... چړپ!" یې دواړه غومبورې په پسته کنډاسه خوله رامچ کړل. بیا یې د لاس غوټه پر مځکه کښېښوده. ټینګ یې په غېږ کې ونیولم. په همدې ترڅ کې مې مور و پلار هم راورسېدل. د سترې مشې له ور سره کولو وروسته ټول، په داسې حال کې چې ابا مې یې غوټه ورسره رااخیستې وه، کاله ته ننوتو. په کوټه کې یې د پخوا په شان خنګ ته کښېناستم .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



نیا مې له مور و پلار څخه د حال احوال پوښتنه وکړ. بیا یې، په داسګې حال کې چې ورو ورو زما پر سر لاس راکښود، څو شېبې نورې هم په دېخوا اېخوا خبرو ورسره تېرې کړې. وروسته له هغه یې زما له مور څخه وغوښتل چې غوټه یې ورته راواخلي. خو مور مې لا له ځایه نه وه خوځېدلې، چې ما ټوپ کړل، د کوټې له کونجه مې یې ښایستوکې غوټه ورته راوړه او له تمو ډکې سترګې مې نېغې ورته ونیولې. نیا مې راپوه شوه. په کټکې یې وخندل، سم د لاسه د غوټې په خلاصولو لګیا شوه. چې خلاصه یې کړه، زما د زړه درزا هم زور واخیست. نه، ګومان مې نه و غلط. نیا مې دا ځل هم ښایسته ډېرې نینې او سرې او سپینې او ژېړې او شنې پټاسې ورسره راوړې وې! لا مې دغسې سراښې (حریصې) سترګې هغو ته نیولې وې، چې نیا مې یو ډك موټ په لمن کې ترې راواچول. خو زه په دومره نه وم قانع، خپل موټ مې هم ترې راډك کړ او بیا نو دغسې په تراټ، زما د مور په منت او د نیا او ابا د خندا په کړس کې، له کوټې ووتم .

ماخوستن چې ځایونه پر بام هوار شول او ټول په خپلو ځایونو کې ورته وغځېدو، زما هم ډېر طاقت ونه شو، په شوق د نیا ځای ته ورو‌ښکېدم، ومې ویل:

ــانۍ…. وه انۍ!

ــڅه وایې زویه؟

ــکیسه… یوه کیسه.

نیا مې مهربانه راته "ښه" کړه، پسې وې پوښتل:

ــد څه شي کیسه؟

او چې ما وویل:

ــد ښاپېریو کیسه.

دې هم له لږ سوچ وروسته د یوې داسې ښکلې ښاپېرۍ کیسه راته پیل کړه، چې له ډېرې ښکلا یې د اوبو څاڅکي په مرۍ کې مالومېدل.

زما د نیا زښته ډېرې کیسې زده وې. یو مخ بېلابېلې او یوه تر بلې په زړه پورې. د فتح خان او رابیا او ادم خان او درخانۍ له کیسې رانیولې بیا د کوهْ قاف د ښاپېریو، تورو او سپینو دېوانو، او اووه سرې ښامارانو تر کیسو پورې، چې له خولو یې اورونه بادېدل او غرونه او ځنګلونه یې په مازې ساه پې ورکښلو ایرې کول. د خردجال او جوج ماجوج له کیسو رانیولې بیا د مځکې او بنیادمو د جوړښت او د اسمان د بېلابېلو تبخو (طبقو) او د هغوی په وروناو کې د ولاړو ملایکو تر کیسو پورې، چې شیطان لعین اسمان ته ورختو ته نه پرېږدي او هر وار چې هغه لعین دا هڅه وکړي،

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوی یې د ستورو په کاڼو وولي او ببرته یې لاندې ترې راواچوي. ان د محشر او قیامت د ورځې او جنت او دوزخ کیسې لا ورمالومې وې. او دا، همداسې ښه وه، ځکه د هغې له رویه اوس زه هم په ښایسته ډېرو شیانو پوهېدم. مثلاً زه پوهېدم چې دا څلور کونجه دنیا ټوله د یوه لوی غوایي پر ښکر ولاړه ده؛ دا ښکر بیا پر یوې لویې ګارې ایښې او دا لویه ګاره هم د یوه غټ کب پر ملا پرته ده، چې هغه بیا خپله د زښته ډېرو اوبو په منځ کې لامبي. زه پوهېدم چې مثلاً زلزله ولې کېږي، ته وایه څنګه؟ ډېر ساده:

کله چې د دې غویي یو ښکر، چې دا ټوله دنیا وربانديې ولاړه ده، ستړی شي، نو بیا څه شی کوي؟ دا هم ډېر ساده: دا څلور کونجه دنیا خپل ابل ښکر ته ورغورځوي او د دې کار په کولو سره خو نو مالومداره خبره ده چې دا ټوله دنیا هم ولړزېږي او زلزله وشي. ښکاره ده چې د دې لړزېدو له امله به دا ټوله دنیا د وخته لا نړېدلې وای. خو له ښه مرغه خدای پاك د غرونو لوی مېخونه ورکې ټك وهلي او همدا د غرونو لوی مېخونه دي، چې مځکه یې ټینګه رانیولې او نړېدو ته یې نه ورپرېږدي. ماته اوس ان دا هم رامالومه وه، چې موږ ټول بنیادمان له خاورو جوړ یو. دا خبر خو مې یوه ورځ خپله لا حیران راباندې راټولو همزولو ته ثابته کړه. بې له دې چې نیا مې راښودلې وي. اوه چې څومره په ځان وویاړېدم. کاشکې تاسې هم راسره وای، چې د دوی هك پك مخونه مو لیدلي وای! ټول مې خړ پړ په ځای کښېنول! ښه مې په یاد دي، د خوړ څنګ ته پر لویه پرښه سره ناست وو. ما د بنیادمو د جوړښت کیسه ورته کوله، چې ورته ومې ویل چې موږ ټول له خاورو جوړ یو. شکمن یې یو بل ته سره وکتل، ماناداره غونديې یې سره وموسل. زموږ د ډم زوی، جلاتي خو راپورې ولا خندل. لکه خوشې دروغ چې ورته وایم. دې کار یې وینې راکې په غورځنګ کړې. زما دنیا په خبر کې شك؟ هغه هم د دې تیزن جلاتي له خوا؟... نه!... په هر ډول چې وي، باید چاره مې یې کړې وای. هماغه وو چې قارجن مې د دوی جینګې خولې له نظره تېرې کړې، له لږ سوچ وروسته مې وویل:

ـنې (نه یې) منئ؟

دوی وویل:

ـنه!

ما ویل:

ـنې منئ؟

دوی ویل:

ـنه!

ما بیا وویل :

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ــنې منئ؟

او چې دوی بیا وویل:

ــنه!

ما هم چټك لستوڼی بډ واهه، د دوی ټولو په مخ کې مې خپل مړوند څو واره ښه کلك وګراوه. چې لیکې لیکې خاورې پرې راپستې شوې، هماغسې قارجن مې مړوند دوی ته ونیو، پرې وربرچ مې وهل:

ــدا چګي شی دی، ها؟...

دوی چې زما په خاورو خړ مړوند ولید، سره تلولي غونډې شول. خو لکه چې بیا یې هم سمه زړه ته نه وه لوېدلې، ځکه یې ژر ژر خپل مړوندونه هم وګرول او چې د دوی پر هغو زما تر مړوند لا ډېرې خاورې راپستې شوې، نو دوی ته هم بله چاره ورپاتې نه شوه، بې له دې چې دغسې ژېړې سترګې غلي پر ځای کښېني. له دغې ورځې وروسته نو بیا چا زما په خبر شك ونه کړ. ما هم، هره شپه چې مې نیا کومه کیسه راته کړې وه، په دا بله ورځ شا و خوا راباندې راټولو همزولو ته په مزه مزه اوله خاصو ډمامو په ډك انداز اوروله. یو څه مالګه مې له خپله ځانه هم پرې دوروله. خو اوس چې مې دوی ته بنیادم د جوړښت غونډې ګرانه خبر ثابته کړې وه، نو کومه و هغه د نر زوی، چې څه په کې وواېي!. بس ټول به راته غوږ غوږ وو او له ستاینو په ډك نظر به یې راکتل، چې تر دوی ټولو په ډېرو شیانو پوهېدم. ما هم خدای شته من من غوښې پرې اخیستې. هم پر دوی باندې د بروالي او هم پر دوی د خپل دومره لوی تاثیر له امله. په تېره بیا چې د محشر د ورځې او جنت او دوزخ کیسې به مې ورته کولې. دې کیسو نه یوازې پر دوی، بلکې پر مور ټولو خپل خاص اغېز لاره. کله چې به مې د جنت د ښکلو باغونو او چمنونو، په کې ناستو راز راز مرغانو او تر شاتو لا د خوږو مېوو او له شیدو او شاتو څخه د ډکو ویالو کیسې ورته راواخیستې، نو زما غونډې به د دوی زړونه هم ورته مښې مښې شول او خولو به مو اوبه ورته وکړې. او د دوزخ کیسو خو به ځای پرځای غوني راوتښتول.

د هغه د غټو او ژورو تنورونو، په کې د بلو اورونو کیسو چې لمبو یې کاڼي ویلي کول، او د دومره ډېرو مارانو او لړمانو د چیچلو او د سره اور په ګرزونو باندې د وهلو_ ډبولو کیسو به داسې له ډاره ولړزولو، چې بې اختاره به مو په خاورو سپېرې کړې ګوتې د پزو پر سرونو راوکښلې او په توبو توبو به مو له خدایه وغوښتل چې ترې ومو ساتي.

ښکاره ده چې په دې دومره پوهې وياړېدم. او د دې خبرې کولو ته خو نو حاجت هم نه شته، چې دا ټولې کیسې به نه وای رامالومې، که مې نیا نه وای راته کړې .

دغه شپه هم، چې د ماښام له ډوډۍ وروسته بام ته راووتو او هر څوك په خپل ځای کې پرېووت، زه د نیا ځای ته ورغلم، سر مې د هغې پر مړوند کښېښود. څو شېبې مې دغسې پاس اسمان ته وروکتل، چې نن یې د ستورو ځلا د

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



بشپړې راختلې سپوږمۍ رڼا يو څه ورته کړې غونډې وه. وروسته له هغه مې بېرته نيا ته مخ ورواړاوه، يوه کيسه مې ترې وغوښته. چې دې وپوښتل :

د څه شي کيسه؟

ما هم ورغبرگه کړه:

ــ د کيامت کيسه.

د قيامت د نامه اورېدلو خدازده ولې خواشينې کړه، گرومجن يې وويل:

ــهی، هی... پوښتنه يې مه کوه زويه چې ډېر تريخ ساهت (ساعت) يې دی.

او ديوه ساړه اسوېلي له کښلو سره ژورو انديښنو يووړه. بيا يې لکه له ځان سره چې ږغېږي، هماغسې انديښمن پسې وويل:

ــروزي ماشر کې جان گودا...ا..ز بو وَد. اولين پورسيش از نه... ما... ا... ز بو وَد.

)روز محشر که جانگداز بود اولين پرسش از نماز بود(

زه مې دنيا په پارسي چندان پوه نه شوم، خو څه مې ونه ويل. ما ويل مه يې کوه په خپله خوښه وړاندې لاړه شي. له ښه مرغه دې هم ډېر ونه ځنډولم. په داسې حال کې گچې گوتې يې زما په وېښتو کې ښخې کړې وې او نرم نرم يې زما سر پرې گراوه، وړاندې پسې لاړه:

ــوايي په دغه ورځ به لمر مازې يوه نيزه پر سر جگ ولاړ وي، زويه.... خلك به تر زنې په خپلو خولو کې ډوب وي. او د سر ماغزه به يې د اوبو غونډې په کوپړيو کې خوټېږي. مځکه به هم سره تبۍ وي... موږ به ټول د خدای پاك په اوزور (حضور) کې ولاړ يو، د هر چا املنامې (عملنامې) به يې مخې ته ورته ايښی وي. که چا په دې دونياښه کړي وي که بد، ټول به په کې ليکلي وي، زويه...

ما چې دا ټول شيان د خپل ذهن په سترگو ليدل، ناڅاپه مې ورغوڅه کړه:

ــنو دا ټول شيان څوك په کې ليکي، انې؟

ــملايکې يې ليکي، زويه، ملايکې.!

او چې ما حيران وويل:

ــملايکې؟

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



نرم يې وخندل، وې ويل:

ـهو زويه... وايي د هر بنيادم پر اوږو دوه ملايکې ناستې دي، يوه پر ښي اوږه، بله پر کينه اوږه. د ښي اوږې واله يې د سړي ښه کارونه ليکي، د کينې واله يې بد کارونه.

ما بې اختياره لاس اوږې ته ورووړ، خو نيا مې په خندا وويل:

ـنه زويه، ملايکې څوك په لاس نه شي رانيولای، هغوی له نوره جوړې دي، موږ بنيادم يې نه ليدلی شو، نه نيولی.

زه له خپل کاره لږ خړ غوندې شوم. شرمندوکی مې لاس له اوږې ايسته کړ او د نيا خبرو ته غوږ شوم، چې پسې زياته يې کړه:

ـخو له دې ټولو خبرو مخکې بايد اخر زمان راشي زويه. او اخر زمان هم تر هغو نه راځي، چې څو يې اول الايم (علايم) نه وي راغلي...

له دې سره يې بيا لږ خواشيني په ږغ ورګډه شوه، انديښمن يې پسې وويل:

خدای مې دې غاړې نه بندوي، ځينې الايم خو يې دغه اوس لا راغلي... زه چې دې خلکو ته ګورم...

او د يوه ساړه اسوېلي په کښلو يې خپله خبر نيمګړې پرېښوده. خو ما ډېرې چوپتيا ته پرې نه ښوده، ترې ومې پوښتل:

ـڅه الايم؟

نيا مې لنډ په ځنګ راوکتل، هماغسې انديښمنه وړاندې لاړه:

ـهو زويه! نو وايي چې په اخر زمان کې به خلك ډېر بې لمازه شوي وي. بې لمازه څه چې په دين به شرمېږي لا!، توبه خدايه، توبه... وايي د مال او دولت مينه به زښته په کې ډېره شوې وي. دومره ډېره، چې له دين او ايمانه به پرې تېر وي... شرم او حيا به يو مخ له خلکو کوچېدلی وي. ښځې به له مېړونو حيا نه کوي او کشران له مشرانو.. وايي په اخر زمان کې به ښځې د نرو ډول کوي، نر د ښځو. خدای مو دې ترې وساتي زويه. په ښار کې خو همدا اوس لا دغه حال دی. د ښځو وېښته تر څټه رالنډ دي او نر بيا درګرده لګيا دی، خپلې څڼې ورته اوږدوي. څو يې مخې ته ورنه شې له شا به يې نه نر وپېژنې، نه ښځه... وايي په هر کاله کې به سازونه غږېږي، داشی خو يې اوس ان کلو ته لا راغلی، چې هر کاله ته ورشې، همدا رادوګانې (راډيوګانې) دي، چې په کې چالانه دي، همدا د سازونو درنګ و درونګ دی، چې په کې جوړ دی... زه خو چې دې ټولو الايمو ته ګورم زويه، اخر زمان تيار راغلی بوله، بس مازې د خر جدال او جوج و ماجوج راتله لا پاتې دي....

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



او د خردجال او جوج و ماجوج کیسه خو یې نو ما ته هم رامالومه وه، چې دومره غټ خر یې دی، چې له غرونو او سیندونو څخه په مازې پښه اړولو تېرېږي او د وېښتو هر تار یې اویا زره سازونه ږغوي؛ هغه هم داسې خوندور چې په مازې اورېدو یې خلك بېسده کېږي. خرشنه یې هم د سرو زرو غونډې بریښي، چې ترې راولوېږي، هرڅوك د سرو زرو په تمه ورمنډې کړي، خو چې راوایې خلې نو سره زر نه، بلکې مازې خرشنه یې رااخیستي وي. خو په دې کار یې ایمان هم له سره الوتی وي او کاپر له دنیا تېر شي. زه پوهېدم چې خردجال همدا اوس- اوس د کوهْ قاف په یوه غار کې د خپل خره د ځل په ګنډلو لګیا دی. کرۍ ورځ یې په همدې کار تېره شي، ماښام چې ستړی ستومانه د ځل له ګنډلو راخلاص شي، نو خوشاله ووایي چې: "سبا به له خپل خره سره پې وروزم". خو چې "خیر!" یې نه وي ویلی، نو سهار چې ګوري د خره ځل یې ټول بېرته جړانګې بړانګې شوی وی. هماغه دي چې دی هم بېرته د ځل په ګنډلو لګیا او خلك ترې خلاص شي. دا کار ان د قیامت تر شپې پورې همداسې روان وي، خو د قیامت په شپه دی هم ووایي چې سبا به "له خیره!" پې وروزم. له همدې کبله یې په دا بل سهار، د "خیر" ویلو له برکته، د خره ځل نه وي ټوټې- ټوټې شوی او دی هم په خپل خره سپور له غاره پسې راووزي .

او بل یې دا جوج ماجوج دی، چې په "چین ماچین" کې د یوه لوی او پرېړ اوسپنیز دېوال شاته بند پاتې دی. دا بلا یې بیا دومره واړه دي، چې ان د یوې ورې ترخې سیوري ته یې لا په زرګونو تنه پراته وي او خپل ټوپکونه یې بېغمه د ترخې پر څانګو ورته ځړولي وي. خو له دې ټول وړوالي سره یې شمېر بیا دومره د خره له مرګه ډېر دی، چې همدا پنډ اوسپنیز دېوال، چې دوی یې شاته بند دي، بس په مازې یوه ورځ کې په څټلو څټلو د یوې پاڼې غونډې نری کړي. دومره نری، چې ماښام ان د دېوال ابله خوا ترې ښکاري، خو ددوی خوله هم خدای شکر د "خیر" په ویلو ماته کړي، ځکه نو دوی هم، ماښام چې له خپله کاره راخلاص شي، مازې ووایي چې: "سبا به دا پاتې برخه هم وڅټو او بیا به نو پر خلکو ورخوشې کېږو". خو سهار چې ګورې نو دېوال د خدای په حکم بېرته هغومره پنډ شوی وي، لکه پرون چې و. په دې ډول دا کار هم د قیامت تر شپې پورې همداسې روان وي، خو د قیامت په شپه اخر دوی هم "خیر" ووایي. هماغه دی، چې دېوال په دا بله ورځ بېرته پنډ نه شي او دوی یې د پاتې برخې له څټلو وروسته په خلکو راخوشې شي او ټول کلي او ښارونه رېز مرېز کړي...

زه لا په همدې چورتونو کې ډوب وم، چې نابېره مې له شا و خوا بامونو څخه ګونګوسی تر غوږ شو. حیران مې غوږونه څك کړل او چې نیا مې وویل: "سپوږمۍ یې نیولې" او په توبو او زاریو سر شوه، ما هم چټك پاس وکتل. عجیبه وه، سپوږمۍ رښتیا هم بل ډول مالومېده. تك سپین مخ یې اوس ژېړبخونه سره لمبه کوله. لکه چا چې رنګ ورشیندلی وي. وارخطا مې نیا وپوښتله، خو هغې د ځواب پرځای ژر ژر کلمه درسته کړه، تلولی یې وویل :

_هله زویه! کلیمه درسته که چې خدای پاك راباندې ورحمېږي... ګوندې ستا له رویه راتېر شي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما هم کلمه درسته کړه، ژر ژر مې خو توبې وویستې، خو بیا مې هم طاقت ونه شو. بیا مې نیا وپوښتله، هماغسې تلولی یې راغبرګه کړه:

ـ کله چې د خلکو ګوناوې له حده واوړي زویه، نو خدای ورته په قار شي. وایي خپل اسمان پې نړوم. خو سپوږمۍ ورته ژاړي او زارۍ ورته کوي، چې پې ورحمېږي، ځکه یې سترګه له ژړا تکه سره واوړي .

او بېرته په توبو او زاریو سر شوه. دې ځواب مې یې هڅونه راولړزول.

اسمان راباندې رانړوي؟!... پر مورې ټولو باندې؟!... بیا خو نو ترې لاندې کېږو کنه؟!.. زبون وهلی مې بیا سپوږمۍ ته وروکتل. سور رنګ یې نور هم سور شوی و. تیار لکه د یوې ژړېدلې سترګې غوندې، چې ښه ډېر یې ژړلي وي. شېبه پس خو یې بېخي زما د نیا د پرتاګه رنګ واخیست. "توبه خدایه، توبه..." بېرته په توبو سر شوم .

د خلکو ګونګسي لا زور پسې واخیست. اوس مې یې له ورایه توبې او زارۍ سهي کولای شوې. زما مور و پلار هم راویښ شوي وو، هغو هم خپلې توبې له دې نورو سره ګډې کړې. زمونږ د ګاونډ، تورا باز اکا، ښځه، بیا ورانه شوې وه، ان زمونږ تر بامه یې ږغ راته، چې درګرده یې همدا "عف...فګ...فګ...! عف....فګ....فګ!...عف...فګ.... ف...ف..." کول. خواښې او مېره یې په زاریو له پېریانو څخه غوښتل چې بېرته یې خوشې کړي، خو هغوی نه خوشې کوله.

په همدې تر څ کې د ملا صیب ږغ له مسجده اوچت شو. خو اوس یې اذان نه کاوه، څه نور څه یې ویل چې زه نه پرې پوهېدم. مازې به یې هرڅو شېبې پس په کې وویل: "صلوات!... صلوات!.." او چې بیا به یې په کې ورچیغې کړې: "استغفار!!... استغفار!..." نو دلته به ټول کلی هم په کریغو پسې وویل: "استغفار!... استغفار!..." او لا په ځورې به یې توبو ته زور ورکړ .

دا ټولې ډارونکې پېښې داسې لنډ و ګنډې، داسې پر له پسې وشوې، چې یو مخ یې وانې راوتښتولې. یو مخ یې لار او ګودر رانه ورك کړل. دغسې وچ حلق او ټول پرکېدونکی مې بیا سپوږمۍ ته وروکتل او له دې سره مې یو نیږدې پرتوګ لوند کړی و. نه، خبر تمامه وه، د سپوږمۍ یوه څنډه اوس کنډو شوې لا وه!. بې اختیاره پرنګ په ژړا شوم، په چونګن ږغ مې خدای ته زارۍ پیل کړې. په همدې شېبه کې مې د نیا راته پام شو. هغې چې ولیدل چې زه لا تر اوسه دغسې لوڅ مخ په ځای کې پروت یم، نیږدې یې چیغه له خولې وتلې وه. راټوپ یې کړل، له تعجبه په ډکو سترګو یې بړستن راباندې کش کړه، وې ویل :

ـ ویده شه زویه! هله، مخ پټ که چې ونه ډار شې ...!

او خپل لاس یې پر بړستن سربېره زما پر رېږدېدونکې اوږه کښېښود. ما هم بړستن ټینګه پر سر راوکښه.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



او خپلې توبې او عذرونه مې هماغسې جاري وساتل. شپېبه پس لکه چې د دوی چیغې هم لږ کرارې غونډې شوې. خو ما مخ بېرته رالوڅ نه کړ، هماغسې ډارن او خولی جن تر برستن لاندې پټ پاتې شوم. خدازده څه وخت و، چې خوب یووړم .

سهار چې له خوبه راویښ شوم او لمر مې د مخامخ کورونو پر سر هسك ولاړ ولید، ډېر خوشاله شوم. بې اختیاره مې خوله ویړه شوه، څو شکرونه مې وکښل. خدای پاك مو توبه منلې وه او خپل اسمان یې نه و راباندې رانړولی.

1999/4/5

لندن انګلستان

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## "الوتل ورزده کوو"

دا هغه څه دي، چې ما په خپلو سترګو لیدلي. لیدلي يې څه چې خپله مې برخه په کې اخیستې ده. که بل چا راته ویلي وای لا به مې چندان نه وای ورسره منلی. خو اوس چې مې خپله دا کار کړی، نو څنګه به شك پرې وکړم، هن؟

ښه مې ټول په یاد دي. د انقلاب د پیل میاشتې وې. هرڅه انقلابي وو، هره ورځ په ملك کې ژور بدلونونه. هره ورځ د خلکو په ژوند کې انقلابي تحولات. او د انقلاب ستر لاربنود هم په خپل هر فرمان دی. انقلابي بهیر ته لار زور پسې ورکاوه.

ښکاره ده چې اخوا د انقلاب ضد عناصر هم غلي نه وو راته ناست نه. د ارتجاع او فیوډالیزم استازي داسې په اسانه له خپلو طبقاتي ګټو څخه تېرېدونکي نه وو. هره ورځ نوې توطیې او دسیسې، هره ورځ د انقلاب مخې ته نوي خنډونه او لانجې. تر دې حده، چې اوس يې ورو ورو خبر وسلوال پاڅون ته رسېده. هره ورځ د اشرارو د نویو ډلو د سر پورته کولو رپوټونه رارسېدل. نن دلته، سبا هلته. او زه چې اوس اګسا (د انقلاب د ګټو ساتندویه اداره. یا د نور محمد تره کې استخبارات) ته راتبدیل شوی وم، یقیناً تر نورو ډېرو ملګرو د ملك له پېښو او حالاتو زیات خبرېدم. دلته زه هغه د چا خبره د پېښو په مرکز کې ورته ناست وم او دا همداسې ښه وه، ځکه دلته مې په خپلو سترګو لیدل، چې څنګه طبقاتي مبارزه وار په وار زور پسې اخلي. خو تر اوسه لا موږ برلاسي وو. تر اوسه د اشرارو ډېر کارونه احساساتي او بې له کوم خاص ډسپلینه وو. له همدې کبله يې ټکول هم دومره ګران نه وو. موږ هم پسې رااخیستې وه، هرځای چې به ګوتو ته راغلل، داسې انقلابي چلند به مو ورسره وکړ، چې نورو ته لا پند شي. موږ غوښتل چې د هوا تر سرېدو مخکې لا دا هر لور خورېدونکي اشرار وځپو. هغه هم داسې مزغن، چې د بیا سر پورته کولو خیال ورنه شي. له همدې امله مو شپه ورځ په ځان یوه کړې وه او په نه سترړیا مو د انقلاب د ګټو ساتلو ته زیار یوست.

دغه ورځ مې هم تر تیاره ماښامه په کار تېره کړه، هغه هم په خوشې اداري کارونو، چې هېڅ مې ښه نه اېسېدل. خو چاره څه؟ دا کارونه هم باید شوي وای. سره له دې چې دا ټوله ورځ پرې اخته وم. بیا هم یو خروار کاغذونه پرمېز راته پنډ وو. خو نور نو په ما کې د کار حوصله نه وه پاتې. ټول شیان مې دغسې پر خپل حال پرېښودل. ډېر سر مې پستې څوکۍ ته تکیه وکړه، څټ ته د دواړو لاسونو له ځولۍ کولو سره مې سترې سترګې سره ورو‌ړې، چې لږ دمه شي. په همدې ترڅ کې د ټلیفون زنګ ورغېده، بېرته راسم شوم، بې له کوم خاص شوقه مې غوږۍ راپورته کړه، زهیر په کې وچونګېدم:

_هه... لووو؟

امر مې و، وې ویل:

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـملګری ولسیار؟

ـصېب!

ـکه لږ زما کوټې ته راشې.. په کار مې وې .

ومې ویل:

ـپه سترګو صېب.

او غوږې مې بېرته کښېښوده. بیا مې یو دوه غزونې وکړې، د لنډ اررمی له کښلو سره پاڅېدم، دغسې چورتي یې کوټې ته ورغلم. امر مې بیا په ټلیفون کې له چا سره لګیا و. زما په لیدو یې نرم راته وموسل، د سر په اشاره یې پرمخامخ څوکۍ د کښېناستلو بلنه راکړه، غلی په راښودلی ځای کښېناستم. چې راخلاص شو، وار له واره یې وپوښتل:

ـخیر خو دی ملګری ولسیاره سترګې دې ډېرې سرې دي... بې خوبه خو نه یې؟

ـنه صېب! هسې سترې شوم... بې خوبه نه یم .

په خواخوږۍ یې سر راته وخوځاوه تسل یې راکړ:

ـڅه خیر دی ملګریه، د انقلاب په خدمت کې سترې یې، نه د کوم ارتجاعي نظام په چوپړ کې.

د سر په ورته خوځولو مې یې خبر تصدیق کړه، ومې موسل. ده غوښتل نور څه هم ووایې، چې بیا ټلیفون وکړنګېده. بې حوصلې یې غوږۍ راجګړه کړه. په څو لنډو جملو یې د ټلیفون کوونکي خبر ورخلاصه کړه. لالهانده یې ما ته راوکتل:

ـدغه مې حال دی... تیار ټلیفونچي راڅخه جوړ شوی، درسته ورځ همدغه درنګه درنګه او درنګه درنګه ټلیفونونه دي چې راکېږي .

ما هم په خواخوږۍ سر ورته وخوځاوه او له ده سره یو ځای لنډه شېبه چوپ شوم. وروسته له هغه یې بېرته د خبرو لړۍ پسې راټینګه کړه:

ـهورښییا؛ همدا اوس به هوایي ډګر ته لاړ شې، ملګری غورځنګ هلته درته سترګې په لار دی... چې وروړسېدئ، خپله به ټولې خبرې درته وکي، تاسې بس د هغه په لارښوونو امل (عمل) وکئ. مقصد مې ته او ملګری بشردوست یې... هغه هم درسره بوزه.

مالا خوله خبرې ته راسموله، چې بیا د ټلیفون ږغ اوچت شو. امر مې غوږۍ پورته کړه، په کې وې ویل:

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـــ هلو؟

اوما ته یې د تلو اشاره وکړه. چاره نه وه، پاڅېدم، دغسې ناارامه یې له کوټې ووتم. چې خپلې کوټې ته ورغلم، خدای شته پوره ناراضه او په قار وم؛ او ټول د همدې لعنتي بشردوست له امله. له دې سړي څخه مې یوه ذره ښه هم ولاکه راتلل. لومړی خو پرچمی و او د ټولو پرچمیانو غوندې دی هم دې خپلو څو لوستلو کتابګوټو ته ډېر په هوا کې و، چې مازې به دې خبر ورسره دېخوا اې خوا کړه، نو له مارکس او انګلز نه رانیولې، بیا تر ملګري لینن او ستالینه به یې د ټولو مقولې درته کتار کړې. هغه هم په داسې انداز، لکه له دې ټولو سره چې یې په یوه سماوار کې چاینکی خوړلې وي. او دویم یې دغه بې شخصیته شخصیت و، چې په هرځل لیدو یې یومخ کانګې راوستې. دومره غوړه مال، دومره ښوی او بې خاصیته او دومره په هېڅ نه ویشتلی چې هك حیران به ورته پاتې شوې. بس د دنیا هره سپکه یې په ورین تندي زغلمه، خو په دې شرط چې دا میرات مړې څوکۍ یې پرې وساتله شي. کاشکې یې داسې یوه څوکۍ خو لا وای. او اوس چې یې رهبران هم له ګوند او دولته شړل شوي وو، اوس خو نو بیا هغه سرکوزی ترې جوړ شوی و، چې راشه که یې ګورې. خو بلا پې پسې. هرڅه چې وو، مهمه خبر دا وه چې له بده مرغه مې امر د هغه د راسره بېولو راته وویل او ما هم د دې کار له کولو پرته بله چاره نه درلوده. هماغه وو چې لومړی مې خپل کور ته ټلیفون وکړ، ښځې ته مې وویل چې نن شپه ښايي بیا ناوخته کاله تا راشم او بیا مې بشردوست ته زنګ ورووواهه، ترې ومې غوښتل چې هوايي ډګر ته راسره تلو ته ځان تیار کړي. شېبه پس دواړه هوايي ډګر ته د تلو په نیت په موټر کې ناست وو. موټر وخوځېد، چټك یې د هوايي ډګر لار په مخ کې واچوله او زه خدای شته دا ټوله موده په همدې چورت کې ډوب وم، چې دا څنګه مهم کار دی، چې امر مې یې هېڅ په باب راته ونه ویل. دی هم لکه چې همدې پوښتنې په کراره نه پرېښود، څو ګامه وړاندې یې بیا وپوښتل:

ـــ نور یې هېڅ توضیحات درنه کړه؟

هاغسې لنډ مې وویل:

ـــ نه!

او ځان مې د موټر له کړکۍ څخه دباندې کتلو ته ترې مشغول کړ، چې پر له پسې یې کورونه او واټونه ترشا کول. شپه اوس ښایسته تیاره شوې وه. په شا و خوا کورونو کې څراغونه لګېدلي وو، د شپې ګرځ بندیز ته لا وخت پاتې و، خو ښار له خلکو تش مالومېده. د هغوی پرځای اوس هر څو ګامه پس د ګزمې موټر سړي ته په مخه ورتلل، چې ګړندي دېخوا اې خوا ګرځېدل .

ډېر وخت نه و تېر، چې له ښاره ووتو. هر څومره چې هوايي ډګر ته ورنیږدې کېدو، هغومره د نظامي موټرو تګ راتګ ډېرېده، هغومره د ګزمو پوستې ډېرېدې. سره له دې چې زموږ موټر هم روسي جیپ و، خو هوايي ډګر ته له ورننوتو مخکې بیا هم څو ځایه موظفو پیره دارانو ودرولو، موږ هم هرځل د خپلو کارډونو په ورښوولو او د ملګري

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



غورځنګ د نامه په وراخیستلو خپله لار ترې خلاصه کړه او وروسته له هغه هماغسې په بیړه وړاندې ترې لاړو. تر څو چې هوايي ډګر ته ورسېدو. هلته ملګرى غورځنګ تیار د خپلې ودانۍ په مخ کې راته ولاړ و. د بشردوست په لیدو ویړه خوله له ورسره ولاړو کسانو رابېل شو، څو ګامه زموږ پر خوا راغی. چې وروړسېدو، غېږ یې پرانیسته، ښه تود روغبړ یې راسره وکړ. وروسته له هغه یې، په داسې حال کې چې زه له لاسه نیولی وم او دغسې کرار کرار یې د خپلې کوټې پر لوري له ځان سره بېولم. وویل:

_ښه شو چې په خیر راغلئ.. . ما ویلې هسې نه چې په لار کې له کوم تکلیف سره مخاخ شوي یاست.

په دواړو مو ورغبرګه کړه:

_نه صېب، بېخي اسوده راغلو.

ده مازې سر راته وخوځاوه څه یې ونه ویل. خو بشردوست پسې وپوښتل:

_لکه چې ډېر وځنډېدو صېب؟

ملګري غورځنګ هماغسې په دالیزګ کې روان وویل:

_نه ملګري بشردوست. دومره ونه ځنډېدئ... زه هم همدا اوس درپسې راووتم .

او څو ګامه وړاندې له موږ سره یوځای یوې غټې کوټې ته ورننووت. هلته یې پر ښایسته کوچونو د کښېناستو بلنه راکړه. زه او بشردوست له یو بل څخه لږ لیرې سره کښېناستو. ملګري غورځنګ لومړی د خپل کار مېز ته ورغی. هلته یې په ټلیفون کې چا ته زموږ د رارسېدو خبر ورکړ، ترې وې غوښتل چې د هر شي له تیارېدو سره ده ته احوال ورکړي. وروسته له هغه موږ ته مخامخ پر کوچ کښېناست وې ویل:

_اوس دستي به ټول شیان په خیر تیار شي .

موږ سرونه ورته خوځول، لا مو څه نه وو ویلي چې پسې وې پوښتل:

_څنګه، وږي شوي خو به نه یاست؟ لږه ډوډۍ موډۍ به راوغواړو.

په دواړو مو وویل:

_نه صېب، تکلیف ته حاجت نه شته.

_څه تکلیف؟... هېڅ تکلیف ولا که وي. که وږي یاست، څه شی به راوغواړو، په یوه دقیقه کې یې له کانتینه راوړي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



او چې موږ بیا په منني سره ورته "نه" کړه. ده هم نور ټینګار ونه کړ، پاڅېد، په چایبر کې له تیار جوړ کړي چایو څخه یې موږ ته هم دوې پیالې راډکې کړې. په داسې حال کې چې له خوږو سره یې زموږ مخې ته پر مېز ایښودلې وې، وې ویل:

_ځه ملګرو، تر هغو به دا چای سره وڅښو.

او په دې ډول یې له موږ سره خپله مرکه جاري وساتله. زما خدای شته له هاغه لومړي سره ښه ترې راغلل. مینه ناك او انډیوال سړی و، څوکۍ او منصب نه و په هوا کړی. سره له دې چې د لومړي ځل لپاره مې ورسره لیدل، بیا یې هم داسې له ملګرتوبه ډك چلند راسره کاوه، لکه له عمرونو چې سره پېژنو. موږ دغسې د چایو له څښلو سره د خپلو اداري کارونو او هېواد پر حالاتو سره ږغېدو، لا مو د چایو دویمې پیالې نه وې تشې کړې، چې ټلیفون ورږغېده. ملګري غورځنګ د "وبخښئ" له ویلو سره پاڅېد. د کار پر مېز د پراته ټلیفون غوږی یې راپورته کړه، په کې وې ویل:

_هلو؟

وروسته له هغه یې څو شېبې په ځیر ټلیفون کوونکي ته غوږ ونیو، په پای کې یې مازې وویل:

_سمه ده.

او د ټلیفون غوږی یې بېرته کښېښوده. بیا یې له هماغه ځایه موږ ته کړه:

_ځو له خیره.

او نبغ د کوټې پر وره وررهي شو. موږ هم پسې وخوځېدو، بې له دې چې تر دغه اوسه لا رامالومه وي، چې چېرته او په څه خاطر؟. له کوټې ووتو. د ده غوندې په غټو ګامونو مو ځان د هوايي ډګر انګړ ته ورساوه. هلته ملګري غورځنګ یو ناڅاپه ودرېد. له لنډ فکر کولو وروسته یې غاړه تازه کړه. په داسې حال کې چې سیخ یې موږ ته راکتل، په جدي لهجه یې وویل:

_له همدې ځایه زموږ او ستاسو وظیفه پیلېږي. له همدې شېبې راوروسته چې هرڅه پېښېږي باید زموږ ترمځ پاتې شي!... پوه شوئ؟

او چې موږ حیران غوندې ورته "ښه" کړه. دی هم هماغسې په چټکو ګامونو بېرته رهي شو. موږ هم چوپه خوله پسې وخوځېدو. ما په شا و خوا کتلو ځان مشغول کړ. په هوايي ډګر کې رڼه رڼا جوړه وه، هر لوري د نظامي الوتکو، شوبلو او موټرو شور او ځوږ خپور و. هرځای همدا نظامیان وو چې دوري هوري کېدل. هر یو په خپل- خپل کار لګیا، دلته د ژوند داسې ګڼه ګوڼه جوړه وه، لکه هېڅ شپه چې نه وي.ما دې ګڼ شمېر ولاړو بېلابېلو الوتکو ته کتل او فکر مې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



پر له پسې د ملګري غورځنګ پر وروستۍ خبرې راڅرخېده. خدازده ولې مې زړه یو ډول درزا غوندې سر کړې وه. له ښایسته ډېرو الوتکو تېر شوو. څو ګامه وړاندې ملګري غورځنګ یوې نظامي چورلکې ته لاس ونیو:

ــهغې هلیکوپټرې ته ورځو.

له تلوسې په ډک زړه مې وروکتل. غټه چورلکه وه، څو وسلوال سرتېري هم "تیارسی" ورته ولاړ وو. لا دغسې پرې وتلو چې پسې زیاته یې کړه:

ــاشرار په کې دي... ډېر خطرناکه اشرار!. باید ډېر پام ورسره وکړو.

موږ مازې سرونه ورته وخوځول او نور هم وړاندې ورغلو. چې دننه ورننوتو، له ډېرې حیرانتیا مې خوله وازه پاتې شوه. چورلکه زیچه له اشرارو ډکه وه.

ټول یو بل ته جوخت د چورلکې پرمځکه ناست وو. د ټولو لاسونه له شا ورتړل شوي وو. څو ټیټ پوړي نظامیان هم کلاشینکوف په لاس چمتو ورته ولاړ وو، چې کوم بېځایه حرکت ترې ونه شي. اشرار د هرې ژبې او هر عمر خلك مالومېدل. د ډېرو پرمخ او ځانونو د ورسره شویو تحقیقاتو نښې نښانې له ورایه ښکارېدې. د چا و چا خو لا د تن جامې ورباندې ریتاړې ریتاړې شوې وې. ټول دغسې غلي او اندېښمن پر خپلو ځایونو ناست وو. لکهورباندې مېخ کړي چې دي وي. ما چې د دوی دې سر او تنو ته وکتل، خدای شته یو مخ مې اختیار ترې تېر شو. له ملنډو په ډکه لهجه مې له ځان سره وویل: "... ډېر خطرناکه اشرار!... دغه خواره بشکي بلا؟... خطرناکه؟!..." او د ملګري غورځنګ پر خبره خندا راغله. په همدې ترڅ کې ملګري غورځنګ بېرته د پیلوټ له کوډلې څخه راووت. لومړی یې په لوړ ږغ د چورلکې د الوتلو خبر راکړ. بیا یې ما او بشردوست ته زموږ ځایونه راوښودل او راڅخه ویې غوښتل چې پر خپلو راښودلو ځایونو کښېنو. خپله هماغلته مخامخ راته کښېناست. له دې سره د چورلکې غرهار هم اوچت شو. چورلکه لومړی نېغه هوا ته وخته. چې ښه لوړه شوه، نو خدازده په کوم لوري وخوځېده، ډېر وخت لا نه و تېر چې بیا مو د ښار کورونه او په کې لګېدلي څراغونه شا ته کړي وو. چورلکه دغسې په غرهار وړاندې تله. زه په فکرونو کې ډوب غلی پر خپل ځای ناست وم. شا و خوا مې د دې "خطرناکو!" اشرارو سرګردانه څېرو ته کتل او ځان مې په دې خبره قانع کړی و، چې ښایي کوم بل ښار یا زندان ته به یې بیایو. نه پوهېږم څومره وخت همداسې تېر شو، چې ملګري غورځنګ مې خوا ته راغی .

موسکی شونډې مې څنګ ته کښېناست، وې ویل:

ــپه څه چورت کې تللی یې، ملګری ولسیار؟

اندېښمن مې وویل:

ــهېڅ، دغسې"

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



لا مې نور څه نه وو يلي چې پسې زياته يې کړه.

ــنن به له خيره يو بل غټ ګام هم د انقلاب په ملاتړ کې اوچت کړي.

ما چې تر دا اوسه لا سم په کيسه نه وم خبر، خپلې پوښتنې ته وار راغلی وليد .

شا و خوا ناستو اشرارو ته مې اشاره وکړه، ومې ويل:

ــچېرته يې بيايو؟

په خندا يې وويل:

ــهېچېرته.

او چې ما په تعجب تکرار کړه:

ــهېچېرته؟

شونډې يې نورې هم سره ببرته شوې. څه يې ونه ويل. مازې يې د سر په راته خوځولو خبر راتصديق کړه. خو زه نور چوپ پاتې نه شوم. ومې پوښتل:

ــنو څه شی پې کوو؟

دا ځل دی هم چوپ نه شو، ويره خوله يې مخامخ راوکتل، وې ويل:

ــالوتل ورزده کوو.

بې اختياره مې له خولې ووتل:

ــالوتل ورزده کوو؟

او له پوښتنو ډکې سترګې مې لا حيرانۍ ده ته ونيولې. د دې حالت ليدو مې لکه چې خوند ورکړ. لنډ يې نور هم پسې وخندل. بيا يې په داسې حال کې چې نرم پر اوږه کښېکښودلم، وويل:

ــډېر بې حوصله توب مه کوه ملګريه! يو ساعت پس به هرڅه په خپلو سترګو ووينې.

او هماغسې په خندا کې ببرته راڅخه لاړ. زه دغسې هلك حيران پر خپل ځای ناست وم، سرګردانه او په چورتونو کې ډوب مې ملګري غورځنګ ته ورکتل چې په پام د الوتکې په منځ کې د ناستو خلکو له منځه تېر شو او يوځل بيا د پيلوټ کوډلې ته ورننووت. چې ببرته راووت نو يو مخ بل سړی و. له هغه پخواني انډيوال ملګري غورځنګ سره يې اوس هېڅ شی هم نه و جوړ، چې هره خبره به يې له ټوکې او خندا سره غبرګېده. نه، اوس هغه يوسل په سلو کې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



نظامي منصبدار و، چې خپلو ترلاس لاندې کسانو ته ږغېده، ږغېده نه، قومانده يې ورکوله. جدي څېره،تېره کاته، له تحکم او هيبته ډك حرکات. له هماغه ځايه يې په بشپړ امرانه انداز د چمتو کېدو قومانده راکړه. پاڅېدم، د ملګري غورځنګ له دستور سره سم مې د چورلکې ترلي وره ته ځان وررساوه. ښې اړخ ته يې ودرېدم. بشردوست هم په بيړه ځان راورساوه. ابل اړخ ته يې مخامخ راته ودرېد. نور ټيټ پوړي نظاميان هم د ستور ته چمتو هر يو پر خپل ورښودلی ځای ودرېدل. دا وخت چورلکه هم سره ورو شانته شوه. په ښکاره درزن زړه مې غلی له کړکۍ څخه دباندې وکتل. تپه تياره وه. هېڅ شی نه مالومېدل. خلق مې نور هم راته تنګ شو. بېرته مې په چورلکه کې اشرارو ته مخ ترې راواړاوه، چې سره بوږنېدلي غوندې وو. حيران او ناباوره يې کله موږ ته، کله په خپل منځ کې سره کتل. چورلکه، نوره او نوره هم ورو شوه، چې يومخ ودرېده، ملګري غورځنګ وويل: __اوس.

او په بيړه يې د چورلکې ور پرانيست. بيا يې موږ ته دستور راکړ چې وره ته تر ټولو نيږدې ناست ځوانکی راونيسو. موږ هم سر تر پايه پرکېدونکی ځوان ټينګ له متو راونيو. ځوان لږ مقاومت وکړ، خو موږ پرې پياوړي وو، راپور ته مو کړ. ملګری غورځنګ راوړاندې شو. په داسې حال کې چې دې نورو نظاميانو خپل کلاشينکوفونه په ګواښ پاتې اشرارو ته نښه کړي وو. د ځوانکي لاسونه يې ورخلاص کړل. وروسته له هغه يې ز موږ په مرسته او له موږ سره يوځای د چورلکې د پرانيستې وره خولې ته راکش او د سترګو په رپ کې يې لاندې ترې خطا کړ. ځوان يوه سوې کريغه وويسته، په تپه تياره کې ورك شو .

دې کار د دې نورو سترګې غټې راوويستې. د ډېريو رنګونه تك ژېړ اوښتي وو. خو موږ نور ماتل نه شوو. د هغوی په زاريو جګيو، د هغوی په چيغو او غلبلو او د چاو چا په مقاومت او ښکنځلو کې مو يو يو د چورلکې وره ته راکش کړ، د لاسونو له ورخلاصولو وروسته مو تر وروستي تنه پورې ټول لاندې ترې راوغورځول. چې راخلاص شوو ټول له لاس او پښو لوېدلي او په خولو لانده خيشته وو. شپه له نيمايي ښايسته ډېره تېره وه، چې کاله ته راغلم. په کور کې کراره کراري وه. ښځه او ماشومان مې د وخته لا ويده شوي وو. غلی مې جرابې او بوټونه له پښو وويستل. له پخلنځي څخه د پخو وريجو او غوښو خوندور بوی راباندې ولګېد. ګېډه مې له لوږې راته وسوځېده، خو څه ی مې ونه خوړل. دغسې منګ او چورتي خپلې کوټې ته ورغلم، ستړی هلاك په ځای کې ولوېدم. خوب نه راته. ننيو پېښو په کراره نه پرېښودم. هرڅه مې د يوه نه منونکي بدخوب په څېر سترګو ته نېغ نېغ کېدل. څو شېبې لا نور هم دغسې نا ارامه په ځای کې لټ په لټ شوم. خو اخر مې ځان ته وويل: "کرار شه سړيه، دا انقلاب دی انقلاب!.. څه ټوکې خو نه دي، چې د چا پزه هم په کې وينې نه شي"...

او برستن مې ټينګه پر سر راکش کړه.

1999/7/15م کال

لفبرا- انګلستان

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## شعارونه، تاثیرونه

غونډه ورځ مې د "پاسترناك" د "ډاکټر شیواګو" په لوستلو تېره کړه. زیاتي مې نو سر ډډ راته ولاړ و، په سترګو کې مې د یوې لیکې لوستلو شیمه هم نه وه پاتې. کتاب مې دغسې خلاص پر خپل ځای کښېښود، پاڅېدم. کورتۍ مې واغوسته، په شمېرلو ګامونو له کوټې څخه دباندې راووتم. ځان ته مې وویل راځه سړیه لومړی څه تفریح او هواخوري وکړه، بیا به په تازه ساه د ناول پاتې برخه هم پسې ولولې.

دباندې مې پر لوی سړك له پښې ایښودلو سر جوخت سوړ نمجن شمال پر مخ ولګېد. دې کار مې یې ځای پرځای زړه راتازه کړ. په شوق مې اوږده ساه وکښه، سږي مې د پسرلي له پاکې هوا ډك کړل. بیا مې ورو شا و خوا له نظره تېر کړل. دغسې مخامخ په راته نااشنا ښار کې رهي شوم، بې له دې چې کوم ټاکلي ځای ته د رسېدو نیت دې ولرم. ما ته تر اوسه لا د دې وړوکي ښار ډېر څه نوي وو. تر اوسه مې یې لا ډېرې لارې کوڅې نه پېژندلې. خو هوا یې نن ډېره په زړه پورې وه. څو شېبې مخکې اورېدلی باران د سړك غاړو ته ولاړې ونې پاکې پرېولې وې او د سړك په کنډو کپرو کې یې دلته هلته واړه واړه ډنډونه جوړ کړي وو .

د ورېځو لویې اوورې ټوټې اوس هم د مالوچو د خوځنده درمندونو په شان د اسمان پر پراخه لمن دېخوا اې خوا کېدلې. له ځمکې څخه د لندو خاورو زړه راکښونکې بوی راته، چې زما هر وخت ډېر خوښېده. او د سړك پر غاړه د ویالې په اوبو کې ټنډو چونګښو ټوپونه وهل او سندرې یې ویلې. ما له دې ټولو څخه خوند اخیست. دغسې چورتي کرار کرار وړاندې تلم. د ښار پر دې برخه زړه وړونکی سکوت خپور و. سړك د خلکو او موټرو له ګڼه ګوڼې خلاص و، مازې وخت ناوخته به څوك پرې راښکاره چې هغه به هم شېبه پس بېرته له سترګو نیهام شو. نور نو زه تقریباً یوازې رهي وم او دا همداسې ښه وه. ځکه پدې ډول زه همدا اوس هم د "ډاکټر شیواګو" پېښو په ځان مشغول ساتلی وم. اوس مې هم د نوموړي پنډ ناول حوادث د ذهن په سترګو لیدل. زما د شا وخوا محیط سکوت او چوپتیا، په دې پاسته مازیګر کې زما دې په فکرونو کې ډوب حالت ته یو داسې زړه وړونکی قوت ورباخښه چې له زوره یې نور هرڅه رانه هېرول .

خدازده څومره او څه موده همداسې ځوړند سر او په چورتونو کې لاهو وړاندې لاړم. خو چې یو وخت مې سر راپورته کړ، پوه شوم چې ښایسته ډېره لار مې وهلې وه. دا و له ښاره یومخ ګوښې لویې او پراخې څلورلارې ته رارسېدلی وم. څلورلارې مې وپېژانده. یوځل مخکې هم له همدې څلورلارې تېر شوی وم. د ښې لاس واټ یې زما کوټې ته لار ایسته او مخامخ پراخ سړك یې له ښاره سیخ دباندې ووت. ما یې یوازې د کیڼ لاس سړك وهلی و، چې ښه ډېر مزل وروسته یې سړی اخر بازار ته رساوه. ابل وار مې دومره په ځیر نه وو ورته کتلي، مازې په بیړه مې د خپلې کوټې لوري ته لار په مخ کې ترې اچلې وه، خو دا ځل مې سترګې څو شېبې پرې مشغولې کړې. هرڅه عادي وو. لویه او پراخه څلورلارې ، د هر ورته راخلاص سړك په خوله کې د ولاړو ترافیکي اشارو خادې، دلته هلته یوه تنها ولاړه ونه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



او د بلې هرې څلورې لارې په شان دلته هم گردچاپېر د سرو سرو انقلابي شعارونو لوحې. د شعارونو په لوستلو مې پيل وکړ. مخامخ پر يوه لوحه په پرېړ سره رنگ ليکلي دا شعار ليدل کېده: "په وړاندې له فرد څخه د فرد په لاس له استثماره د خلاصې ټولنې پر لورحه". پر بلې لوحې "ژوندۍ دې وي سوله، ډموکراسي او ټولنيز عدالت" ليکل شوی و. څنگ ته يې د "ژوندی دې وي کارگري انټرناسيوناليزم" لوحه ولاړه وه. پر يوه بله لوحه يې په پارسي ژبه ليکلي وو: "نان به گرسنه، لباس به برهنه، کار به کارگر، زمين به بزرگر، اين است شعار ما" د هغې څنگ ته بيا په پارسي ژبه د "زنده باد احترام به مقام والای انسان" شعار ليکل شوی وی، تر هغه ور اخوا: "په وړاندې له هر ډول تبعيض، ستم او محروميت څخه د خلاصې ټولنې پر لور" او بيا پر يوه بله لوحه د يوه هوسا، بسيا او سرلوړي افغانستان د جوړېدو غوښتنه شوې وه. په يوه بل شعار کې خو يې بيا د افغانستان محروم او مظلوم ولس نه يوازې د هېواد د ټولو مادي او معنوي شتمنيو خاوند گڼلی و، بلکې خلقي دولت او خلقي انقلاب يې هم د دوی لپاره او د دوی په خدمت کې باله.

بس همدا پر له پسې شعارونه او په هر يوه کې د يوه نېکمرغه ژوند د جوړولو او له هر ډول محروميت او ستم څخه د هېوادوالو د خلاصون او ژغورون ژمنې او وعدې. ما دا ټول شعارونه پېژندل او خدای شته هر يو مې يې بې شمېره ځله نور هم په هر ځای کې لوستی و. خو سره له دې مې اوس بيا هم يو په بل پسې لوستل او هر يوه ته ځو شېبې ځير کېدم .

همداسې مې د شعارونو د لوستلو په موخه سترگې له يوې لوحې څخه بلې لوحې ته وراړولې، چې هلته لږ ليرې يو ځگ نری ځوان تر سترگو شو. ځوان له ختيځ لوري څلورلارې ته راروان و. تور کميس او خړ پتلون يې اغوستی و. ځوړند سر چورتي غونډې ورو ورو وړاندې راته. ځوان نور او نور هم وړاندې راغی، چې څلورلارې ته راورسېد، اوږد اسوېلی يې وکيښ، سر يې راپورته کړ. زه يې وليدلم. خو ما ځان ناگومانه واچاوه. دغسې مې تر سترگو لاندې د هغه څارل جاري وساتل. له دې سره مې زړه هم خدای شته لږ راته په درزا شو. خو ژر مې ځان بېرته راټينگ کړ، هماغسې مې په پټه د ځوان څارلو ته دوام ورکړ. ځوان څو شېبې چوپ او کرار پر خپل ځای ودرېد، بيا يې سترگې له ما څخه د شعارونو لوحو ته ورواړولې. هرې يوې ته به لنډه شېبه ځير شو. لکه له ځان سره چې يې لولې، شونډې به يې ورو ورو پرې وخوځولې. چې د يوې لوحې له لوستلو او فکر پرې کولو به راخلاص شو نو ابلې لوحې ته به يې سترگې ترې ورواړولې. خو په يوه شعار کې يې سترگې دغسې ښخې پاتې شوې. ما هم غلي لوحې ته سترگې ورواړولې. پرې ليکلي وو: "په وړاندې له هر ډول تبعيض، ستم او محروميت څخه د خلاصې ټولنې پر لور" ځوان څو شېبې تېره تېره شعار ته وکتل، له دې سره د قار څپه پرې ورغله، سترگې يې غټې غټې راواوتلې. زما د زړه درزا لا زور واخيست .

لا مې دغسې په چورتونو کې ډوب ورکتل، چې ځوان يو دم وخوځېد، په بيړه پر شعار وررهي شو. چې وروړسېد، مخامخ يې شعار ته لاړې ورتو کړې، په لوړ ږغ يې ښکنځل ورته وکړل. زه د ځوان دی کار هك پك کړم. له حيرته په

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



وازه خوله مې ځوان ته ورکتل، چې هماغسې مخامخ شعار ته ولاړ و او یو عالم کرکو یې په سترګو کې ځپې وهلې. لا مې څه نه وو ویلي چې قارجنې سترګې یې ما ته راواړولې، له هماغه ځایه یې راته وویل:

ـ احمقان... فکر کوي چې یوازې په شعارونو خبر خلاصېږي.

او په داسې حال کې چې هماغسې قارجن یې راکتل، راباندې رارهي شو. زه تلولي غوندې شوم، خو د څه کولو توان نه و راکې پاتې. دغسې له حیرته پر خپل ځای مېخ ولاړ وم، سرګردانه مې ځوان ته ورکتل، چې په غټو ګامونو زما پر لوري رادرومي. چې راورسېد، بې له دې چې زما له خوا کوم غبرګون یا څه ویلو ته ماتل شي، په خپله یې شعراونو ته لاس ونیو، پسې زیاته یې کړه:

ـ ته دا د خنزیز زمن ګوره... ټول ملك یې په دې ښایسته شعارونو ډك کړي ...هرځای همدا د ستم او له ظلمه د خلاصون خوبونه...هر ځای همدا د نېکمرغۍ او سوکالۍ غوږې وعدې.. رذیلانو، له کوم ظلم او ستمه خلك خلاصوئ؟ تر ټولو ډېر ظلم او ستم خو تاسې پر خلکو کوئ... کومه نېکمرغي او سوکالي خلکو ته وربښئ؟ تر ټولو ډېره بدمرغي او بدحالي خو تاسې پر خلکو راوستلې ...

ځوان دا وخت لنډه ساه ونیوه، دغسې نېغې یې سترګې زما سترګو ته ونیولې، لکه د خپلو خبرو اثر چې په کې لټوي. بیا یې په داسې حال کې چې یوه یوه شعار ته لاس نیوه، وړاندې پسې لاړ.

ـ ګوره... دلته خلکو ته د ازادۍ او مصئونیت وعده ورکوي، خو هلته یې ټول وطن پر خلکو سور تنور ګرځولی، هر لور ترور او اختناق، هر لور د بېګناه خلکو نیول، کشول او تر شکنجو لاندې وژل... دلته خلکو ته د کور، کالي او ډوډۍ شعارونه ورکوي او هلته درګرده لګیا دي د خلکو هستي او زندګي ترې لوټوي... کوم کور؟ کوم کالي؟ کومه ډوډۍ؟... دلته د انسان لوړ مقام ته د احترام خبرې کوي او هلته د ټول ولس په ترټلو او سپکولو اخته دي... هر لور ظلم، هر لور ستم، هر لور د بېګناه خلکو نیول او وژل او لوټل... او له دې ټولو سره بیا هم خلکو ته د خدمت ټېر وهل، خلکو ته د ازادۍ، نېکمرغۍ او سوکالۍ او له هر ډول تېري او ستمه د خلاصون خوبونه ورلیدل...

ځوان دا وخت بیا لنډ تم شو، خو ما لا څه نه وو ویلي چې بېرته یې پسې زیاته کړه:

ـ نه پوهېږم چې د ا سرکوزي په کومه نېشه کې ډوب دي، چې داسې یې سترګې دي رااالوتونکي توپان ته وړړندې کړي... فکر کوي چې خلك هم د دوی په شان احقمان دي؟... فکر کوي چې د دې خلکو نو نه سترګې شته، چې د دوی جنایتونه پرې وویني، نه ماغزه چې د دوی د دې غوړو شعارونو او کرغېړنو کړنو ترمنځ فرق وکړي؟... فکر کوي چې یوازې د ډوډۍ د شعار په ورکولو به نو د خلکو ګېډې هم مړې شي؟ ها؟... فکر کوي چې په مازې تشو شعارونو به نو ټول کارونه هم سره سم شي؟. ها؟....

او چې ما بیا هم څه ونه ویل، ځوان نېغ زما سترګو ته سترګې ونیولې، په حیرانوونکي ډاډ او غوڅه لهجه یې وویل:

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ــورورہ! زہ تا نہ پېژنم، چې ځوك يې او د کم ځای يې. خو هر ځوك چې يې دا يوه خبر مې ښه په ټينگه واوره... دا ځای يې نښه... كه دا وضعيت همداسې روان و، لكه دا اوس چې دی، نو ډېر ژر به دا خلك د خپلو دې غوړو شعارونو تاثيرونه هم په خپله ووينې .

ځوان چې دا خبره وكړه، زياتي ماتل نه شو. زه يې دغسې هك حيران پر خپل ځای پرېښودم، خپله په كلكو گامونو لويديځ په لور رهي شو. ما په بېشمېره فكرونو كې ډوب ښايسته ډېر گړی تر شا ورپسې وكتل. وروسته له هغه مې سر راپورته كړ، پاس اسمان ته مې وكتل او په مخامخ سره شفق كې مې سترگې ښخې پاتې شوې.

د مرغومي اتمه/1357ل كال

كابل- افغانستان

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# چرگ

عجیبه وه. سهار وختي په خپله راویښ شوم. لکه چا چې په قصده ورته راویښ کړی یم. څو شېبې لا په ځای کې دغسې پروت پاتې شوم، خو اخر مې طاقت ونه شو، پاڅېدم. غلی مې په نیمه تیاره کوټه کې سترګې وغړولې. ټول ویده وو. زه هم نور ماتل نه شوم، د ګوتو په سر له کوټې ووتم او په بیړه د سرای هغه ګوټ ته ورغلم چې چرګ په کې تړلی و. چرګ ویښ و. زما په لیدو یې "قررر..." وهل، لږ په شا شو. زه ځای پر ځای ودرېدم. څو شېبې مو دغسې رډ رډ یو بل ته سره وکتل. چې ډار یې بېرته کښېناست، غلی مې په پخلنځي کې له ولاړ جواله یو موټی غنم راوایستل، په داسې حال کې چې له غنمو ډك ورغوی مې ده ته نیولی و او ورو ورو مې ویل: "بِه... بِه...بِه". کرار کرار پرې ورړهي شوم. دا ځل ده هم جنجال راسره ونه کړ. غلی پر خپل ځای ولاړ یې دغسې په تمه ژېړې ګردۍ سترګې زما ورغوي ته نیولې وې، چې ورو ورو له غنمو سره ورنیږدې کېده. چې ورورسېدم، وار د واره یې زما په ورغوي ټونګې پیل کړې. خوشال مې وموسل. کرار یې په دوو ګوتو څنګ ته کښېناستم. په احتیاط مې دا بل لاس د ده پر پاسته څټ او ملا راکش کړ. چې ده بیا هم څه ونه ویل. زما زړه هم له خوښیه په ټوپکو شو. چرګ رام و!... بېغمه یې په تېره مښوکه زما له ورغوي څخه غنم ټولول. ما یې هم موسکی شونډې پر څټ، پر وزرونو، پر ملا او پر ګګنه توره لکۍ لاس راکښود او من من غوښې مې پرې اخیستې.

پرون مازیګر مې سترګو ته ودرېد: پلار مې چرګ په تخرګ له دفتره کور ته راغی. موږ ماشومان د چرګ په لیدو لومړی یوځه حیران غوندې شوو، بیا مو په ګډه ورمنډې کړې، خوشاله ترې راتاو شوو. پلار مې هم خوشاله و، ویره خوله یې څو ګړندي ګامونه د سرای منځته ورواخیستل. هلته یې د چرګ ورتړلې پښې بېرته خلاصې کړې، کرار یې مخې ته ګوزار غوندې کړ او چې چرګ پر دواړو پښو دنګ پر مځکه ودرېد، نو موږ غوندې یې دی هم په مینه ورو سترګو په نظاره شو. شېبه پس یې په ویاړلې لهجه وویل:

_تك سور... کولنګي چرګ.

په همدې ترڅ کې مې مور هم راورسېده. سر تر پایه یې چرګ ته د خریدار په نظر وکتل. له دې سره یې تڼدې هم تروه شوه. ناراضه یې وویل:

_ډنګر دی!

دا خبر یې زموږ پر پلار هېڅ ښه ونه لګېده، پرې ورېږچ یې وهل:

_دی چې شی (د څه شي) ډنګر دی؟ تې (ته یې) آ ورنونو ته وګوره.

بیا یې په لږ نرمه لهجه د هغې د قانع کوولو هڅه وکړه:

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـاختر ته لا ډېرې ورځې پاتې دي... دانه به ورکو، نور به هم چاغ سي.

او ما خدای شته هماغه شپګبه لا په زړه کې وویل: "تر اختره لا ښه ډېر وخت سره لرو..." او ټول په شوق کې ډوب شوم .د ورغوي خوړېدلو ښېرته اوس وخت ته راستون کړم. تش تور و. چرګ يې ټول غنم خوړلي وو. اوس يې پر مځکه ترې رالوېدلې دانې ټولولې. پاڅېدم. دا ځل مې دواړه موټې له غنمو راډك کړل، ټول مې د چرګ مخې ته کوټۍ کړه. چې دی يې بيا په خوړلو سر شو، ما هم بيا لاس پرې راکښودل پيل کړه. دا وار مې يې ان پنډې ته‌رې مښوکې، پيت تاج (خول) او پستې غاړې ته لا لاس ورووړ. بيا مې يې پياوړې ښنګرې د ګوتې په څوکه کښېکښودل. د مامور فتاح د چرګ تر هغه ډېر ته‌ره وو. خوشاله مې له ځان سره وويل: "ماموره... دا دی اوس زه هم تا غونډې چرګ لرم..." او يو ډول خوږ خوندور غرور مې په رګونو کې وځغلېد. تېر وختونه راياد شول، چې څنګه به مامور فتاح خپل برګ "جته يې" چرګ په غېږ کې نيولی و. په وياړلي انداز به يې پرېږ غوښن لاس پرې راکښود او موږ هلکان به شا و خوا پرې راټول وو. ژېړ ژېړ به مو ورکتل او زړونه به مو له رخې راته ويلي ويلي کېدل. له دې سره مې خدازده ولې، د پلار رغ په غوږونو کې انګازې وکړې: "نه شرمېږې... مامور سړی، د لوچکانو غونډې جنګي چرګان ساتي!..." د هغه مامور فتاح هېڅ ښه نه اېسېده. مدام به يې له سپکاوي په ډکه لهجه همدا پسې ويل. د نورو غټانو هم دومره ښه نه ترې راتلل. خو موږ په دې کيسو کې نه وو. خپله مامور فتاح هم په چا کې رې نه واهه. ښېغمه يې خپل چرګ ورته ساته او چې وخت ناوخته به يې له کوم بل چرګ سره وجنګاوه، په تېره بيا که به چېرې د ده چرګ دا جنګ ګټلی هم و، دغه ورځ خو به نو موږ ټولو غونډې دی هم له ډېرې خوښۍ په اووم اسمان کې ګرځېده. داسې مهربانه به يې زخمونه په واسلينو ورغوړول، په دومره مينه به يې په وينو سره مښوکه په خپل ورېښمين دسمال ورپاکوله، چې ان زموږ زړونو به لا هوس ورته وکړ.

دا وخت يو ناڅاپه پاڅېدم. لکه څوك چې مې په زوره ورکشکاږي، بې اختياره له کاله ووتم. ځای پر ځای يو عجيب فکر سر ته راغلی و. هم يې ډارولم، هم يې پسخولم. خو يوه شېبه يې په کراره نه پرېښودم. دغسې ناارامه دباندې ودرېدم. په داسې حال کې چې زړه مې په ځيګر کې "ډپ... ډپ... ډپ..." راته درزېده، په شا وخوا کتلو سر شوم. دباندې کرار کراري وه. ورځ که څه هم ښايسته ډېره رڼه شوې وه، خو د جمعې په دې وختي سهار کې هېڅوك هم دباندې نه مالومېدل. لټونکې سترګې مې لږ نورې هم دېخوا اې خوا وغړولې. ډېر وخت لا نه و تېر. چې د زړه درزا مې لا پسې پياوړې شوه. ومې ليد. هلته ليرې مې د مامور فتاح چرګ وليد، چې د خندق په خوا کې خرامانه خرامانه ګرځېده. دوې سپينې چرګې هم په نخرو نخرو پسې رهي وې. زه هم نور ونه ځنډېدم. ژر مې ځان ته "هو" کړه، په ترات ښېرته کاله ته ننوتم. له هغې خوا له خپل چرګ سره راووتم. لومړی مې لا وغوښتل چې مخامخ پرې وررهي شم، خو د وره په خوله کې ښېرته ودرېدم. يوځل بيا مې شا و خوا له نظره تېر کړل او چې بيا مې هم څوك ونه ليدل، نو له ډاډه په ډکو سترګو مې خپل چرګ ته وروکتل. ژر ژر مې يې پر سر لاس راوکيښ او په کلکو ګامونو د مامور فتاح پر چرګ وررهي شوم. چې هر ګام مې اخيست، هغومره مې د زړه درزا پسې چټکېده. هغومره

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د مامور فتاح چرگ ته د وررسېدو تنده راکې ډېرېده. خدازده ولې يو ډول ډار، وحشت او سرگردانۍ اخيستی وم. خو له دې ټولو خبرو سره- سره بېرته راستون نه شوم. نه، راکې وينبه شوې تلوسه مې تر دې ټولو پياوړې وه. دغسې مخامخ نور او نور هم وړاندې ورغلم. څو گامه پس د مامور فتاح د چرگ هم راته پام شو. چټك يې سر راجگ کړ، قارجن له ځان سره څه وترسېده. چرگې هم سره وارخطا غوندې شوې او دغسې حيران حيران يې موږ ته راکتل، چې وار په وار ورنيږدې کېدو. چې ورووسېدم، څو شېبې هماغسې هك حيران مخامخ سره ودرېدو. وروسته له هغه مې په رېږدېدونکو لاسونو خپل چرگ لومړی د مامور فتاح چرگ ته لږ ور اوږد کړ، څو ځله مې پورته کښته ورته وخوځاوه او په دې پسې مې يو دم مخې ته ورخطا کړ. پر مځکه زما د چرگ له درېدلو سره سم دواړه د ځټ بڼکې نېغې ودرولې. بد بد يې سره وکتل. بيا يې په گواښ سرونه يو بل ته وځنډل، څو خوشې ټونگې يې په مځکه ووهلې او چې بېرته يې سرونه راجگ کړل، نو په خپل ټول زور يې پر يو بل باندې ورودانگل. جگړه پيل شوه! خو لومړی بريد زما د چرگ په گټه نه و. د مامور فتاح چرگ داسې کاپره لغته ورکړه، چې هلته يې راته وغورځاوه. دويم او درېيم بريد يې هم مازې خواشيني راډېره کړه. هر وار چې يې د مامور فتاح پر چرگ بريد وروړ، په هماغه هوا کې به يې داسې لغته ورکړه، چې خوارکی به يې دوه درې گامه ايسته راته وغورځاوه. خو زما چرگ هم څه داسې بې غېرۍ ته مرغه نه و!. بېرته به راپاڅېد، بيا به يې ځان بريد ته تيار کړ او بيا به يې په لاډېر تاو پرې ورټوپ کړل. مگر دا د کاپر مال دومره زورور و، چې هېڅ والله که ورسره کېدل. هرځل به يې داسې گوزار ورکړ، چې دلته به زه لا له قاره ورته سور او شين شوم. يوځل، دوه ځله، ان څو ځله مې يې لا دا چلند وزغامه، خو اخر نو زما حوصله هم راته تمامه شوه. نه، دا وضعيت تر پايه د زغملو نه و. بايد يو څه مې کړي وای. بايد زه خپله په دې تريخ ساعت کې د خپل چرگ خوا کې درېدلی وای. او همداسې مې هم وکړل. وروړاندې شوم، سيخ مې د مامور فتاح د چرگ شا ته ځان ورورساوه، چې دا و بل بريد ته يې تابيا کوله. سرکوزی داسې په جگړه سور و، چې هېڅ يې زما په ورنيږدې کېدو کې چورت هم ونه واهه. دغسې تېره تېره يې زما چرگ ته کتل او پر له پسې يې سر په گواښ ورته ځانډه. زما چرگ هم ځان بريد ته چمتو کړ، خو لا يې پر يو بل باندې نه وو ودانگلي، چې د مامور فتاح چرگ مې د نېغ درولو بڼکو په بېخ کې ټينگ له ځټه راونيو. دې کار مې زما چرگ هم حيران کړ. ټپ ودرېد. لنډه شېبه خو داسې لار او گودر ترې ورك شول، چې نيږدې يې جگړه پرې ايښې وه. خو چې ما د مامور فتاح له ځټه نيولی چرگ ور وړاندې کړ او سر مې يې په گواښ ورته وځانډه، نو دی هم بېرې پرې راستون شو، په کړس کړس بريدونه يې پرې پيل کړه. د مامور فتاح چرگ مې همداسې سرگردانه په موټ کې شېنکې وهلې او چغېده، که گوندې ځان راځخه خلاص کړي. خو ما موټ نور او نور هم پرې ورټينگ کړ. هماغسې تر ځټ نيولی مې يې سر درگرده خپل چرگ ته ښوراوه، چې ښه مزغن مزغن يې پر دا ککره ککره راته ووهي او ښه سم زړه پرې سوړ کړي. خدازده څومره وخت دغسې تېر شو، چې يو وخت مې چرگ نابېره په موټ کې دروند غوندې شو، نور چغ و چوغ يې هم نه کاوه. حيران مې بېرته خوشې کړ او چې دی پرمخی پر مځکه راته ولوېد، نو زما واړې هم وتښتېدې. چرگ مړ و. د مامور فتاح چرگ مې لکه چې په خپه ووژلی و. دې فکر مې غړي راوربېردول. وارخطا مې شا و خوا وکتل. د باندې شکر اوس هم څوك نه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



مالومېدل. وروراندي شوم، ژر مې خپل چرګ راونيو، بې اختياره مې د کاله پر لوري منډه کړه. خو څو ګامه لا نه وم تللی، چې بېرته ودرېدم، د بربښنا په چټکۍ مې دا فکر له مغزه تېر شو: "د مامور فتاح چرګ؟... همداسې مړ؟... همداسې پر سپېره ميدان پروت.؟.... نه!...". بېرته راوګرځېدم، هماغسې وارخطا د مامور فتاح چرګ ته ورغلم، چې وازې سترګې پرمخی پر مځکه پروت و. چرګ مې له وزره راونيو، ايسته مې څنګ ته خندق ته وروغورځاوه او وروسته له هغه مې په تراټ د خپل کاله لار په مخ کې واچوله. تازه د وره خولې ته رسېدلی وم، چې له ليرې مې د چا ټوخی واورېد، خو ما تر شا ورونه کتل، په ټوپ کاله ته ترې ننوتم. په سرای کې مې چرګ بېرته پر خپل ځای وتاړه. بيا مې سر تر پايه له نظره تېر کړ. نور سم و، مازې ټونګه يې په وينو يو څه سره وه. شا و خوا مې وکتل، په سرای کې هېڅوك نه و. په بيړه مې د چرګ ټونګه پاکه کړه، په منډه خپلې کوټې ته لاړم. چې بېرته په برستن ننوتم ايله مې زړه يو څه سره ولګېد. هرڅه په خير تېر شوي وو. تر اوسه شکر د هېچا نه و راته پام شوی.

په ځای کې مې ژر ژر لېونی کرم (په لښکرګاه کې يو مشهور زيارت دی) او پيران پير صېب وننګول، چې د نېکۍ مدد يې راورسېږي. بيا مې الحمد لله او قل هو الله هم پر ځان چوف کړل، چې د هرې بلا مخه ونيسي. وروسته له هغه مې نو ځان دغسې په خوب ورته واچاوه. خو ډېر وخت لا نه تېر، چې "ټك، ټك، ټك.." د سرای ور وټکول شو. له دې سره مې زړه "شرق!" راته ولوېد، غړي مې بيا په رېږدېدلو شول. لالهانده مې له ځان سره وويل: "وه خدايه!..." او ستونی مې راته ډك ډك شو. په همدې ترڅ کې مې د پلار ښکالو په دالېز کې واورېده، چې سرای ته وررهي و او خوبولی له ځان سره ډونګېده. ما دعاوو ته لا زور ورکړ، لا همداسې خدای او پيرانو ته په زاريو لګيا وم، چې پلار مې له سرايه راږغ کړل: دې کار يې نو يو مخ زاره راوچوده. پلار مې ما ورغواړي؟.. سرای ته؟... هغه هم وروسته له دې چې چا ور وټکاوه؟... نه. اوس نو خبر تمامه وه. زياتي نو هرڅه رسوا وو. نور يې نو د پټېدو چاره نه کېده. خواشينی او ډار اخيستی له ځان سره وچونګېدم. راباندې راتلونکی قيامت مې د سر په سترګو وليد. خو له دې ټولو خبرو سره مې ځان بيا هم په خوب ورته واچاوه. پلار مې لا بيا نه وو راږغ کړي، چې مور مې کوټې ته راننوته. په داسې حال کې چې پرله پسې يې اوږه راخنډله راته سره شوه:

_هله زويه پاڅه!.. پاڅه چې پلار دې نارې دروهي، هله....

او په دې ډول يې "راويښ" کړم. ما ته هم بله چاره راپاتې نه شوه. پاڅېدم. همداسې وچ حلق، وارخطا او زړه نازړه د سرای ورته وروخوځېدم. او چې د وره شا ته مې خپل همزولی، ننګيالیْ وليد، نو داسې ټکان مې وخوړ، چې نيږدې مې له خولې چيغه وتلې وه. هك حيران مې په زړه کې وويل: "ننګيالی؟!.." او دغسې ناباوره مې د هغه تور لمر وهلي مخ ته وروکتل، چې زما په ليدو يې يوه نرۍ موسکا پر شونډو وغوړېده.

لا همداسې پکر پر خپل ولاړ وم چې پلار مې وويل :

_مېلې ته ځې؟

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا خبر نه وه، تيار سوك و. چې پر دا سر يې راكړ، يو مخ سربډاله شوم. بې اختياره مې له خولې ووتل:

_مېگ....لې... ته؟!

راجوخته يې كړه:

_هو زويه،... مېلې ته... ننگيالى دوى نن خپل باغ ته په مېله وزي، غواړې تا هم ورسره بوزي... څنگه زويه؟ ورسره ځې؟

او چې ما هماغسې هېښ پېښ ورته "هو" كړه، د ننگيالي سترگې هم له خوښيه وځلېدې. پلار مې هم لنډ وموسل، وړاندې لاړ:

_سمه ده، ځه زويه كور ته، پاك كالي دې واغونده... چې دغسې چېړيسن لاړ نه سې، ښه؟

او بېرته كاله ته ستون شو. زه چې اوس ايله لږ راپه حال شوى غوندې وم، نور ونه ځنډېدم. په منډه مې ځان تلو ته تيار كړ، پوره خوشاله له ننگيالي سره وخوځېدم. خو دا دى تر دغه اوسه لا نه يم خبر چې د مامور فتاح د چرگ كيسه څنگه شوه.

لفبرا- انگلستان

1999/4/26م كال

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## سکينه

د سکينې پلار له ډېره شېبه نه و پر کور، چې بيا يې د لور چغې بغې ورپوته کړې:

ـوه! اباجانه توبه... اخ... اخ.. وی... وی... وه خدايه مړه شوم. وه اباجانه.. اخ...اخ...

سکينې همداسې په چيغو چيغو کې دېخوا اې خوا لاسونه اچول، که گونډې ځان د پلار له گوزارونو بچ کړي. خو پلار يې له خپله کاره لاس نه اخيست. په قار پرې وروغورېد:

ـخرېمې!.. پليتې (پليدې)!... اوس خدای درپه ياد شو؟.. اوس توبې باسې؟....

او بېرته يې د خپل پلنډې توب پری "شړق!... شړق!... شړق!..." د هغې تاندو ډډو ته تمبه کړ. سکينه تر گوزارونو لاندې لټ پر لټ اوښته، درگرده يې د ځان د خلاصون هڅه کوله او پر له پسې يې همدا چيغې وهلې:

ـوه لاجانه! توبه... وه خدايه.. اخ... اخ.. وه اباجانه، کوربان دې شم... وه خدايه توبه.

د سکينې مور نن هم له کوټې د باندې لومړی پر خپلې لور دا راغلی محشر وزغامه، خو چې نور طاقت يې ونه شو، پاڅېده، ويرژلې کوټې ته ورننوته، په ژړغوني ږغ يې مېړه ته وويل:

ـتر دغه خو يې سمه مړه که، چې يودم له اذابْ خلاصه شي... او پړنگ په ژړا يې د خپلې لور د ترې خلاصولو هڅې پيل کړې. مېړه يې په تاو خپله ښځه له ځانه پورې وهله، قارجن يې په دې هم ورېړچ وهل:

ـويم پرته شه له مخې مې!... پرته شه چې اوس به تا هم تر دې بتره کم!... دا ټول پساتونه د تا (ستا) له لاسه راوشوه...

او بيا بېرته د لور په ټکولو لگيا شو. تر هغو يې د نجلۍ له وهلو لاس وانه خيست، څو يې ځان پرې سترې نه کړ. چې راخلاص شو، دغسې له قاره پشېدونکی يې پری ايسته وغورځاوه، له کوټې ووت، چې ځان يې د لور او ښځې له سترگو نهام موند، بې اختياره يې د اوښکو څو غټ څاڅکي پر رنگړی ږيره راوڅڅېدل. هلته لږ ليرې په يوه گوښه گوټ کې کښېناست، مخ او سترگې يې په خپړو وپوښلې، له دې سره يې زهيرې اوږې هم په رېږدېدو شوې. سکينې د پلار له وتلو وروسته ليرې ترې لوېدلې ټيکر ته لاس کړ. ټيکرې يې په رېږدېدونکو لاسونو راواخيست. بېرته يې په سر او اوږو راوکيښ او هماغسې غونجه منجه په خپل گوټ کې کښېناسته. بيا يې په داسې حال کې چې لاس ورو ورو پر خپلو خوږو ډډو راتېراوه، له اوښکو ډکې سترگې مور ته وروا‌ړولې. په داسې زړه دردوونکي انداز يې مور ته وروکتل، چې د غمونو سره لوخړه يې ورپورې کړه، د مور شونډې بې اختيار مرۍ مرۍ شوې، ډکې سترگې وروړاندې شوه. په خواخوږۍ يې غملړلې لور په غېږ کې راونيوله. څو شېبې دواړو ترخه يو بل ته سره وژړل. وروسته له هغه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې مور لړه کراره غوندې شوه. خو سکينې يې اوس هم پر سر ځيګر ايښی و او غلي غلي يې ژړل. مور يې د دلاسا کولو هڅه وکړه:

ــبس ده لورې.. بس ده... زياتې مه ژاړه.

او د هغې پر سر او ملا يې د خپل ډنګر لاس راکښل پيل کړل. بيا يې سر راپورته کړ، په مخامخ دېوال کې يې سترګې ښخې کړې او له دې سره دغسې ورو ورو په ډېرو ليرې ليرې چورتونو کې ډوبه شوه.

⊠⊠⊠

د دغو کلونو قحطي او وچکالي په ټول وطن کې مشهوره وه. څو کاله پرله پسې يو ځاځکی باران ونه شو. پروني شنې کروندې په وچو دښتو واوښتې. مځکې وچې شوې، پسلونه تباه شول، د خلکو مالونه او رمې لوږې ورووژل. پر ټول هېواد د لوږې او خوارۍ تور ځادر وغوړېد. دې بدمرغۍ هېڅوك او هېڅ ځای په کراره پرې نه ښود. په تېره بيا په کليو او له ښاره ليرې پرتو سيمو ته خو يې بيا بېخي مخه وکړه. دلته هسې هم خلکو د خپل ژوند روزګار تېرولو ته له کرنې او مالدارۍ پرته بله اسره نه لرله، چې هغه هم وچکالۍ ترې واخيستل. بيا خو نو د دې خلکو وزله مګر خدای په خپله کړې وای. د سکينې دوی کلی هم له دې برخليکه خلاص نه شو. د دوی کلی خدايي په دومره ښو مځکو اباد نه و او اوس چې دا لږې مځکې هم شاړې شوې وې، نو کليوالو وربادندې راتلونکې دربدري په رڼو سترګو ليده. دوی ليدل چې څنګه يې کندوان تشېږي، څنګه يې د هرې ورځې په تېرېدو سره مالونه پسې ډنګرېږي. خو څه يې له لاسه هم نه وو پوره. لوږې ورځ په ورځ زور پسې اخيست او وږي ګېډه دې نو بيا په دې کې ری نه وهي، چې قحطي ده، که وچکالي. هغه بس څه د خوړو لپاره درڅخه غواړي او د خوړو څه په دغو شپو ورځو کې د کيميا بوټي ګرځېدلي وو. هېڅ ځای يې د موندلو څرك نه لګېده. هماغه وو چې خلکو ورو ورو د خپلو مالونو او شتو په خرڅولو لاس پورې کړ. هر چا چې له هر شي څخه زړه بېلولای شو، خرڅلا وته يې راويوست او په پرې اخيستو پيسو يې د ځانونو او بچيو د ګېډو د ورمړولو هڅې پيل کړې. د سکينې پلار هم همداسې وکړل، لومړی يې د کور څه شيان وپلورل، چې هغه پيسې خلاصې شوې، بيا يې خپله له پښو لوېدلې غوا او دوې ډنګرې وزې وپلورلې. وروسته له هغه يې خپل وړوکی پټی هم لومړی ګرو او بيا د هغه يوه برخه ترې خرڅه کړه او چې دا پيسې يې هم تس نس کړې، بيا نو دوی هم د نورو کليوالو غوندې په ځان پورې پکو شول. زياتې نو په کلي کې د پاتې کېدو کومه اسره نه وه پاتې. کليوالو ښارونو ته مخه کړه. هره ورځ،نن دلته، سبا هلته. يوه يوه کورنۍ له کلي وته.

د سيکنې پلار هم له خپلې ښځې سره سلا مشورې پيل کړې. د سکينې مور په اول سر کې دې کار ته نه وه خوشاله:

..."ته سکه وايې چې هلته نو پخې ډوډۍ له ونو راځړېږي؟..." خو د سکينې پلار يې هم د قانع کولو هڅه پرې نه ښوده: "...وه ښځې!.. دغه خوشې چټيات ولې راته وايې... ښار، ښار دی او کلی کلی... ښار چې هرڅنګه وي، تر

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دې سپېره کلي ښه دی. هلته کارونه شته. خوارۍ او غریبۍ شته... ناحقه خو دا دومره خلك په ښار کې نه اوسي... مورې به هم څه خواري غریبي وکو... دلته خو دا دی له لوږې ورته مرو"...

اخر هغه هم راضي شوه. هماغه وو چې یو وختي سهار سکینې دوی هم له اته نهو نورو کورنیو سره کور او پټي په کلي کې پرېښود، د ښار لوري ته وخوځېدل. څه مزل وروسته د سکینې مور شا و خوا ورانو کنډوالو ته وکتل. وړوکی کاروان و. ټول لوږې اخیستي. هر چا ورپاتي ګزړې جمبړې ورسره رااخیستي وې. هر چا یو ووړ پېټی په شا، داسې په بیړه له کلي وتلي وو، لکه ترې تښتي چې. لکه هلته په ښار کې چې چا د پرېمانه خوړو وعدې ورکړې وي. پر زړه یې غمونو ورودانګل. خواشیني یې یوځل بیا کلي ته تر شا وروکتل. شونډې یې مرۍ مرۍ شوې. د سوړمو څوکې یې ورپېدې. خو ځان یې ژړا ته پرې نه ښود. ډکې سترګې یې مېړه ته وروا‌ړولې. څو ګامه وړاندې له نارینه وو سره رهي و. ځوړند سر او چوپه خوله. خدازده په څه اندېګښنو کې به ورك و. د دوی شپږ کلن زوی "غلامی" یې اوس پر پېټي سربېره په اوږو کښېنولی و. څنګ ته یې هم سکینه ورسره تله. د سکینې لیدو یې زړه لړ ورارام غونډې کړ، لور یې اوس ښایسته پېغله وه. ان د دې قحطۍ او وچکالۍ یې هم پر ښکلا زور نه و ورسېدلی. هماغه تك تور وېښته، هماغه غټې د ځوانۍ له طراوته ډکې سترګې، هماغه د مخ ښکلې کاسه او د بدن سپین پوټکی. پرې وویاړېده. سکینه پر دوی ټولو ګرانه وه او د پلار خو یې بیا زړه پسې خوت. هر وخت یې په جار هر چا ته ویل:"... خدای دې ناراضه نه شي، دا دی شکر زوی هم لرم، خو د سکینې ځای به هېڅوك ونه نیسي... سکینه مې د زړه ټوټه ده، د زړه ټوټه"...

دې فکرونو خوند ورکړ. په چابکو ګامونو پر دوی درروانه شوه. چې وروړسېده، د سکینې څنګ ته ورسره رهي شوه. بیا یې نو تر شا کې ته ور ونه کتل .

کاروان پوره دوې شپې او دوې ورځې مزل وکړ. د دریېمې ورځې ځاښت مهال و، چې د ښار څنډې له لیرې راښکاره شوې. د ښار لیدو لکه نوې ساه چې په کې چلولې وي، ګامونه یې لا پسې چټك کړل. چې وروړسېدل، د ښار له کورونو لړ ګوښه یې پېټي پر مځکه واچول، یو ساعت دغسې ستړي هلاك پر خپلو ځایونو ناست پاتې شول. وروسته له هغه ورو ورو د خپلو غوټو په راسپړلو لګیا شول. دغه شپه یې هم د ها نورو غونډې پر سپېره ډاګ تېره کړه.

په دا بله ورځ سهار وختي د سکینې پلار د کاروان له نورو نارینه وو سره پر ښار ورشیوه شو. هلته په ښار کې یې لارې سره بېلې شوې، هر څوك په خپل تقدیر پسې رهي شو.

روڼ ماښام چې بیرته خپلو کډو ته راستانه شول، نو د هر چا پر خوله بېلې کیسې جاري وې. چا لړ، چا ډېر څه موندلي وو او چا و چا خو هېڅ کار هم نه و موندلی. د سکینې پلار به ورسره وړې پرې د یو څو تنو پېټي ورسره وړي وو، خو دومره پیسې یې نه وې پرې ګټلې، چې خپله کورنۍ سمه پرې مړه کړي. سره له دې راضي مالومېده. په یو ډول غرور یې ښځې ته کړه:

ــ وینې؟... دا دی په دا اوله ورځ لا یو څه خواړه لرو. په کلي کې خو دغومره څه هم نه وو.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښځې يې څه ونه ويل. چوپه خوله يې راوړي خواړه په پام پر دوی ووېشل، تر ټولو وړه برخه يې ځان ته ورکړه.

دري ورځې همداسې تېرې شوې، په څلورمه ورځ چې د شپې دوی په ځايونو کې وغځېدل، د سکينې مور غلې مېړه ته وروڅکېده، اندېښمن يې ورته وويل :

ـد سکينې پلاره!

ـها؟

ـڅه پکر (فکر) که يې (کوې)..؟ تر څه وخته به داسې په سپېره ډاگ ورته څملو؟

د سکينې پلار په څنگ ښځې ته وروکتل، خو لا يې څه نه وو ويلي چې ښځه وړاندې لاړه:

ـگوره، دا نن څلور ورځې وشوې، چې موږ دغسې په بټ بيابان ورته پراته يو. نه په سرچت لرو، نه رانه راتاو در و دېوال، چې ستر مو پرې خوندي شي...داسې خو نو تر پايه هم نه شي کېدای. بايد د يوې سرپناه غم وخورو...

او له لنډې ساه نيولو وروسته يې خواشني ورزياته کړه:

ـخو څنگه؟ ... په دې روپيو خو دې د خوړو گوزاره لا نه کېږي، د سرپناه چاره به څنگه کوو؟

د سکينې پلار پوه شو، چې ښځه يې رښتيا وايي. خو خبره يې بيا هم دومره ښه پرې ونه لگېده. داسې ورته واېسېده، لکه پېغور چې يې ورکړی وي. ناارامه ورته راپه اړخ شو، د ځان سپيناوی يې گوکړ:

ـپوېږم، چې دومره روپۍ نه گټم. خو زه څه وکم، ها؟ ته سکه وايې چې زه نو په ډېر کار پسې نه گرځم؟... ته سکه وايې چې زه نو لټي کوم...

ښځه يې گړندی په خبرو کې ورولوېده:

ـوه سړيه! دا په قاربږې ولې... ما هم نه دي ويلي چې لټي که يې (کوې). خو په دې روپيو دا دې ته هم ورته گورې چې ډېر څه نه کېږي. که څنگه؟

او بيا يې د هغه د قانع کولو په نيت پسې وويل:

ـزما مسخد (مقصد) له دې خبرو څخه دا دی، چې دا ښار دی ښار... دلته که کارونه د ښار دي، نو نرخونه هم د ښار دي. دلته په لږو روپيو د چا گوزاره نه کېږي.

د سکينې پلار سرگردانه وچونگېد:

ـښه نو ته څه وايې چې، چگې شی (څه شی) بايد وکو؟

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښځې یې په سړه سنه ځواب ورکړ:

ـ هېڅ؛ ما ويل زه به هم څه خواري غريبي وکم.

دې خبرې يې مېړه حيران کړ، په تعجب سره يې وويل:

ـ څه خواري، غريبي، ها؟.. څه خواري غريبي به وکې؟

ښځې يې هماغسې په سړه سينه ورجوخته کړه:

ـ زه څه خبره يم... ما ويل که د چا د کور مزدوري وي.. که د چا د کاليو او لوښو مينځل وي. دومره لوی ښار دی، يو نه يو کار خو به په کې وي .

او چې مېړه يې وپوښتل:

ـ دا واړه چاته پرېږدې؟

دا هم هك حيرانه شوه. مازې تر شونډو لاندې وګونېده:

ـ نه پوهېږم.

او ښايسته ډېر ګړی دواړه دغسې چوپه خوله پاتې شول. وروسته له هغه د سکينې پلار مهربانه د خپلې ښځې اوږه کښېکښوده، په ارامه لهجه يې د هغې ډاډګيرنه وکړه:

ـ دومره وارخطا کېږه مه.. خدای مهربان دی. تر اوسه خو هم هوا توده ده. هم موږ مازې دا څو ورځې کېږي، چې ښار ته راغلي يو....توکل پر خدای، د هوا تر سړېدو پورې به ډېر کارونه خدای سم کړي.. او بيا که چېرې يو سم کار درپيدا شو، بيا خو نو زما هم درسره خوښه ده.

په دې ډاډګيرنې پسې نو د سکينې مور هم خبره ډېره ورسره ونه شنله، دواړه کرار ويده شول.

يوه اوونۍ همداسې تېره شوه، په دې موده کې د دوی په وړوکي کاروان کې ښايسته ډېر بدلون راغی. اکثره کورنۍ د ښار هغو برخوته کډه شوې، چې د نارينه وو کارځايونو ته نيږدې وو. په دوی کې چا و چا خو ان سرپناه لا موندلې وه. دلته اوس د سکينې دوی له کورنۍ سره مازې درې نورې کورنۍ پاتې وې. هغو هم بس په همدې هيله شپې سبا کولې، چې که يې بخت وچونېږي او د ښار په يوه نه يوه ګوټ کې يې خدای وزله وکي. د سکينې پلار اوس هم هره ورځ کار ته ته. خو د کار يې اوس هم دومره خونده نه وه. هماغه د پخوا غونډې يې اوس هم ايله دومره پيسې ګټلای شوې، چې په نيم نس د خپلې کورنۍ ګوزاره پرې وچلوي. خو د دويمې اوونۍ په وروستۍ نيمايي کې دی هم يو ماښام تر بلې هرې ورځې خوشاله کور ته راغی. کور ته له رارسېدو سره سم يې ښځې ته وويل:

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ــلکه چې خدای مو ناره واورېده.

او چې د سکينې مور يې د علت پوښتنه ترې وکړه، ده هم د دوی د ويرو خولو په مخ کې په خورا ډمامو ټوله کيسه ورته تېره کړه. په ښار کې د يوه ماړه سړي مزدوره په کار وه. ده ته يې ويلي وو چې که د سکينې مور د دوی د کور کار په غاړه واخلي، په بدل کې به يې دی په خپل خالي ګاراج کې دوی ته د اوسېدو اجازه ورکړي. دغسې وړيا، بې له دې چې يوه پيسه کرايه ترې وغواړي. ده خپله ګاراج ليدلی و، ښايستوکی لوی ګاراج و. ان برېښنا يې لا لرله...

او چې سکينې ترې وپوښتل:

ــڅه وخت؟

موسکۍ شونډې يې ورجوختې کړې:

ــهمدا سبا سهار که خدای کول.

دغه شپه دوی ټولو ډېره خوشاله تېره کړه، په دا بل سهار يې وختي خپل پنډکي وتړل، د کاروان له پاتې کورنيو سره يې خدای پاماني وکړه، په ګډه ښار ته وخوځېدل. د سکينې پلار مخکې روان و. پاتې کورنۍ يې له خوښيو په ډك زړه تر شا ورپسې رهي وه. مازې د سکينې مور به وخت ناوخته خدازده څه چورتونو واخيسته، اندېښمنه غونډې به شوه. خير بېرته به يې ځان راټينګ کړ. ګامونه به يې په دوی پسې ورچابك کړل. له ډېرو کورونو او واټونو تېر شول. ډېرې کوڅې او دکانونه يې شاته پرېښوول. لمر ښه هسك راختلی و، چې د سکينې پلار اخر د يوه کور وره ته ودرېد. سکينې د کور تك سپين دېوال ته وکتل، وې پوښتل:

ــهمدا کور دی؟

پلار يې وويل:

ــهو لورې.

او ور يې وټکاوه. شېبه پس يو په غوښو او ښکلو جامو پټ لس يوولس کلن هلك راښکاره شو. د سکينې پلار غړه تازه کړه، مهربانه يې وپوښتل:

ــپلار دې په کور کې دی؟

ــهو!

ــورشه زويه ورته ووايه چې هاغه پرونی سړی له خپلې کډې سره راغلی دی .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



هلکي ته لکه چې د "زویه" لوز خوند ورنه کړ. ترو يې دوی ته وکتل، دغسې پټه خوله بېرته کور ته ننووت. د هغه له تلو سره سکينې دوی د کور په ځير کتل او پرې رغېدل پيل کړل. ښه غټ کور و، د دوی ټولو خوښ شو. سره له دې چې له دننې يې نه و ليدلی، خو د هغه له دې تك سپين تازه رنګ شوي دېواله يې د هغه د دننه کوټو ښکلا اټکولای شوه او دې فکر چې وروسته له دې به په همدې کور کې اوسېږي، د ټولو زړونو ته خوښي وربخښله. دوی لا په همدې چورتونو کې ؤو، چې د سرای ور يو ځل بيا خلاص شو، دا ځل هلك يوازې نه و. يو همدا د څو پنځوسو کالو په منګ جګ نری سړی هم ورسره و. د سکينې پلار د سړي له ليدو سره سلام ورواچاوه. سړي موسکۍ شونډې د سلام ځواب ورکړ، له مهربانۍ په ډکو سترګو يې دوی تر نظر تېر کړل:

ـــراغلئ په خير؟

ـــهو صېب!

سړی دغسې مهربانه دوی ته ورکتونکی له ځان سره وګونېد:

ـــډېر ښه، ډېر ښه.

بيا يې هلکي ته مخ ورواړاوه:

ـــحميدالله!

ـــها!

ـــورشه زويه د ګراج "ګاراج" کيلي راوړه.

هلکي ورته "ښه" کړه، په تراټ له سترګو نيهام شو. چې بېرته راغی، يوه وړه کيلي يې هم په لاس کې وه. سړي کيلي له حميدالله څخه واخيسته. وې ويل:

ـــراځئ!

دوی بې له ځنډه پسې وخوځېدل. سړی د دېوال څنګ ته ښي لاس ته رهي شو. چې د دېوال پای ته ورسېدل، بيا کيڼ لاس ته تاو شو. دی هم ګني لاس ته ورپسې تاو شول، له دې سره يې څو ګامه وړاندې يوه لويه شنه دروازه تر سترګو شوه. دروازه کولپ وه، سړی په ورسره راايستلې کيلۍ کولپ خلاص کړ، دوی سره يوځای ګاراج ته ورننووت. هلته يې موسکۍ شونډې دوبته مخ واړاوه:

ـــدلته به له خيره سره اوسئ. ښنګه، خوښ مو دی؟

د سکينې پلار په احسان منه لهجه وويل:

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ــبښخي مو خوښ دی صېب! خدای دې جنت نصيب که.

او له دوی سره يوځای په شا خوا کتلو سر شو. ښايسته غټ ګاراج و. دېوالونه يې د سرای د دېوال غونډې سپين رنګ شوي وو. مازې دلته هلته يې د تورو تېلو غوړ خاپونه لرل، چې دومره بد نه مالومېدل. دې غټ وره ته مخامخ يې ابل سر ته يو بل ور هم لاره. دا ور دومره غټ نه و او د کور سرای ته ورخلاصېده. د هغه پر سر يوه وړوکې کړکۍ وه، چې د ورځې رڼا يې د ننه راپرېښوده. کانکرېټي مځکه يې هم لړه غوړيچنه مالومېده. خو نور ښه و. دوی لا هماغسې په شا و خوا کتلو اخته وو، چې سړي وويل:

ــزه اوس درځخه ځم، تاسې به ګاراج لږ له خوارو خځلو درته پاك کړئ، زياتي نو بېغمه په کې واړوئ.

بيا يې د سکينې مور ته کړه:

ــنن به تاسې ټول دمه ورته کوئ. حميدالله به څه خواړه هم درته راوړي، سبا به له خيره کار پيل کړئ.

او وروسته له هغه بې له دې چې د دوی ځواب ته ماتل شي، ګړندی له ګاراجه ووت. د هغه له وتلو سره دوی هم د ګاراج په پاکولو او د خپلو ګودړو په پکې سمولو لګيا شول .

نوي "کور" ته له راتلو سره د سکينې دوی ژوند خوشاله پيل شو. او اوس يې له نېکه مرغه بيا پر سر چت درلود. پس له ډېره وخته بيا په مړه ګېډه ډوډۍ وررسېده او تر ټولو غټه خبره يې دا چې اوس يې ان برېښنا لا لرله. دا هغه څه وو چې دوی په خپل ټول ژوند کې نه وو لرلي .

د همدې ورځې په سبا د سکينې مور د "غياثي صېب" دوی کره کار پيل کړ. دا د دوی د نوي کور د خاوند نوم و. هغه اصلاً فيض الله خان نومېده. خو دلته ټولو غياثي صېب باله. د هغه مېرمنې روح افزا ته هم هر چا د هغې د اصلي نامه پر ځای "مېرمن غياثي" ويل. دا شی دوی ته نوی و. په اولو سرو کې يې سر نه پرې خلاصېده. خو وروسته ورمالومه شوه، چې دلته په ښار کې د ا دستور دی، چې که د چا درناوی کوې، نو په اصلي نامه به يې نه بولې. همدا د غياثي مياثي صېب په نومونو به يې بولې. چې دوی خپله خدازده ولې ځان ته خوښ کړی دی .

غياثي صېب يوه لور او يو زوی درلود. مشره يې لور وه، چې اوس واده او د خپل مېړه کره اوسېده. زوی يې هم ځوان و، خو هغه اوس دلته نه اوسېده، ويل يې چې په کابل کې اوسي. هلته پوهنتون ته تللی او دا هلکوټی حميدالله؟ دا د دوی د ګومان پر خلاف د دوی ماشوم نه و. دی د مېرمن غياثي خوريی و، چې دغه ورځ د خپلې تورې کره په مېلمستيا راغلی و. غياثي صېب او مېرمن يې دواړه په دولتي ادارو کې کار کوه. سهار چې به ووتل، ماسپښين قضا مهال به بېرته کاله ته راتلل. يو وخت يې لکه چې ګوزاره تر دې هم ښه وه، ځکه موټر يې لا لاره. خو اوس يې موټر نه درلود. له همدې کبله يې خالي ګاراج دوی ته د استوګنې لپاره ورکړی و .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



غياثي صېب نېك او د نرم خوى خاوند و، هر وخت يې له دوى سره له خواخوږۍ او مهربانۍ ډك چلند كاوه. مېرمن يې هم نوره ښه وه. مازې يو څو شيان يې د سيكنې د مور دومره نه خوښېدل. لومړى يې د سر وېښته وو چې ان د دوى د كلي د ملا صېب تر څڼو لنډ وو. مدام به لوڅ سر ګرځېده. نه يې ټيكرى په سر كاوه، نه يې داسې جامې اغوستې چې بدن يې سم پرې پټ شي. هر وخت به يې سپينې پرېږې پونډۍ او متې برېوتې ترې راوتلې وې او بل يې دا په كور كې بشپړه ټولواكي وه. بس د هر شي واك و اختيار د دې په لاس كې و. په هر كار كې د دې خبره منل كېده. هېڅ شى د دې بې اجازې نه شو كېداى. ان غياثي صېب لا چون نه شو ورته وهلاى. د سكينې مور به هر وخت له ځان سره ويل: "دومره واك اختيار؟ هغه هم د ښځې په لاس كې؟..." دا شى به هم عجيب ورته ښكاره شو. هم چې به ښه ځان ته ځير شوه، نو خداى شته د زړه په تل كې به يې يو ډول رخه هم پرې وشوه. خو دې ټولو خبرو په دوى پورې اړه نه لرله. مهمه دا وه چې دوى زياتې په بټ بيابان كې نه ځملاستل. غياثي صېب دوى ته په خپل ګاراج كې د اوسېدو سرپناه او په خپل كور كې كار وركړى و. هماغه وو چې د سكينې مور به هم كار ته د غياثي دوى له تللو سره سم خپل كار پيل كړ او چې څو به دوى بېرته راتلل، دې به ټول كارونه خلاص كړي وو .

كوټې او سراى به يې جارو كړى و. د دوى ځايونه به يې بېرته جوړ كړي وو. خواړه به يې پاخه كړي وو او د بېګا شپې غوړ لوښي او خيرنې جامې به يې ورپرېولې وې، هغه هم په داسې اخلاص، چې د سړي زړه به هوس ورته وكړ او دا ټول د مېرمن غياثي د خوښې سوب ګرځېدل. هغه تر ډېره حده د دې له كاره راضي وه. له همدې امله يې په خلاص لاس ښه ورسره كول. هر وخت يې د خپلو خوړلو پاتې شوني وركول، چې دوى په مزه مزه ورته خوړل. د غياثي صېب زړې جامې يې وركړې وې، چې د دې مېړه يې واغوندې. دې او غلامي ته يې هم په كباړۍ كې بوټونه او څپلۍ اخيستې وې. څه موده پس خو يې ان د خپلې واده شوې لور زاړه كالي لا سكينې ته وركړل. سكينه په دې جامو كې نوره هم ښايسته مالومېده. هر تېر مازيګر چې به يې پلار كاله ته راغى او خپله نازولې لور به يې په دې ښارې جامو كې وليده، خوله به يې بې اختياره پرې وېره شوه. په يو ډول وياړلې موسكا به يې سر ترپايه سكينې ته وكتل، وبه يې ويل:

ــلور مې مكتبۍ ده، مكتبۍ...!

دې ستاينې به سكينې ته خوند وركړ. شرمندوكې به يې وخندل، په ښكلو غومبورو كې به يې سورخي وځغلېده. مور به يې هم مينه وړې و لور ته وروكتل، خو دستي به يې ورجوخته كړه:

ــدغه څه وايې سړيه؟ خداى دې يې خوى نه د مكتبيانو كيي... لور مې د انار دانه ده، د انار دانه.

او خداى شته تر ډېره حده يې رښتيا هم ويل. د غياثي صېب دوى د خوړو پاتې شونو په دوى ټولو كې وينه ځغلولې وه. پر سكينې خو يې اثر له واريه مالومېده. هغه كه پرون د ګل پيزۍ غوټۍ وه، اوس يې ورو ورو غوړېدل پيل كړي وو. د هرې ورځې په تېرېدو يې ښايست لا نوره ځلا او تازه ګي موندله او دا نوښت له سكينې څخه پټ نه و پاتې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوی. هر وخت چې به یې په هنداره کې ځان ته کتلي وو، خوند یې ترې اخیستی و. هرځل پر خپلې ښکلا خپله ویاړېدلې وه او په ناپایه نېکمرغیو کې لاهو شوې وه .

شپې ورځې همداسې په خوښۍ سره تېرېدې، ورځې په اوونیو، اوونۍ په میاشتو واوښتې. دا وو ورو ورو ژمی راپیلېده. د سکینې مور د پخوا په شان د غیاثي صېب دوی کره په کار اخته وه. سکینې به دا وخت هم پر خپل وړوکي ورور پام ساته، هم به یې د دوی خپل وړوکی کورګی سره سماوه. پلار یې هم هر سهار وختي د پلنډي توب پرې پر اوږه ښار ته خوځېده او اکثره به مازدیګر قضا مهال یا تیاره ماښام بېرته راستون شو. د ده د کار اوس دومره خونده نه وه، خو سره له دې یې د خپلې مېرمنې په مرسته دومره پیسې ګټلې وې، چې یو څه یې ترې سپمولې لا وې. دې کار پر دوی ټولو د خوښۍ او نېکمرغۍ زېري کول. د هرې روپۍ سپمېدلو په دوی کې پر راتلونکي باندې ډاډ او امیدونه زېږول. د سکینې پلار خو به یې بیا په داسې خوږو چورتونو کې ډوب کړ، چې یو مخ به یې د ورځې ټولې خوارۍ او ستړیاوې ترې هېرې کړې. اکثره به ځانته دغسې ګوښي ناست، د خپلو خوندورو خیالونو په نړۍ ورکښېوت. له دې سره به یې ورو ورو نرۍ موسکا پر شونډو وغوړېده. لوېدلې سترګې به یې په یو نامالوم ټکي کې ښخې شوې. په خیال کې به کلي ته تللی و. د پټي پلورلې برخه به یې بېرته پېرلې وه. نه به قحطي وه، نه وچکالي. کلی به یې بېرته د ونو او کروندو شین کوړم و او دوی ټولو به بېرته په خپل کور او کلي کې هماغسې خوشاله او له نېکمرغه ژوند ورته کاوه.

هغه به ښایسته ډېر ګړی په دې خوږو خوبونو کې ډوب تېر کړ، چې ښه خوند به یې ترې واخیست. له خوښیه ځلنده سترګې به یې دوی ته ورواړولې، له یو عالم هیلو په ډکه لهجه به یې وویل:

ــ بس، که خدای کول هرڅه به سم شي... چې مازې دا وچکالي خدای پرته کي، بېرته به له خیره کلي ته ځو.

او دا خبره پر دوی ټولو خوندوره لګېده، دوی به هم دلته په "خپله کوټه" کې ناست په خیال کې بېرته کلي ته ستانه شول.

یوازې سکینه د زړه له کومې دې کار ته دومره نه وه خوشاله. د هغې اوس ورو ورو ښاري ژوند تر کلیوالي ژوند ښه اېسېده. سره له دې چې ښاري ژوند یې دومره نه پېژانده، خو هغه یې بیا هم تر کلیوالي ژوند ارام، په زړه پورې او اسوده باله.

د لومړنۍ واورې له اورېدو سره دوې پېښې وشوې: له یوې خوا د سکینې مور ناروغه شوه، له بلې خوا د غیاثي صېب لور له خپل مېړه سره او بیا یې زوی نصرالله غیاثي له کابله په رخصتیو کور ته راغلی. دې پېښې د سکینې د مور کار لا پسې ډېر کړ. هغې لا یو دوې ورځې پر خپلې ناروغۍ سربېره کار ته اوږه ورکړه، خو اخر یې خبره له وسې ووته، سره تبه په ځای کې ورته ولوېده. په دې ډول نو دا ټول بار د سکینې پر اوږو بار شو .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



سکينې هم په کلکه لستوڼي کار ته رابډ وهل. سهار وختي چې به راويښه شوه، لومړی به يې دلته د خپلې مور او کور پالنه وکړه، بيا به د غياثي صاحب کره ورغله، په نه ستړيا به يې تر مازيګره کار ته دوام ورکړ. له ښه مرغه د غياثي صېب لور مرضيه نېکه ښځه وخته. هر وخت به يې په کار کې لاس ورسره کاوه او په هر کار چې به سکينه نه پوهېده، خپله لارښوونه يې نه ترې سپموله. خو د غياثي لور او مېرمن يې ډېره موده پاتې نه شول. ځو ورځې وروسته بېرته خپل ښار او کور ته ستانه شول. په دې ډول که له يوې خوا د سکينې کار بېرته لږ کم شو، نو له بلې خوا يو دوه د نارامتيا خبرو ته هم يوازې پاتې شوه. لومړی يې د مور ناروغي وه، چې هېڅ کمښت نه په کې راته، ورځ په ورځ پسې اوږدېده او دويم يې د غياثي صېب له زوی نصرالله سره په کور کې يوازې پاتې کېدل وو، چې د مور له ناروغۍ څخه يې هم په ډېره اندېښنه کې اچوله. د دې ښايستوکي ځوان هر وخت په يو نه يو ډول له دې سره د خبرو پلمه لټولو هر وخت له دې سره د ټوکو او د دې د خندولو هڅه کول او مدام هوسناکه موسکا پر شونډو له غوښتنو په ډکو سترګو دې ته ورکتل، داسې څه نه وو چې د دې له پامه لوېدلي وای. د سکينې له هاغه لومړۍ ورځې لا ورپام شوي وو، چې نصرالله غياثي په بل نظر ورګوري، خو تر څو د هغه خور او اوښی په کور کې ورسره وو، دومره ری يې نه و په کې وهلی. چې رښتيا خبره شي، د زړه په تل کې يې يو ډول خوند لا ترې اخيستی و. د داسې چټ ځوان چې هم يې ښکلې ځواني درلوده، هو د ښې کورنۍ او لوړو زده کړو خاوند و، په دومره تمه او مينه ورکتلو مالومداره د وياړ او خوښۍ خوندور احساس ورکې زېږاوه. خو اوس چې هغوی تللي وواو سکينه د غياثي صېب دوی تر راتلو پورې په کور کې يوازې ورسره پاتې کېده، اوس د ا د دې په زړه کې راټوکېدلی خوندور احساس له يو ډول وېرې سره مل و.

هر ځل چې به يې د هغه هڅې وليدې، بې اختياره به يې زړه ته ورتېره شوه:

..."که يو وار لاس درواچوي؟... که يو وار په زوره بدنامي درواړوي؟..." او دې فکر به يې هډونه ور ورېږدول. ځکه خو يې په کلکه همدا هڅه کوله چې سړي ته ډېره مخه ورنه کړي. هر وخت به يې په يو نه يو ډول ځان ترې تېراوه. مدام به يې په ګواښنه لهجه ځان ته ويل: "... نجلۍ! هوښياره اوسه!... پام چې لاس له پښو خطا نه کې، پام چې ډېره لار سړي ته ورنه کې.. دا خام فکرونه دې له سره وباسه. چېرې ته غريبه نجلۍ او چېرې دا د مړې کورنۍ زوی"...

خو نصرالله غياثي هم په هګۍ کې چونېدلی مرغه و، هغه په خپل کار ښه پوهېده. هېڅکله يې بېځايه ټوپونه نه وهل. هغه پوهېده چې په دې ډول به د کلي دا سارايي هوسۍ خوشې له ځانه وتورٍوي. نه، هغه په ډېر پام ورو ورو او پټه په ټپه وړاندې ته. د هرې ورځې په تېرېدو يې د سکينې ډار او شك ورکې لړاوه. د هرې ورځې په تېرېدو يې نوې تندې او تلوسې ورکې زېږولې. د هرې ورځې په تېرېدو يې د هغې زړه ته نور او نوره لار ايستله او چې خپله ورځ يې راغلې وليده، بيا يې هم سکينې ته نه لاس ورواچاوه، نه يې د کومې بدنامۍ د وراړولو هڅه وکړه. بلکې په ډېره حق په جانبه څېره مخامخ ورته ودرېد، له احساسه په ډکه لهجه يې د خپلې مينې اظهار ورته وکړ. د هغې مينې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې له هماغه لومړۍ ورځې یې د ده په زړه کې ځاله کړې وه او تر دا اوسه یې خوب او ارام ترې وړی و. دې خبرې سکینه هك حیرانه کړه. له ورایه یې د خپلو لینګیو ورته رېږدېدل حس کړل. له دې سر دومره تودوخې ورکې وځغستل، چې تك سره غومبوري یې بې اختیاره ابلې کوټې ته منډه که، له اوبو ډك منګوټی یې پر سر واړاوه. لکه ورکې بل شوی اور چې پرې وژني، خو دا اور نو لکه چې نور د وژلو نه و .

خدازده څو شپې همداسې تېرې شوې چې نصرالله هم ابلې کوټې ته پسې ورغی. د هغه په لیدو د سکینې د زړه درزا لا پیاوړې شوه. ساه یې ورته بنده بنده کېده. تلولۍ یې لاړې تېرې کړې، مخ یې بلې خوا ته ترې واړاوه. نصرالله د وره په درشل کې ودرېد. لنډه شېبه یې سر تر پایه پړکېدونکی سکینې ته وکتل. بیا وروړاندې شوه، هغې ته د ورنیږدې کېدو هڅه یې وکړه، خو چې دې ورته "نه" کړه، ده هم له خپله کار لاس واخیست. دغسې ځوړند سر بېرته له کوټې ووت او په ناپایه فکرنو او چورتونو کې ډوبه سکینه یې یوازې پرېښوده. بیا نو دوی دغه ورځ له یو بل سره د مخامخېدو جرئت ونه کړ. دا بله ورځ هم همداسې تېره شوه، بې له دې چې له یو بل سره مخامخ شي، بې له دې چې له یو بل سره یو ټکی وږغېږي، خو د درېیمې ورځې په سهار د نصرالله نور طاقت ونه شو. له سکینې سره له یوازې کېدو سره سم یې هغې ته بیا د خپلې مینې بیان پیل کړ. سکینې چې هرڅه د هغه د قانع کولو هڅه وکړه، چې هرڅه یې ورته وویل چې د دې کار پایله دېته ښه نه ښکاري، چېرې دا د غریب سړي لور او چېرې دی. فایده یې ونه کړه، نصرالله خان په کلکه همدغه د خپلې مینې د صداقت خبرې ورته کولې او پر له پسې یې د وفادارۍ ټېر ورته واهه. او چې په پای کې یې دا هم ورته وویل چې له دې سره د واده کولو او کور جوړلو هوډ لري او ژر به خپله مور د دې مرکې ته ورولېږي، زیاتي نو سکینې ته نه د هغه د مینې په صداقت کې شك پاتې شو، نه د هغه د ورنیږدې کېدو په وړاندې مقاومت. نصرالله هم نور ونه ځنډېد، ور وړاندې شو. په داسې تنده یې شونډې شونډو ته وروړې، چې له سکینې څخه یې نور هرڅه هېر کړل. دغسې بېواکه، بې اختیاره یې په غښتلې غېږ کې وغوړېده...

دوې اوونۍ په ډېره خوښۍ تېرې شوې. دا د سکینې د تنکي ژوند تر ټولو خوږې اوونۍ وې، تر ټولو نېکمرغې شپې ورځې، په دې دوو اوونیو کې څه خواږه خوبونه نه وو چې سکینې ونه لیدل. څه خوږې شېبې نه وې چې سکینې ونه لرلې. دومره خوږې، دومره له نېکمرغیو ډکې چې سکینې یې اصلاً ګومان هم نه شو کولای. هغې ته اوس د ژوند هرڅه خواږه او په زړه پورې وو. ټوله نړۍ ورته ښکلې او له نېکمرغیو ډکه وه. هغې ته اوس نه د غیاثي صبب دوی کور پردی کور و، نه په هغه کې کار د پردي کور مزدوري. دا کور یې اوس د تاندې مینې ځاله وه. په نیږدې راتلونکي کې یې خپل کېدونکی و او دې فکر ناپایه هیلې او خوښۍ په کې زېږولې. په همدې خوږو فکرونو کې درېیمه اوونۍ هم راماته شوه. او د همدې اوونۍ د پیل یو ماښام و چې غیاثي صبب دی یې پلار ځان ته وروغوښت. د سکینې پلار لږ حیران غوندې شو. سره له دې یې په بېړه بوټونه په پښو کړل، له کوټې ووت. د هغه له وتو سره د سکینې زړه هم په تاو درزا پیل کړه. بې اختیاره یې زړه ته ورتېره شوه: "... زما پلار ځانته ورغواړي؟ هلته د دوی کره؟، ولې؟... زما د مرکې لپاره؟..." او یوه تر ټولو خوږه موسکا یې پر شونډو وغوړېده.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو چې ښه ډېر ګړی وروسته یې پلار ناارامه او خواشینی بېرته راغی، نو د مور غونديې یې دا هم ورته حیرانه شوه، د سکینې د مور ډېر طاقت ونه شو. د وره په خوله کې یې مېره وپوښت:

_څه یې ویل؟

هغه په داسې حال کې چې بوټونه کښېل، وویل:

_هېڅ.

او دغسې سوړ پوړ د کوټې په ګوټ کې کښېناست. خو د سکینې مور لا نور څه نه وو ویلي، چې پسې زیاته یې کړه:

_ویلی یې سبا سهار باید ګاراج خالي کړو.

دې خبرې ټولو ته ټکان ورکړ. مور یې بې اختیاره وویل:

_ګاراج خالي کړو؟... ولې؟

_زه څه خبر یم؟

_څنګه څه خبر یې؟... نو تا ورته ونه ویل چې اخر ولې؟

دې اعتراض یې مېړه لا بې حوصلې کړ، هماغسې ناارامه یې ورغبرګه کړه:

_ولې مې ورته ونه ویل.. څو واره مې ورته وویل، خو پر ښځې یې تاثیر نه کاوه.

او بیا لکه له ځان سره چې بړغېږي، په لږ ټیټ ږغ وړاندې پسې لاړ:

_ښځه ډېره په قار وه.. غیاثي صېب او زوی ته یې هېڅ د خبرو مجال نه ورکاوه.. درګرده یې همدا ویل چې ګنورو خبرو ته حاجت نه شته. سبا به سهار وختي ګراج خالي کوئ او بس.

د سکینې مور پرېشانه څو شېبې خپلې لور او مېړه ته وکتل، سترګې یې راډکې شوې، ژړغونې وچونګېده:

_نو اوس به په دې ساړه ژمي کې چېرې ځو؟

مېړه یې ځواب ورنه کړ، هماغسې سرګردانه یې یو غټ اسوېلی وکیښ. ځوړند سر پر خپل ځای ناست پاتې شو. خو د سکینې له سترګو د اوښکو څو غټ څاڅکي راوڅڅېدل. هغې په خپلو سترګو د خپلو هیلو د مانۍ ورانېدل ولیدل .

دغه شپه پر دوی ټولو زښته ترخه تېره شوه. پر سکینې خو ددې اور لمبه تر ټولو پیاوړې وه. تر سهار دغسې رډې سترګې په ځای کې پرته وه. ناارامه پرله پسې اړخ په اړخ کېده، هر څو شېبې پسې یې د اوښکو لیکې پرمخ او بالښت رابهېدې، چې له زړه دردوونکو سلګیو سره یې ملې وې .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دا بل وختي سهار دوی بیا د خپلو جمبرو په سره ټولولو لګیا شول. سکینه په دې ترخ کې خو ځله په دغه او هغه پلمه سرای ته ورووته، که ګوندې نصرالله په کې ووینې، خو د هغه په لیدو بریالۍ نه شوه. دې کار یې هر وار یو ځل بیا زړه ورمات کړ. نصرالله دا و په دې تریخ ساعت کې د اوبو څاڅکی و، چې په مځکه ننوتلی و او دا هغه څه وو چې دې یې په هېڅ ډول تمه نه کوله.

اخر کډه سره وتړل شوه. هر چا د خپل وس په اندازه پېټي پر شا کړهل، ټول په ګډه له ګاراجه ووتل. د سکینې پلار د ګاراج ور کولپ کړ. له دوی څخه یې وغوښتل چې همدلته ورته ودرېږي او خپله غیاثي صېب دوی ته د ګاراج کیلۍ د ورکولو په نیت وخوځېد، چې بېرته راغلی خپل دلته پرې ایښی پېټی یې په شا کړ او د دوی مخکې رهي شو. دوی هم مات زړه ټول پسې وخوځېدل. دا و بیا بې سرپناه شوی و. دا و یوځل بیا ټول کډه په شا په خپل تقدیر پسې رهي وو او دا کار دوی ټولو ته ډېر زړه دردوونکی و. دومره زړه دردوونکی چې ښایسته ډېر ګړي یې له دوی ټولو څخه د څه ویلو شیمه اخیستې وه. دغسې چوپه خوله او خواشیني وړاندې تلل. هرڅوك په خپلو- خپلو اندېښنو کې ډوب. د سکینې پلار مخکې له خپلې ښځې سره او سکینه او ورور یې غلامی ځلور پنځه ګامه وروسته ورپسې روان وو. څو کوڅې او واټونه یې شاته کړل، اخر یې مور دا ځوروونکې چوپتیا ماته کړه، شکمن یې مېړه وپوښت:

ـنو ته وایې چې ستا نانوای انډیوال به مو څه غم وخوري؟

د سکینې پلار هماغسې په تلو تلو کې ورلنډه کړه:

ـتوکل پر خدای... ډېره ښه سړی دی .

خو د سکینې مور په دې ځواب نه شوه قانع. بیا یې وپوښتل:

ـته وایې چې سرپناه به را کړي؟

ـنه پوهېږم .

ـنو بیا څنګه هغه ته ورځې؟

او چې د سکینې پلار خلق تنګه وویل:

ـنو چا ته ورشم. ها؟

ښځې یې هم نوره خبره ورسره ونه شنله، دغسې چوپه خوله یې خپل تګ ته دوام ورکړ. دوی ښایسته ډېر ساعت مزل وکړ. اخر د سکینې پلار په یوه کوڅه کې د یوې نانوایۍ مخې ته ودرېد. ږیرور نانوای د ده په لیدو ورته وموسل:

ـخیر خو دی، څنګه داسې له ټولې کډې سره رامالوم شوې؟

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د سکینې پلار په خواشینۍ کیسه ورته پیل کړه. نانوای په پام غوږ ورته نیولی و، چې هرڅومره دی وړاندې ته، هغومره دی هم په اندېښنو کې ډوبېده او چې خلاص شو، د نانوای پر تندي ښایسته ډېرې ګونځې جوړې وې. هغه څو شېبې اندېښمن دوی ته وکتل، وروسته له هغه یې له مهربانۍ په ډکه لهجه د سکینې پلار ته وویل:

_دا خو دومره ښه کار نه دی شوی، خو ته چورته مه خرابوه. خدای به ټول کارونه سم کړي.

او له لږ چورت وهلو وروسته یې پسې زیاته کړه:

_څه توکل پر خدای، دغه اوس دستي خو به زما د اوړو په تحویلخانه کې ورته واړوئ... وروسته به بیا ګورو له خیره. که خدای کول د کوم سم ځای سرشته به هم وشي .

دې خبرې یې په ټولو کې ساه وچلوله. د سکینې پلار بې اختیاره هغه ته دعا وکړه، بیا یې په ویاړ ښځې ته وروکتل. د هغې پر شونډو هم نرۍ موسکا غوړېدلې وه. نانوای پاڅېده دخل او دکان یې خپل شاګرد ته پرېښود، دوی ته یې وویل:     _راځئ!

دوی هم بې ځنډه وخوځېدل، دومره لار لا نه وو تللي، چې نانوای د یوه ترږلي وره خولې ته ودرېد. دوی هم ورپسې ودرېدل، نانوای د خپل واسکټ له بل جېبه یو ووړ بنډل کیلۍ راوویستې، په یوه کیلۍ یې د وره کولپ خلاص کړ، په داسې حال کې چې دننه ورننووت، وې ویل:

_راځئ دننه.

دوی هم پسې ننوتل او له دې سره یې سترګې په یوه غټ زېرمتون ولګېدې، چې دا لومړۍ کوټه یې زیچه د اوړو له جوالونو ډکه وه. خو له ښه مرغه یوه داسې کوټه هم په کې شته وه، چې تر نیمایي لا زیاته تشه وه. نانوای په همدې کوټه کې ودرېد، د سکینې پلار ته یې مخ ورواړاوه:

_اوس به دلته له خیره ورته واړوئ. ځای لږ تنګ دی، خو چې زړونه تنګ نه وي، د ځای تنګي دومره پروا نه لري، بیا به که خدای کول، د ښه سم ځای چاره هم وکړو .

دا ځل د سکینې مور و پلار دواړو هغه ته دعا وکړه او په دواړو یې ورته وویل چې بس همدا ځای بېخي سم دی. نانوای یوځل بیا د کوم سم ځای د ورته لټولو خبره تکرار کړه او په دې پسې بېرته خپلې نانوایۍ ته ستون شو .

دوی هم د خپلو غوټو په سره سپړلو لګیا شول .

سکینې دوی دلته ډېره موده پاتې نه شول. د پلار نانوای انډیوال یې، چې حاجي محمد نومېده او سکینې او غلامي حاجي کاکا باله، رښتیا هم ډېر ژر په خپلو هڅو کې بریالی شو. د خپلو مشتریانو په ذریعه یې د ښار په ابل سر کې داسې څوك وموند چې د کور مزدوره یې په کار وه. په بدل کې یې نه یوازې څه پیسې، بلکې د خپل سرای په یوه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګوښه ګوټ کې یې ان دوې کوټې لا د اوسېدو لپاره ورکولې، سکینې دوی هم ډېر ونه ځنډېدل، د دغې ورځې په سبا یې له حاجي محمد سره خدای پاماني وکړه، د ښار ابل سر ته وخوځېدل. په دې ډول تر دوو اونیو په لږه موده کې د سرپناه له جنجال څخه خلاص شول .

خو کاشکې د دوی یوازې همدا غم وای. له یوې خوا د سکینې مور لا سمه نه وه روغه، په زحمت د نوي کور د کاله له اودې وته، له بلې خوا د سکینې خپل غمونه وو، چې د مني د پاڼو غوندې یې رژوله. اوس دې د خپل ژوند هرڅه وران او برباد لیدل. هغه له نصرالله غیاثي سره د واده او نېکمرغه ژوند خوب دا و، په داسې دردونکي ځوروونکي ترخه واقعیت بدل شوی و، چې دا یې شپه او ورځ په کراره نه پرېښوده. هر وخت یې د غم په سره اور سوځوله او ژړوله او پر دې ټولو سربېره یې لا دا هم چې دغه میاشت سکینې ته بې لمازې هم ورنغله. سکینې په اول سر کې دومره اندېښنه ورته ونه کړه، ځان یې په دې قانع کړ، چې ښایي د بې لمازۍ وخت یې سره تېر و بېر شوی وي. کېدای شي وروسته ورشي، خو چې داسې ونه شول او دویمه میاشت یې هم بې لمازي ورنغله، نو نجلۍ وارخطا شوه. په تېره بیا چې اوس یې ګزړه هم ورته بد بد کېده او وخت ناوخته کانګې هم ورتلې. دې نوي بدلون یې نو هډونه له ځاره ورېږدول. دې ته یې مور ډېره موده مخکې لا ویلي وو چې ښځو ته ولې او په کوم حالت کې دا کار ورپېښېدای شي او دې فکر چې ښایي امیندواره شوې وي، په داسې وحشت کې اچوله، چې له زوره به یې یو مخ د ژوند هرڅه او دا ټوله نړۍ سترګو ته تپه تیاره شوه. سره له دې یې چا ته څه نه ویل. دغسې ګوښې ځانته سوځېده او خدای خدای یې کول، چې دا ټول ګومانونه یې غلط وخېژي. خو چې درېیمه میاشت یې هم د بې لمازۍ درك ونه شو، زیاتي نو خبره د دې له وسه ووته .

نور نو دا خبره د پټولو نه وه، باید دا دردوونکی راز یې له خپلې مور سره شریك کړی وای. هماغه و چې یو مازیګر یې خپل ټول جرئت سره راټول کړ، په ژړا ژړا یې ټوله کیسه مور ته وکړه. د سکینې مور ګنس او سربداله غوندې د خپلې لور خبرو ته غوږ نیولی و. چې خلاصه شوه، تندی یې کړس په څپېړه وواهه، وې ویل:

ــځوانیمرګه شې لورې! دا دې څه بدنامي راواړوله.

او له دې سره پړنګ په ژړا شوه. د سکینې ګومان نه غلط. سکینه رښتیا هم امېندواره شوې وه .

له دغې ورځې وروسته مور او لور په دواړو د چارې فکرونه پیل کړل. خو څه چاره؟ دلته دوی داسې څوك نه پېژندل، چې مرسته ترې وغواړي او هغه کسان چې یې پېژندل، هغوی ته به یې څنګه او په کوم مخ ویلي وای، چې پېغله لور مې امېندواره ده، اوس یې نو ته له دې بدنامۍ څخه د خلاصي لار و چار راښیه. د سکینې مور ښه ډېر د خپل فکر نیلی دېخوا دې خوا وځغلاوه. خو هېڅ یې له خپله کاره ترلاسه نه کړل. پر هغې چې نوره لاره ورکه شو، یوه ورځ په پټه د غیاثي صبب دوی کره ورغله، هلته یې دوی خپلې لور ته د دی د زوی په وراړولې بدنامۍ خبر کړل. په ژړا او زاریو یې ترې وغوښتل چې زوی یې یاله لور سره واده وکړي، یا یې څه بل غم وخوري. خو هغوی داسې سپکه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



سپانده له کوره راوشړله، چې بیا یې د هغوی خوا ته د مخ ورښکاره کولو زړه ونه کړ. ځکه یې بېرته یوازې مات زړه او نهیلې خپلې لور ته د دې ورپېښې بدمرغۍ د چارې کولو هڅې روانې وساتلې، خو بې ګټې. څو میاشتې تېرې شوې، بې له دې چې دوی د خلاصون کومه لاره موندلې وي، اوس نو د سکینې نس ورو ورو په غټېدو و. زیاتې یې نو دا دردوونکی راز د سکینې له پلاره نه شو پټولای. نه دوی ته له دې کاره پرته بله لار نه وه ورپاتې. هماغه وو چې یو مازیګر یې د سکینې پلار هم په کیسه خبر کړ. دا خبر نه و، تیاره اسماني کاڼی و، چې د سکینې د پلار پر سر راولوېد. داسې ټکان یې سرې ته ورکړ، چې یومخ یې ټول بدن په پرکېدو شو. له قاره ټك سور مخ یې مخامخ پر لور ورودانګل، په خپل ټول ځواك یې د جوالي توب پرې د هغې ډډو ته تمبه کړ .

بیا نو له هغې ورځې تر دا اوسه د سکینې همدا حال و. هرڅومره وخت چېرې تېرېده، هغومره یې د پلار وارخطایي او وېره ډېرېده. هرڅومره چې یې د لور نس راغټېده، هغومره یې پلار قار، وحشت او لاچارۍ زور پسې اخیست او چې هرڅل به پر سرې نوره لار ورکه شوه، نو پر لور به یې راواچول، دومره به یې وډبوله، چې دی به هم له لاس و پښو پرې ولوېد...

د سکینې مور چې د خپلو چورتونو دې ځای ته راورسېده، سوړ اسوېلی یې وکیښ، خواشینې یې په کوټه کې سترګې وغړولې. له دې سره یې لور ته ورپام شو، چې تر اوسه لا دغسې غونجه منجه په خپل ګوټ کې ناسته وه. د هغې په داسې لیدو یې زړه له درده څړیکه وکړه، سترګې یې راډکې شوې، وروړاندې شوه، لور یې پر تندي مچ کړه، په خواخوږۍ یې ورته وویل:

ــځه لورې، ځه خپلې کوټې ته لاړه شه، یو ساعت په کې وغځېږه.

سکینې یوه زړه دردوونکې موسکا وکړه، پاڅېده بې له دې چې مور ته څه ووایي، چوپه خوله آبلې کوټې ته لاړه. دغه شپه نو بیا سکینه له خپلې کوټې راونه وته. ان د ماښام ډوډۍ یې لا مور هغې کوټې ته وروړه .

په دا بل سهار چې یې مور د راویښولو په نیت کوټې ته ورغله، کوټې ته له ورننوتلو سره سم یې یوه له وحشته ډکه کریغه له خولې ووته. د سیکنې پلار د کریغې په اورسېدو بې اختیاره ټوپ کړل. په منډه د سکینې کوټې ته ورغی او هلته یې د خپلې لور په لیدو خوله وازه پاتې شوه، لینګې یې هم په تاو، په رېږدېدو شول .

سکینې د ده د جوالي توب په پړي ځان زیندۍ کړی و. تك شین مخ، لړه راوتلې ژبه یې غټې سترګې یې همداسې خلاصې پاتې وې. لکه ده ته چې ورګوري او ښځې یې درګرده همدا ساندې ورباندې وهلې:

... ــوه زما ځوانیمرګې لورې!!... وه زما نامرادې لورې....!

14/8/1357ل کال

کابل- افغانستان

Download from: ketabton.com

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**